

د خوشحال فرهنګي ټولنه

# د غازي عجب خان اپريدي ياد

Download from:aghalibrary.cm

۱۳۷۰

الوُر

دخوشحال د فرهنګي ټولنې دخپرونو

پرله پسې نومره : ۲

# دغازي عجب خان اپريدی يـاد

(دملي قهرمـان غازي عجب خان اپريدي د کارنامو
دنمانځنې دغونډې دوېناوو، علمي مقالو او مشاعرې
مجموعه)

خپرووونکی

**دخوشحال فرهنګي ټولنه**

Download from:aghalibrary.cm

۱۳۷۰ هـ ش

د کتاب نوم : د غازی عجب‌خان اپریدی یاد

د چاپ ځای : د ښوونې او روزنې مطبعه

د چاپ شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه

د چاپ کال : ۱۹۹۱ع

د چاپ مهتمم: لعل پاچا ازمون

# فهرست


| عنوان | مخ |
|---|---|
| دخوشحال دفرهنګي ټولنې د رئيس وينا | ۱ |
| دپښتنو آزادو قبايلو او قومونو پيغام | ۸ |
| دنيک محمد غازي زوی وينا | ۱۱ |
| دغازي عجب خان اپريدي لنډ ژوند ليک | ۵۱ |
| دتاريخ ديوه ستوري، خواريور نځولي او . . . | |
| اولس په باب يو څو لنډی خبری | ۳۳ |
| غازي عجب خان افريدي دپښتنې ټولنې دقوانينو نمايندهځيره | ٤۲ |
| عجب خان حيرانوونکي سرکښي | ٤۷ |
| عجب خان اپريدي دپښتوليکنوپه هنداره کی | ٦۵ |
| تيراه دغازي عجب خان اپريدي نيکنی وطن | ۷۸ |
| دتيرا جګړی | ۹۵ |
| په پښتو ولسي سندروکی دتيرالاموند | ۱۰۵ |
| دخيبر دسيمې ادبي جريان | ۱۲۳ |
| فرهنګيالی شاعر او ليکوال قاسم علي اپريدي | ۱۳٤ |
| مشاعره | ۱٦۳ |

# دغازي عجب خان اپريدي ديادوني په غونډه کي
# دخوشحال دفرهنګي ټولني درئيس وينا

درنوږوهانو، مخورو ميلمنو:

دخوشحال فرهنګي ټولني دهيوا ددفرهنګي اوملي شخصيتونو دلازياتو پيژندلو په لړ کي نن ديوه ننګيالي اوتوريالي شخصيت غازي عجب خان اپريدي په ياديوه شانداره غونډه جوړه کړي ده. دغازي عجب خان دنامه په اوريدوسره ترهرڅه ړمخکي هغه غيرتي څيره دسړي ستر ګوته دريږي چي دخپلي کورني دحيثيت داعاده کولودپاره يې له پيرنګيانو نه انتقام واخيست، خوڅيني خلک لا تراوسه د دې کيسې نه خبرنه دي چي غازي عجب خان دافغانستان ددريم جنګ په موقع دخپلوا کۍ دګټلو په لاره کي يو مهم لاره ښوونکي نقش دراو د اودده کوششونو په نتيجه کي افغانانو لښکرو په ټل باندي کاميا به حمله وکړه. په دې اساس، توريالي عجب خان هم په ځانګړي توګه دخپل باتورورورشهزاده خان اوملګرو په مرسته له انګريزانو سره دغ ري

وهلې دی او هم یې دخپلواکۍ په جګړه کې ستره ونډه اخیستې ده :
همدارنګه غازي عجب خان اپریدی د امیرامان الله خان له سقوط
وروسته دهغه دمخالفانو په مقابل کې جنګیدلی دی .

په دې کې شک نشته چې انګریزي مطبوعاتو عجب خان اوده
ملګرې داشرارو په نامه یادول ، خوداکومه نوې خبره نه ده . اشغالګر
دولتونه هر وخت ملي مجاهد ینو ته داشرارونوم ورکوي او داسې
ګڼي چې ګویا اشغال شوی مملکت ددوی دپلار نیکه تاتوبی
دی . کوم وخت چې اشغالګر دولتونه دکوم هیوادخاوره ونیسي نو
ددوی په نظر دمشکو کواشخاصو کورونه تلاشي کوي . دغازي عجب
خان کیسه چې دپیغلې الیس دتښتو او موجب ګرځي ، له همدغې پیښې
سره اړه لري . دغه کیسه په پښتو ، اردو ، اوانګریزي ژبو لیکل شوې
ده او په اردواو پښتوژبه فلمونه هم تری جوړشوي دي . تاکل شوې
ده چې په ننني غونډه کې به ددې کیسې په هکله ځینې مطالب بیان
شي . زه غواړم د غه کیسه دانګریزي استعمار پرضد د افغانستان او
پښتونخوا دمبارزینو دیوه کلي تصویر په چوکاټ کې وڅیړم .

دانګریزي استعمار په وړاندې دلرواو بروافغانانو مبارزې په څو
مختلفو بڼو راڅرګندې شوې . لومړی باید دایادونه وشي چې دامیر
عبدالرحمن او امیرحبیب الله په زمانه کې افغانانو دا احساس نه کاوه
چې ددوی هیوادخپلواك نه دی ځکه چې انګریزان په فزیکي لحاظ
په افغانستان کې حاضر نه وو . که دافغانستان امیرانو دخارجي استقلال

په برخه کې له انګریزانو سره کوم تړون درلود نوله یوشمیر محمد ودو کسانو پرته عام خلك په دې خبره نه پوهیدل. همداعات دې کله چې د تل اووانهي له نيول کیدووروسته جنرال محمد نادرخان خلکوته وویل چې جګړه بس ده، انګریزانوزموږ استقلال ومانه . عام خلك اریان شول چې آیاربښتیاموږاستقلال نه درلود؟ هغوی فکر کاوه چې پاچادانګریزانو په ضد جهادکوي اوغوا ړي چې دوی له هندوستان نه وشړي ، ما دیوه سپین ږیری خوستی له خولي واوریدل چې خلکو دجنرال نا درخان په خبره باورنه کاوه اوویل یې چې موږغزاته دوام ورکوو. دوی دجنرال حکم ته غاړه نه ایښوده هغه وچې جنرال محمد نادرخان له نظامی پوځ سره په شپه کې بیرته راوګرځیده او په اصطلاح عقب نشيني يې وکړه، څرنګه چې لښکرمشرنه درلودنور خلك هم مجبورشول چې دجګړې نه لاس واخلي.دغې یادونې مقصد دا دی چې افغا نستان هیڅکله د مستعمرې په توګه نه دی پاتی شوی او افغانګروخواکونوته یې غاړه نه ده ایښې .

د۱۹۱۹ کال دخپلواکۍ جګړې نه یوازې دافغانستا ن بهرنۍ خپلواکي بشپړه کړه، بلکې دنړۍ خپلواکي غوښتونکو دپاره یوغوره مثال وګرځید. د افغانستان خپلواکۍ دهغه دشمالي ګاونډی په ګټه هم تمامه شوه . لومړی داچې شوروی روسیه یې دتجریدله حالت نه راوایستله. افغانستان لومړنی دولت وچې دګډوند سیاست یې عملي کړاوله شوروی روسیې سره یې دپلوماتیك اړیکې ټینګ کړل. دوهم

داچې شوروي روسیه یې دبریتانیې له ګوزارو نوځخه وژغورله او له افغانستان څخه دماتې خوړلو نه وروسته برتانیې په ارخانګل کې خپلې قواوې له شوروي خاورې څخه وایستلې. همدارنګه شورویانو دافغانستان له لارې داویوځواکونو دیرغل په وړاندې مصوونیت احساس کړاوپه دې وپوهیدل چې دزمریانوله وطن څخه څوك هغې خواته نشي ورتیریدلی. داخبرې بالکل بیځایه دې چې افغانانو دې دآزادۍ درس له چانه زده کړی وي، او یادې هغوی دبل چاپه زور خپلواکي ترلاسه کړې وي .

دلرې پښتونخوا آزادۍ هم دیوې پتې معاملې قرباني شوه. کله چې لرپښتانه (یعنې داوسنۍ صوبه سرحداوبلوچستان خلك) دیورندله تحمیلې کرښې نه خبرشول، نو هغو هم دآزادۍ غوښتلو غورځنګ پیل کړ. په عمومي ډول دآزادۍ غوښتنې تحریك په درو شکلونو کې څرګند شو: اول دیوه نومیالي روحاني یاقومي شخصیت ترمشرتابه لاندې جهاد، دوهم دسیاسي ګوندونو له لارې مبارزه، دریم دځانګړو اشخاصو یاوړو ډلو ددهشت غورځوونکو عملیاتو له لارې .

دلته ددې ټکي یادونه ضروري بریښي چې دتاریخ په اکثرو کتابونو کې دروحاني شخصیتونو او سیاسي مشرانو دخدمتونو په باب مفصلې لیکنې شوې دي، خو دمنفر دوغازیانو او یادوړو ډلو په باب څه نه دي لیکل شوي او یا ډیر لږ لیکل شوي دي. پرڅه موده مخکې دتاریخ پ اکثرو متونو کې دبایزید روښان اوخوشحال خان ختیك دمبارزو څرك هم نه لګیده .

دځانګړوغازیانوپه باب دتاریخ لیکونکودبې التفاتۍ دپاره ځینې دلایل وړاندې کیږي. دمثال په توګه، په لویدیځ کې ددهشت افګنۍ عملیات غندل کیږي نوله دې امله، ځینې مؤرخان دهغوتبلیغاتو تر اغیزې لاندې راغلي دي . په دې برخه کې باید ووېل شي د هشت غورځوونکې عملیات یوازې په هغه صورت کې دتوجیه وړ نه دي چې داصلي مجرمانویادهغودهمکارانوپه ځای بیګناه خلك ووژل شي او یاداچې دسوله ایزې مبارزې په ځای له تودې جګړې نه کاروا خیستل شي. دغازي عجب خان اپریدي اودده دملګرودمبارزې شکل بالکل دتوجیه وړ دی. لومړی دا چې غازي عجب خان د خپلو عملیاتو دپاره انګریزي نظامي افسران په نښه کړي وو. دوهم داچې انګریزانودپښتنوخاوره دسوله ایزې مبارزې اودموکراسۍ له لارې نه وه اشغال کړې، بلکې په زورراغلي وو، ډیری وینې یې بهولې وې اوآزادي غوښتونکي یې ترور کړي وو، یایې په جیلونو کې اچولي وو. نودا به هیڅ یوغیرتي افغان یاتوریالی پښتون و نه منې چې داشغالګرو پوځیانوغاړوته امیلونه وراچوي. ځینې کسان فکر کوي کەدعجب‌خان‌دکورتلاشۍ‌نه وای شوې نوهغه دانګریزانوسره غرض نه کاوه. داخبره‌سمه‌نه ده له دې نه مخکې هم دغه زړه ورا وپه قام مین پښتون دیوبل انګریزي افسرحساب تصفیه کړې و.د پیغلې الیس دتښتو اوقصه هم دده وروستۍ قصه نه ده، بلکې له هغې وروسته یې

یو بل انگریزی افسر هم بلی دنیاته ولیږه. دخپلو اکی په جګړه کی یی لکه څنګه چی دعجب خان له نوم سره ښایی، هغسی میړانه وکړه.

لیکن یوخبره باید هیره نکړو چی پښتون په پښتون وهل کیږی. دابراهیم لودی لښکر پښتنو وواهه او پښتنو په خپل لاس دپښتنو پاچهی مغلوته وسپارله.

خوشحال خان ختک دخپل نالایق زوی بهرام خان له لاسه غرونو ته پناه یو وړه. په تاریخ کی داسی پیښی ډیری تکرار شوی دی اولا هم پسی تکراریږی. غازی عجب خان اپریدی هم په وروستیو وختو کی دخپلو پښتنو له لاسه مهاجرت ته مجبور شو اوله تیرانه داسی ځای ته ولاړ چی له هغه ځایه یی په انګریزانو یرغل نشو کولای، غازی عجب خان به هم دخوشحال بابا په شان دعمر په وروستیو وختو کی له ځانه سره ویلی وی :

دبی ننګو پښتنو له غمه ما    لویي پریښووه ونیوله کمه ما

خوشحال بابا چی داقبال په قول دپښتنو درنځ لوی طبیب و، دپښتنو ترمینځ دبی اتفاقی او ځان غوښتنی مرض ته ځیر شوی و او داسی یی ویل:

یوچی وکاندی غورځی    بل یی و وهی مغزی

یاداچی :

هره چاره دپښتون ترمغلی سنه ده          اتفاق ورڅخه نشته دیر ارمان

په دی هیله چی دغازی عجب خان اپریدی په ژوندانو کړوو ړو کی دپښتنو دتاریخ یوه ځنده مطالعه کړو، نوروپوهانو ته بلنه ورکوم چی خپلی علمی او گټوري مقالی ولولی او دتاریخ له درسونو څخه دوی تـه، یوڅوخوږی او یوڅو ترخی تجربی بیان کړی.

په درناوی

کاندیدا کادمیسین محمدصدیق روهی

دخوشحال دفرهنگی ټولنی مشر

## دعجب‌خان اپریدی دنما ئځنی غونډی ته
## دپښتنو آزادوقبایلـو او قومونو پیغـام

بسم الله الرحمن الرحیم

درنو دوستانو !

ترهرڅه دمخه اجازه راکړئ چې دخوشحال دفرهنګی ټولنی او له هغه کسانو څخه چې دعجب‌خان اپریدی دکارنامو دنمانځنی تنظیم یې کړی شکریه اداء کړو. تاسی ټولو ته جوته ده چې عجب‌خان دآزادوقبایلی پښتنو دیګړی ګل و. هغه دهمدغه پښتنی چاپیریال دننګ (غیرت، میرانی) آزادی غوښتنی ممثل و. موږ آزاد قبایل په دی خاطر هم ددی درنی غونډی دجوړونکو څخه شکرګزاریـو چې دوی داوارددا سـی شخصیت نمانځـنه کوی چې هغـه دلـرو اوبـر و پښتنو دیـوالی او ورورلی داتصال دکړی حـیثیت لـری. هغه دافغانستان دازادی دلاری مبارز، دپښتنی پت اوعـزت‌ساتنـدوی اودبـرتانـوی هنـد دمستـری امپراتوری پرضدیوبی دریغه مبارزو، هغه‌و کـړای‌شـو په خپلوفر دی

مبارزو او مجاهدو کی په تمامه مانا سره د پښتنو دقبایلو دود د ستور عنعنی ، او دغیرت او ننګ د تولنی دجمعی قوانینو تمثیل وکړی . دانګریزی استعمار پرضد دعجب خان دپت اوعزت مبارزه د پښتنو دعمومی پاخون یو جز، اویو فردی شکل دی . چی په خپل وخت کی یی ژوری اغیزی درلودی.

آزاد پښتانه قبایل او قومونه چی ځانونه د عجب خان انریدی او دنورو غازیانو او مجاهدانو خلف الصدق بولی ، په دی ویاړی چی او س له بل هروخت څخه زیات د پښتنو دیوه باتور غیرتی او با ننګه زوی عجب خان اپریدی یادونه په واقعیت کی د دوی دتاریخ د هغه ورکو پاڼو بیار اژوندی کول دی چی کیدای شی کله دتاریخ دعموی بهیر څخه لیری او ګوښی پاتی شی ، اودخوشحال فرهنګی تولنه چی په دی برخه کی خپل پښتنی او فرهنګی د این ادا کړ عملاً یی دټولو لروا وبرو پښتنو دیو والی له پاره قدم پورته کړ .

عجب خان نه یوازی په خپل عمل او کردار سره خپل قوم ته ور وښوده چی دبدل په وخت کی دیوه پردی زورګیر سره څنګه چلند کولی شی اودغه راز دیوه پردی یرغمل سره څومره لوړ انسانی او پښتنی چلند کوی . دغه راز نوموړی اودهغه یارانو په خپلو غورځنګو نو سره جوته کړه چی دبرتانوی هند امپرا توری ته څرنګه خبر دارووایی اوخرنګه ورته تیزه کیږدی ،

عجب خان نه یوازی یو باتور او په خپل پت او عزت مین جنګیالی

وبلکی د پښتني قوانينو) مقررا تو ، دود ، ترخ او ځلي ډيرښه او
پياوړي مظهر او ممثل هم و .

ژن چې دعجب خان افريدی د کارنامو يادونه کيږی، يوځل بيا زموږ
په زړه کړو او تجربو کی نوی باب پرانيزی او دا تکی څرګندوی
چې پښتانه څينی داسی نوموړ کی قهرمانان او اتلان هم لري چې ډيره لږه
دهغو يادونه شوی ده . هغه اتلان چې دانگريزی استعمار او بل هر
زورگيرسره په مبارزه کی شهرت ته رسيدلی دی ،دا زموږ دتاريخ يوه
ځانگړ نه ده . او بايد دهغوی کارنامی ژوندی وساتل شي.

دغه کار چې اوس د خوشحال فرهنگی ټولنی پيل کړی
کورودانی ورته وايو او په دغه ملی او وطنی او تاريخی اقدام کی يی
زيات بريالیتوبو نه غواړو !

بسم الله الرحمن الرحیم

# دکوځي ګوټ به دې پرې نه ږدم رقیب ته
# اپریدی ایمه مغل ته خیبر نیسم

درنو مشرانو، ښاغلو دوستانو عزیزانو او فرهنګیانو!

توهرڅه دمخه دخدای بخښلي غازي عجب خان اپریدي دکورنۍ په نمایندګۍ دغه درانه محفل ته ستاسو درانګ هرکلی کوم.

درنو میلمنو! په انساني ټولنه کې ډیر ځله داسې اشخاص او افراد هست شوي چې ددوی انفرادي عمل دټول قوم او ملت په ژوند اغیزه ښندلې ده، څومره چې یوه ملت کې دغه رازنابغه اومیړني ډیروي په همغه اندازه دغه قوم اوملت په نړۍ کې لوړ او هسک مقام لوی چې لویه پښتونخوا او افغانستان دداسې باتورانو او قهرمانانو په درلودلو دنړۍ دشمیرپه سرکې راتلی شي.

درنو حاضرینو! غازي عجب خان افریدی یوازې ځماد کورنۍ افتخار نه، بلکې داپریدو دقوم شمله، دپښتونخوا، افغانستان او دسیمې یو

اتل اوملي مبارزو، چي دمبارزو او اتل ولي ذكر ئي په مختلفوژ بو په كتابو اورسالوكي شوى او دده دميړاني او اتلولي فلمونه هم جوړ شوي دي.

دادليكوالواو مورخانو دنده ده چي دخپلو دغو ميړنيو اتلانو دژوندانه حالات او كارنامي په ښكلي انداز وليكي او راتلونكو نسلونو ته يي د يوه ارزښتمن ميراث په توگه پريږدي، څو هغوى د دغو كارنامو په رڼا كي خپل پښتني كردار سم كړاى شي.

هسي خو پښتون كام او دهغه هره قبيله له ميړنو او ننگيالو ډكه ده خودلته خبره په غازي عجب خان ده او په اپريدو، په هغو اپريدو، چي دخيبر په لاره او په دره آدم خيل كي پراته دي، هغه خيبر چي دعمرونو راهيسي دهوتيري كوونكي، دهراستبداد، دهرمادي طاقت او دهرفرعون په لاره كي خنډشوى او دهغوى سره ئي پـه سر مقابله كړي ده، دغه وجه ده چي دخيبر دلاري پر تيره بياد آدم خيلو ددري هره تيږه او هره لوته دحال په ژبه دخپلو بي شميره تورزنو او ميړنو داستانو نه وائي چي په دوى كي دغازي عجب خان آدم خيل اپريدى نوم هـم يادولي شو.

عجب خان پوازى پو تورزن او اتل نه وچي له انگريزي ښكيلاك سره يي په ميړانـه دغرى وهلي، دده په كارنامو كي مونږ د پښتني كلتور بيلا بيل عناصر، لكه جرگه منل، دناموس ساتنه، بـدل اخيستل ـ روغه نتـواتي، مشرانو ته درناوى، پيغور بدگڼل، بومته او نور ليدلي شو چي د پورته مطالبو دخيرلو دپاره دده كارنامي ليكوالو ته پوره مواد په لاس وركوي.

زه په دوو دلیلو نو ددی غونډی جوړیدل ستایم :

۱ـ دی ته‌ئی زمینه برابره کړه چې د تیراوالو پښتنو له ماجراوو ډک تاریخ باندی څه نا څه رڼا واچول شی.

۲ـ ددی غونډی په بهیر کی مونږد پښتنو دهغو لوړو او عالی صفتونو او فضایلو سره آشنا شو چې دغازی عجب خان افریدی او نورو پښتنو مبارزانو شخصیت جوړوی. دملت د لویو مشرانو او مبارزانو لمانځنه او یادونه دژوندیو ولسونو اساسی کاردی. دنړی هر ملت ملی اتلان لری چې دهغوی نوم دقومی یووالی لپاره دیو پوخ تاداو حیثیت لری. زه پدی باور لرم چې دغازی عجب خان افریدی په یاددغه تاریخی غونډه به ددغه رازهمکاری اوهم فکری په برکت دلوی اوبری پښتونخوا په آسمان د خپلو اغیزپلوشی وښندی او ددغه غازی په پښتون کرکتر او دده په سیاسی اوجنګی مقام باندی به ښه رڼا واچوی .

څرګنده ده چې د یوملی اتل او جنګیالی په توګه دزړورواپریدو او په هغوی کی د غازی عجب خان شخصیت دبیاو بیلوخواوو څیړل او له ښکیلاک ګرانګریز سره په مبارزو کی دده رول څرګندول ، دتاریخ پوهانو او ادب پوهانو ژورو مطالعو او څیړنوته اړتیالری ، هیله من یم دغه غونډه داومړنی تمهید په توګه دنورو پښتنو اتلانو او مبارزانو دلمانځلو پراخو ارزاو یو غونډوته لاره پرانیزی او د پوهانو فکری اوقلمی هڅی او ددوی مقالی اورسالی دپښتون کام دنورو نومیالیو شخصیتونو او اتلو مبارزانو په پیژندلو او معرفی کولو کی غزونی وکړی .

زه دغازی عجب خان اپریدی دکورنی دیوه غړي او دخپل ملي فرهنګ اوملي تاریخ د یوه مینه وال په توګه دغازی عجب خان دیاد غونډه دپښتونخوادیوه اتل اوځلانده شخصیت د کارنا مو اوژوندانه دحالاتود پیژندلولپاره یوګټوراوارزښتمن ګام بولم . اوس چې ددی ملی اتل دمیړانواو کارنامو په یاد غونډه جوړه شوی؛ له لوی اوپاک خدای (ج) څخه مرسته غواړم چې پښتانه دخپل ملی بوم په ساتلوکی لکه خپل نیکوته داسی بریالی اوسر لوړی ولوی .

دغونډی برخه وال ته کهمیلمانهوی که کوربانهتل خوشحالی اوسوکالی غواړم.

دخوشحال تولنی دمحترم رئیس کاندید اکادمیسن محمدصدیق روهی اوددی تولنی درهبری اوهغو کسانوڅخهچې،ددغی غونډی په پرانیستلو کی یې مادی اومعنوی مرستهکړی مننهکوم اودغهرازددی درنی غونډی دجوړولو لپاره دعلامه سیدجمالالدین افغان دفرهنګی تولنی دمرستیالی محترمی خورمحققې غوتی خاوری نوښتګر پیشنهاد ستایم ، دغونډی دجوړو او په کارکی یې دهڅواوهاوځلومننهکوم اوخپلی خبری دخپل پلار غازیعجبخان اپریدی پهدیخبره پای تهرسوم چیتل بهئیمونږتهویل : « زامنوکه ماتاسی ته پیسی نه دی ګټلی نوکیسی می درتسه ګټلی دی ».

په درناوی

نیک محمد غازی زوی دغازی عجب خان اپریدی زوی

پوهنمل عبدالخالق رشید

# دغازي عجب خان اپریدی لنډ ژوندلیك

ولاړ دي مل شه عجب خانه
میدان جنګ دي ورته باغ د ګلو شینه
که عجب خان چیري ژوندی وای
ستا د غرور سر به په ځمکه وای د دښمنه
د پیغلو جونو بدل وا خله
اي عجب خانه! په موږ دیر وشول ظلمونه

دا هغه دعاوې او هغه ویاړونه دي چې زموږ د عصر د ښکلاك او ظلم، د ناتار او یرغل د دښمن عجب خان افریدي په حق کې ویل شوي او دادي نن یې موږ هم تکرار وو. هو، د عجب په باب د هغه د حماسو په باب او د هغه د پښتون هود او پښتو پالنې په باب. د لاتیني امریکې یو چریك مشر و، چې د خپل ملت او خپلو خلکو لپاره لکه زموږ عجب خان غوندي کرکتر، احساس او ستم ضد روحیه لري د هغه په باب زموږ خبرې ډیرې مهمې دي

اوویل کیږي دغه‌دوي خبري هغه‌وخت چې ده‌دانسان د آزادي په‌خاطر ملاتړ لي‌وه، دده‌شعار وي ده‌بوېل: «ما به‌تاریخ آزاد کړي» خو کله‌چې په خپل مرام بریالی‌شو: نوبیا‌له‌خبره یی داوه چې: «زمان پرمو ز پسی‌و» لاتیني امریکې که‌هسی ننګیالی درلودل، په کټ‌مټ دول‌زموږ په‌هسکو او تیټو کې هم‌داسې‌بازان‌وو، چې دغرور په‌اوچتو منګولو کې‌یې ظالم، تورتم او بدمرغي دحواله دارانو روح نیولی‌وه اود دوی له لاسه دمرګ په‌پولې‌ناست وو، له دغو باتور وبازانو څخه‌یو هم عجب خان افریدی‌دی. چې‌دغرورهنګامه‌یی‌نه‌یوائې‌د پېښوورانګریزي چو ننې لړ زولې، بلکې دلندن ښکیلاکي‌غرورېي‌هم‌ولړ زاوه، دعجب خان دپلارنوم غلام‌حیدر وو، په‌قام‌آدم خیل اپریدی وو، اود بوستی خیلو دیونس خیلو څانګی‌سره یی‌تعلق‌لرلو، عجب خان دغاښی تاښی ښکته ددره‌کوهات طرف ته دبوستی خیلو په ورکوټي شانتي ښکلي دره کې د ملک کمال‌خان‌موسی‌خیل په کلي کې‌اوسیدو...»(۱) عجب خان په‌قام اپریدی‌دی. محمدحیات‌خان په‌خپل اثرحیات افغانی کې‌داپریدودقبیلې څانګړنې‌داسې کاږي: «دغې قبیلې‌خلک، دننګرخو کلک‌زیار ګالونکی او اکثراً جګی‌څوانی‌لري. هرڅوان سړی په‌خپل کورکې توره، سیلاوه چاړه‌اوله‌تسمو نه‌جوړ شوي دال ساتي. او همداراز رخدار توپک چې لري لګیږي اوهم‌یوه یادوه تمانچې ساتي، دتیراتوري اوچاړې په

(۱) محمد عظیم افریدی، دری‌ننګیالی پښاور، ۱۹۷۳ کال (۷۱) مخ.

غواوکي مشهورې دي . څېني . اپر يـدي په نښه ويشتلـو کې ډېـر مهارت لـري ...» (۱)

عجب‌خان اپريدي‌همدغه ښتنی قام ته‌منسوب پښتون مبارزاود پرديو دبرلاسی په تاوده مور چل کې ناست مجاهدو. دهغو په نيمه وچه کې د انګريزې ضدمبارزوتاريخ ډير زوړتاريخ دی مګر په دغواوږدومبارزو کې دپښتنودمقاومت مبارزه هغه مبارزه ده چی خپـله لاره دبري پولې ته‌وروباسي اودمقامت روح پيچلوحالاتواوبدمـرغيوکې پياوړی ساتی.

زموږ اتل مجاهد عجب‌خان اپريدی په‌تمامه ما نــا د همدغـی پر له پسی مبارزې پـه بهـير کې دخپـل عصر اوخپـل نسل هغه‌استـازی دی چی دپرديو په مقابل کې‌سرباز ي اودانسان له خپلواکـی څخه ننـګه‌ده ته‌په خپل‌عصر کې يو «مسوولیت» ښکاری ، ځکه‌دې په دغو حالاتو کې ځوانی ته‌رسی‌چی‌دده تر کلي اوکور پورې دپرديودداړواوير غلونو لاسونه را رسيدلی دی ، دغ، لندی چی وايې :

«چير ته لندن چير ته‌چترال دی        بې ننګي‌زوړ شوه‌انګريزان‌چترال ته‌ځينه»

دعجب‌خان‌ترغوږوهم انګازه کوي‌همداوجه‌ده‌چی خپل سر کښې طبيعت اودخپل وطن سر کښې غرونه اودری‌خپل غرورته پـه‌ـخ کی‌زدی‌او نتيجه داکوي‌چ ی :

په‌قرآن با ندی‌لاس کيښود عجب خان

وې چی‌زه به‌ځانته هلـه و ايـم ځوان

چـې پـګـړی دپـښتنوکـړمـه اوچته

ژوندبه‌خه‌کړم‌چې‌ځماوي‌ستر ګی‌ښکته(۲)

---

(۱) محمد حيات‌خان ، حيات افغانی کابل، ۱۳۶۲ کال(٤٦٦)مخ.

(۲) جمشيد دتوپی ،عجب‌خان افريدی نر پښتون ، پيښاور ۱۹۶۱کال (۲۹) مخ.

عجب خان اپریدي په انګریزي بار کونو او دهغو په خوا کو نو با ندې

چې، کوم یرغلونه کړي دي ، دهغو تر اوپوپیل له۱۹۱۹ کال څخه راپه دې

خوا کیږي، «عجب خان اودهغه ملګرو د کال۱۹۱۹ دنومبر دمیاشتې

دشپږویشتم اواوه ویشتم تاریخ په منځنۍ شپه په کوهاټ کې د۱۲

لانسر په «ګارډروم » باندې حمله وکړه. پدې حمله کې یې یوسنتري

ووژاو او یوسل پنځه ویشت توپکې، اته دوربینونه ، پنځلس توري او

درې سوه اوه لس کالتوس یې د ځان سره یوووړل...» (۱)

داد عجب خان دګوزارونو پیل و، دده له نوموړې نیتې بیا تر۱۹۲۳

کال پورې هغو انګریزی ځواکو نوته چې دپښتو نخوا په څمکه یې قبضه

کړې وه، دسر په کاسه کې اوبه ورکړې ، مګر بیاهم داو یلای شو چې

دعجب خان اپریدي دمجاهد وداوج ترکی له۱۹۲۳ کال څخه راپه

دې ځکه چې له یوې خوا په همدغ، کال انګریزانو تەدده له لاسه

دسر اومال څورازیات تاوانونه ورسیدل او له بلې خوا دیره مهمه پیښه چې

هغه دمس ایلس تیراه ته بیول ووهم پههمدغه کال یعني د ۱۹۲۳ کال

داپریل په ۱٤ نیټه (۲) سرته ورسیدل .عجب خان اودده ورورشهزاده

خان اوملګري یې په هم دغه شپه د کوهاټ پرچاونۍ ورواوښتل او مس

ایلس یې له چاونۍ څخه دشپې په اته بجې راویسته اوتر هغو چې نمر

راختونو بیایې دچاخبره ترغرونو اړولې وه. دڅکې تر دې چې دعجب خان

(۱) محمد عظیم افریدی ، دری ننګیالی ، پیښاور ۱۹۷۳ کال(۷٦)مخ .

(۲) همدغه اثر(۹۲)مخ .

پرنو رژوندخبری وکړو په لنډه توګه‌دغې پوښتنې ته‌ځواب‌وایـو چې عجب‌خان دا کارولې ترسره کړ؟ عجـب خان لکه‌چـې راوروسته دده ژوندو ښوده، په‌آزادي‌مین‌پښتون آزادي غوښتونکـی مـجاهد و، هغه مس ایلس په‌شعورې توګه تیرا ته‌جګه کړه، په‌دې باب دوی خـبرې دخانګری یادونې‌وړدي، یوه‌داچې انګریزانـو کله‌دپښتـنې خیلو کلی محاصره کړ هلته‌دوی‌له‌نار ینه او ښځینه‌وسره ناوړه‌رو یه کـړې‌وه ددرې‌ننګیالی لیکوال‌دشهزاده خان‌په‌قول‌لیکې چې :«...دوی‌دخپلې بې‌عزتی دبدل داخیـتو په‌غرض دکوهات‌نه‌دیوی‌فیرنګی اومیـمې د ښتو او‌پروګـرام جوړ کړی وو»(٤) بله‌داچې‌عجب خان غوښتل‌خپلې لوی‌سیاسی رقیب ته‌دخپلو بریدو نومختلف‌اړخونه‌وښیی ، اوځرګـنده کړي چې په پښتونخوا کـې دی تـر دوې ځوځـو ځـلي بـرلاسی او ځـواکمن دی ، بلـه‌او مهمه دا چـې دمس ایلس . بوالځی پـه دي خاطر چې ددی خپل خپـلوان‌له‌انګر یزانـوسره بندی‌دی، نه‌و ونیـولی، بلکې عجب‌خان دیوشمیرنامتوسیاسی کسانو دآزادی په‌خاطر هم دا کار تر سره کـړی‌دی، اروانښاد محمدګـلاب ننګرهـاری(١٣٦٩ کال داسد پـه ٢٧مه) په خپله‌دعجب خان له خولی‌وایی‌چې : «عجب خان ځـکه د جینکو پسی هڅی و هـلي چې دغـوښتو و رځـو کـې د هـند دآزادی یوځولوی مجاهد کسان بندیوان شوی وو. ده غـوښتل‌چـې‌داجینکی

---

(١)همدغه‌اثر(٨٩)مخ.

ژوندی دخان سره وخیژوی او هغه بندیان پری راخلاص کړی...»(۱)

پوره نهه ورځی یعنی دا پریـل له ۱٤ تر ۲۳ نیټی پورې مس-ایلس په تیراه کې پاتی شوه. انګریزانو، د پښتو نـخوادهری سیمی باـنفوذه ملکان او ملایان دتیراه په لوړدجرګـومرکوپه خاطر وخوځول؛ خود عجب خان ستر ګی پو ځی او پو ځی دتیرادملامحمود اخوا نزاده چې په کوزه او بره پښتونخوا کې نامتوسړی و(۲) نیولی وی، دهغه خبره یی ومنله دخپلو شرطونو په پوره کیدو سره چی دده دملګرو خلاصون او پردوی تیری نه کول وو، میس ایلس یی پـه داسی حـال کـی چی شهزاده خان په هغه وخت کې نه و. خان بهادر مغل بازخان او خان بهادر قلی خان ته وسپارله او په هغه آسپه یې سپره کړه چی هغه هم عجب خان له کپتان سپارکس څخه راوستلی وه.

کله چې مس ایلس انګریزانو ته وسپارل شوه، انګریزانوله ډیری لنډې مودې وروسته په عجب خان اودده په قوم پسی متی راونغښتی، په تیرایې پرله پسی یرغلونه پیل کړل. په بې ګناه خلکو یې په لسګونو زره روپۍ دجرمانی په توګه کیښودې؛ په عجب خان اودده په ملګرو پسی یې هرې خواته جاسوسان مقرر کړل، داځکه چې دغه نو میالی مجاهـد داسی سرخوږی انګریزانو ته راپیدا کړه چې نوریې په هیڅ وجه د پښتونخوا په چاوپیو کې دارامی احساس له لاسه ور کړی و، او پو ځی یې ه لاره یې

(۱) دری نګیالی (۷۷) مخ .
(۲) میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، کابل ۱۳٤٦ کال، (۷۷۸) مخ،

وه هغه‌داچې باید دښیرااو په مجموع کې په‌افریدیو باندې‌داسې جبرراولي چې نورنونه په خپله دمقاومت توان‌ولري اونه دعجب‌خان‌لپاره دداسې تاریخي ویسا ړ ،لکه دمس ایلس پېښه لارې چارې برابرې شي.

عجب خان اوده ملګروبیاهم د انګریزي تسلط داود هغوی د مزدورونو کړانوپه‌وړاندې‌چې په‌عجب‌خان‌پسې یې‌توپکټ په‌اوزه ګرځول آرام پاتې‌نه شول، پرله پسې مبارزه‌یې‌ترهغوکړه‌چې څو یې په تیرا کې دګام‌اېښودلو ځای و، مګرشرایط داسې شول چې نوریې د پښې اېښودلو ځای هم‌نه‌و، ځکه‌نوافغانستان ته راواوښت اول‌ه‌د غې‌خوا یې خپلو فعالیتونو ته‌دوام‌ورکړ.څومره چې ترپوله‌هغه خوا انګریزان له‌ده څخه‌ناآرامه‌وو چې ترپوله‌را دې خواهم‌شو ، بیاهم عجب خان په انګریزانو باندې‌د تندر غزو.اودپښتني احساس‌اودتاریخ کلکټ‌ګوزار.

عجب خان دافغانستان له خاورې‌هم په انګریزانو باندې بده ورځ جوړه کړې‌وه، انګریزانودېر کوششونه داسې‌وکړل چې هغه‌باید دشینوارواونوروپښتنوپه‌مرسته‌ونیسي ،مګریوځه‌چې‌شینوارو په‌دغه‌برخه کې ترسره کړل هغه‌داوچې په‌هیڅ‌دول حاضرنه‌شول چې‌دآزادۍ دلاري دغه پښتون چې‌له‌ملتان اپریدی نه ووسته‌دمجاهدې په‌دګر کې ودرید، له‌لاسه ور کړي ، ځکه‌یې تراخره وساته. انګریزان هم‌په‌دې‌پوه شول چې‌پښتانه په‌هیڅ‌دول دعجب‌خان په‌وړاندې خیانت نه کوي‌نو ځکه‌یې خپله‌خبره دافغانستان له‌دولت سره په سیاسي لحاظ په‌داګه کړه

اودافغانستان له دولت څخه یې هیله وکړه چې په لومړی ګام کې خو عجب ـ خان انګریزانو ته په واک کې ورکړی چې په دې توګه کیدای شي د افغانستان او انګریزانو روابط هم مختلفو برخو کې په زړه پورې شي. دامان ـ الله خان غازی لپاره دعجب خان نوم نا آشنا نه و، هغه عجب خان ډیر ښه پیژانده، ځکه دعجب خان هم عصر و او هم دده خبره ده چې: «نادرخان دجنوب دجبهې قوماندان و، انګریزانو په دغو شپږو ورځو کې د سرحد دپښتنو ملیشې دافغانستان دخلکو سره دجګړې په خاطر او مړی لیکلی ته راالیزلې وې، په ټول کې هم په دغو شپږو ورځو کې چې دافغانستان جنګ روان و یو، زیات شمیر اپریدای پراته وو او دټول ساتنه یې کوله، نادرخان ددی لپاره چې اپریدی مقاومت ونه کړي نو یې زه ور و لیږلم، خبره اپریدو و منله، په ټول باندې چې کوم یرغل پیل شو هغه دشپې و او موږ چړګ بانګ ټول ونیو. اپریدو پښتنو هیڅ دول مقاومت ونه کړ، موږ دټول په چوڼۍ باندې دافغانستان بیرغ ودراوه، او پری ولاړو و، پوره لس بجې وې چې نادرخان له یو شمیر نورو کسانو سره په داسې حال کې چې یو توپ یې په کچره راباركړی وه را ورسیدل او دټول دفاتح په نامه ونومول شو.

همدا وجه وه چې امان الله خان ډیره موده دننګرهار او شینوارو په سمیه کې په عجب خان پسې هیڅ ته هم دراتلنی وظیفه نه سپارله، امان الله خان عجب خان شینوارو کې دافغانستان دخپلواکې لوی مجاهد باله، او طبیعتاً یې شته په هغو حالاتو کې ډیر ضرور و، انګریزان چې په دغه نیت پوه شول نو یې د ۱۹۲۳ کال په نومبر کې هغه بېړی چې یې دافغانستان

وسلي په کي باروي، دبمبئي په بندر کې ايساره کړه، دغه وسلې د دغه بندر له لارې افغانستان ته راتلې، مگر انگريزانو ته دا ښه موقع په لاس ورغله او دا وسلې يې دهغې لوظنامې په خاطرچې دانگريزانو او افغانستان تر منځ وه بندي کړي، مگر اساسي خبره دا دی وسلو د بندولو ترشا دعجب خان انگريزانو ته سپارل او يا دهغه غلې کول وو. ځکه نو دافغانستان دولت هم بله چاره نه درلوده هم هغه وه چې دجلال آباد د حاکم اعلى عبدالکريم خان علومي په لاس يې عجب خان ته دا احوال ور کړ چې جلال آباد ته راشي. کر تو هغو چې عبدالکريم خان په جلال آباد کې وعجب خان دجلال آباد راتگ ته حاضر نه شو، کله چې احمدعلي خان دجلال آباد حاکم شو

دهغه دزياتو هلو ځلو په نتيجه کې عجب خان دې ته حاضرشو چې بايد جلال آباد ته راشي. دا هغه شپې ورځې دی چې انگريزانو دعجب خان او شهزاده خان دنيولو انعام دير ش زره روپۍ اعلان کړی وي، همدا وجه وه چې عجب خان شينوار وته ويلي وو: «زه خوبې له دې هم جلال آباد ته ځم تاسې انگريزانو ته وواياست چې موږ له خپلې سيمې ويوست خو دا انعام تاسې واخلئ» (۱) شينوارو دا کار وکړ مگر انگريزانو پوهيدل چې خبره بل ځای ده ځکه يې دانعام له ور کولو څخه ډډه وکړه، عجب خان د مس ايلس له رخصت وروسته (غالبا دوه نيمي مياشتې) جلال آباد ته راغلی او له هغه ځايه دبتخاك په لاره کابل ته راورسيد. ډيره لږه موده يې په کابل کې تيره کړه، دی له امان الله خان سره په ارگ کې اوسيده، دی په خپله وايي چې:

«یوه ورځ امان الله خان د لمانځه په وخت کی زما پګړی په شوکړه او لمونځ یې وکړ ، له لمـانځه وروسته یې راته وویل چې ته ترکستان ته لاړ شه ، ما ورته وویل چې زه خونه ځم ، ده بیا راته وویل چې زه باید لاړ شم ما دویم ځل هم ورته وویل چې نه ځم ، ده راته وویل چې په زور دی لیږم ما ورته وویل چې زور خو ما له انګریز سره وهلی ، زما زورهغی لوی امپراطوری ته دیر ښه معلوم دی . دا چې ته داسلام پاچا یی تاته څه نشم ویلی ناچار ځم به ، خو دا باید و وایم : انګریزان چې څوک فراروی نو تورو او بو ته یې لیږي او تاسی چې څوک فراروی نو ترکستان تـه یې استوئ . امان الله خان راته وویل چې هلته به دیری ځمکی او ښی ننخواوې درته درکړم خو ما ورته وویل : خدای چې تاته یې پاچاهی درکړي ، هر څاته څه ور کوی زه یې هم له هغه غوارم . بالاخره د جبل السراج له لارې په دا سی حال کې چې شاهی رساله راسره وه زه او زما کورنی په اوښانو باندې د مزار شریف په لور روخوخیدو ، زموږ سفر نږدی یو میاشت ونیـوه ، په جبل السراج کې یخنی وه ، دښې مود صندلیو لپاره سکاره بل کړل ، موږ یې په چل نه پوهیدو ، دښې یې تول ونیول ، ما شهزاده ته وویل چې امان الله له انګریزانو نه بدی واخیستی دادی موږ ته یې په دودی کې زهر راکړل ، موږ ته تول ښځو او ګرځواله ترسهاره مړیـخی او به یو پربـل اچولی تر هغو چې دسکروینو لوخبر وسهار مهال هیانوراته وکړه ، موږ مزار ته ورسیدو هلته حاکم هم هغه عبدالکریم خان و ، چې پرما پسی یې شیوارو ته احوال رالیږلی و ، چې زه یې ولیدم نو دواره یې راتـه وویل : خانـه

خرابه زما په خرله شینوارو له رانه غلی، مایواځې داورته وویل چې خانه خراب خوستاپلاردی، زریې ښنه وغوښته، امان الله خان ده ته زما دعزت کولو په خاطر ډیرڅه لیکلي وو» (۱) د ۱۹۲٤ کال د اپریل ۱٤ نیټې یعنې دمس ایلس تیراته دخېژولو دکالیزې نیټې ته دوه ورځې پاتې وې چې عجب خان په ترکستان (مزارشریف) کې ځای پرځان شو. کله چې دانگریزانو زړه ترکستان ته دعجب خان په لیږلو سره تسلي شو، «خوبیاهم فرنگیانو د افغانستان له حکومت نه دامطالبه وکړه چې عجب خان او شهزاده به همیشه دپاره بې وسلې گرځي، دوی به دترکستان په محدوده علاقه کې دنگرانی لاندې ساتلې شي. دافغانستان حکومت به دوی د هند دسرحد سره نژدې علاقې ته تلو ته نه پرېږدي. او دافغانستان حکومت به دوی ته د څه قسمه لاونس ورکوي» (۲)

او دعجب خان له ځای پرځای کیدو سره سم انگریزانو دوسلو هغه بېړی چې له یورپ څخه بمبئ ته راغلې وه، هغه یې دافغانستان د حکومت په واک کې ورکړه، او په دغه حاد ثه دعجب خان دمبارزې دبرخلیک ډیره مهمه اوخاصه شیبه ددوودولتونو دحکومتونو د معاملې په شکل ډیره ښه مطالعه کولای شو. دادېښتنو پاچهانو او واکمنانو (پرته له شیرشاه) ان ترننه هم لویه بدمرغي وه اوده چې کله یې تیشه لاس ته ورغلې نوترهرڅه لومړی یې خپله ریښه په هغې باندې وهلې ده.

---

(۱) دغازی زوی یادښت (قلمی).

(۲) همدغه یادښتونه.

(۳) دری ننگیالی، ۱٤۷ مخ.

عجب خان د پورتنی ترون دجبر پراساس په مزار شریف کې له ۱۳۰۲ش کال څخه ژوند غوره کړ، دسقاوتر اړدوړپورې عجب خان په مزار کې عادی ژوند کاوه ، دده استوګنځی د مزار ولایت د مستوفیت اوسنی ماڼۍ وه .

د۱۳۰۸ کال دحوت د میاشتې په پیل کې سقوی نایب سالار عبدالرحیم خان مزارته ورسید . ده په مزار کې دسقوی حاکمیت دټینګتیا لپاره هلی ځلې پیل کړی ، خو له هغو سره سم دعجب خان او شهزاده خان دپاڅون غږهم اوچت شو، نایب سالار عبدالرحیم خان غوښتل چې پخوانی والی ژوندی ونیسی خو هغه، دعجب خان کورته پناه وروړه . دعجب اوسقوی عسکروتر منځ جګړه هم وشوه ، همداوجه وه چې عجب خان به دژوند تر پایه ددی عمل افسوس کاوه چې په دغه جګړه کې یوشمیر بې ګناه مسلمان عسکر زموږ له خواووژل شول.

(۱) له دغه ټکره وروسته په عجب خان، شهزاده او ( )باندې مځکه سره شوه، ددشت شادیان لـه لارې غره تـه وختل او پـر له پسې مقاومت ته یې دسقاویانـو پـر ضد ملاوتړله . پـه هغه جګړه کې چې دعجب خان او نایب سالارعبدالرحیم خان دعسکرو تـر منځ وشوه پـه نتیجه عبدالرحیم خان هم په هغې کې برخه اخستی وه او په تصادفی توګه دشهزاده له ګوزار څخه ژوندی پاتی شو. عجب خان اوشهزاده خوځلی دلښکرپه جوړو لوپسې هلی ځلې وکړې ،مګر داچې دوی ډیرزیات بلد نه وو ، په دغه کاربریالی نه شول . ځکـه نـو بیاهم هغسی دسرپل پـرخوا

واو ښتلې او هلته له غلام رسول خان اسحق زی سره ديره اوآشناشول هلته يې بيادلښكر بندوبست پيل كړ ،چې دغلام نبی خان څرخي يرغل دشوروی له خوا پرمزاررا پيل شو . دعجب خان خبره ده چې وايي: «غلام نبی خان دسكترپه لار پرمزاررا غی، موږ هم له سرپل څخه دده پرلورراغلو اوله ده سره موږ ځای په مزاربانلدی يرغل وكړ ، موږ په دووساعتو كې دمزارښارو نيو ، بيامو ايبك، ميمنه، اندخوی او شبرغان هم فتح كړل، دبری دغه موده ډيره لږه وه اوموږ پوه نه شوچې غلام نبی خان ولې دشوروی پرخوامخه كړه او بيرته شوروی ته لاړ»(١)

دعجب خان لپاره دغلام نبی خان دبيرته زرتګ خبره نه وه معلومه دوی دمسلې په جزياتو نه ووخبر او داسی فكرورسره وچې هرڅوك چې دامان الله خان لپاره ښه نيت لري هغه ددوی تكيه ځای دی، دغلام نبی خان دبيرته ستنيدودعات په باب غبارليكي چې: «سقوی حكومت دجنګ دوزيرسيد حسين په مشری ښاورزره پوځ دبلخ دنيولو لپاره تيار كړ ، دغلام نبی خان ځواكونودغه پوځ په ايبك كې مات اوتيښتې ته يې ناچاركړ اوسيدحسين هم دقطغن ولايت ته وتښتيد، په دغه وخت كې شاه امان الله خان له كندهارڅخه دكابل په لورراروان واوترغزنی پورې رارسيدلی و. خوكله چې سقويانو او سليمان خيلو په ورانـدی په غزنی كې مات شو، بيالـه افغانستان څخه ووت، دغلام نبی خان ورور

(١) دغازی زوی يا دانښت .

(٢) همدغه يادښتونه

غلام صدیق خان څرخي خارجه وزیر خپل ورور ته د تلگرام په ترڅ کې د پاچا دو تلو خبر ور کړ. او غلام نبي خان په داسې حال کې چې بریالی و افغانستان یې دفتح کیدو په حال کې پریښود او په آمو باندې پورې ووت، هغه په خپل دغه حرکت سره وښووده چې ده غوښتل یوازې یوه «تن» (امان الله خان) ته خدمت وکړي، ځکه یې هیواد دارتجاعي اله گوله کو نکو د ترحم په منگولو کې پریښود او ولاړ»(۱)

دهمدغې مسلې په باب زموږ نامتو محقق استاد رفیع د استاد خلیلي «روسی اومړ نی تیری» نومي اثر په حواله لیکي چې: «دهمدی کال (۱۳۰۸ ش) د جوزا په اوایلو کې په مسکو کې دافغانستان لوی سفیر غلام نبي څرخي د روسي لښکر په ملاتړ د امان الله خان په گټه په شمالی ولایاتو وسله وال حمله وکړه. پنځوالو تکو یې بدرگه کو له اود سقوی قواوو له خواره واره مقاوت سره مزارشریف ته راورسیدی، دهدادی او مزارشریف یې ونیول، بیا یې تاشقرغان لاندی کړ. خو کله چې امان الله خان ته خبر ور سید. هغه د روسانو په مټو د تخت ترلاسه کول له افغاني غیرت نه ډیر لری بلل، غلام نبي خان ته یې خبر ورکړ چې زه د روسانو مداخله نه غواړم او دا آرزو نه لرم چې د بل په مټو واک ته و رسیږم (۲)

کله چې غلام نبي خان بیرته شوروی ته واوښت. په دغه ترڅ کې

---

(۱) میر غلام محمد غبار، افغانستان درمسیر تاریخ کابل ۱۳٤٦ کال ۱۸۳۱ مخ.
(۲) عبدالخالق اخلاص، داستقلال څلور مه جبهه، پیښور ۱۳٦٥ کال سریزه (۷۸) مخ..

دعجب خان خپله خبره ده چې وایي ! «غلام نبی خان ماته دری سوه توپک راوسپارل څوهغه په هزاره ګانوو ویشم داپه دې خاطر چې دغه هزاره ګان به د امان الله خان په ګټه د بامیانو له لارې په کابل باندې یرغل کوي . غلام نبی خان بیرته شوروي ته ولاړ اوسقوي لښکرو مزارشریف بیرته ونیو ما او شهزاده هم هغه دری سوه توپک له ځان سره واخیستل، موږ دره صوف ته لاړو اوهلته له غلام نبی بیګ سره یوځای شوو. هغه توپک موږ هزاره وویشل، بیاموپه مزار یرغل وکړ خوله ازې موږ دې پس موږ بیرته دې ته مجبور شوو چې بیرته دره صوف خواته لاړ شو، په دغه ځل دسقاویانو له خوا زخمی هم شوم» (۱)

له همدغه یرغل څخه وروسته سقوي ماموړانو دعجب خان کور تالا کړ، څه یې چې په کور کې وو، هغه یې تري یوړل اودالاندې کسان یې دعجب خان د کورنۍ دغړو په نامه زندان ته واچول :

۱ـ عبدالجلال دعلم خان زوی اودعجب خان خوریې . دا سړی اوس هم (۱۳۷۰) ژوندی دی، عمر یې ۸۰ کالو ته رسیږي.

۲ـ ظریف چې دعجب خان نوکر واواصلاً د کابل دقره باغ اوسیدونکی و.

۳ـ مهاجر داهم دعجب خان نوکر واواصلی ځای د پیښورو.

٤ـ احمد چې داهم د پیښور دضلعی و (۲)

---

(۱) دغازی زوی یادښتونه

(۲) همدغه یادښتونه

لنده دا چې عجب خان دسقاو دار ودور په ترڅ کې له خپل کلي او کور څخه اواره او دی ته یې سترګې په لاره وې چې څنګه دغه دراپرز ولو مقاومت راوینښ او بیا ورې کړی، د اغتشاش په تر له دوره کې عجب خان له مزارشریف څخه دباندی پاتې شو، همدا وجه ده چې برهان الدین کشککی «دنادر افغان» نومی اثر په اومړی ټوك کې دترکستان راپور داسې کاږی چې: «ترکستان بدست سقو افتاده بود ولی تنها شهرمزارشریف، امادر اطراف آن امنیت مفقودو رعایا خود سر هستند...» (۱)

دکلکانی سقاوار دوړ چې کله پای ته ورسید اونا در افغان کابل فتح کړ، عجب خان اودده ملګري هم بیرته په ځای شول، دغازی محمد نادر خان دربار عجب خان خپل ورور شهزاده خان راو استاوه هغه له نادر خان سره وکتل اوهغه ته یې یو فرمان هم ورکړ، داسې چې دغازیا نو حقوق او شته چې دسقو په اړدوړ کې تری اخیستل شوی وو بیرته دوی ته وسپارلی شی، ولی په دغه تاریخی شیبه کې هم هغه بندیز چې دآزادی دننګیالی عجب خان لپاره انګریزانو په ګوته کړی وهغه په نادری عصر کې هم ځای پرځای پاتې شو، عجب خان دنادر خان په زمانه کې هم کابل ته دتګ راتګ اجازه ترلاسه نه کړه، ځکه په دغه دوره کې هم دعجب خان په آزادتګ راتګ باندې انګریزان تورېدل اوپه دغې آزادی کې دواکمنانو ځانګړو دریځونو

(۱) برهان الدین ،نادر افغان ج ۱، کابل ۱۳۱۰ کال (۳۶۸) مخ.

ته زیان رسیده، ځکه نوعجب خان په ترکستان کی و اوهم هلته لکه زمری په هغه پراخ وطن کی په سرلوړی سره اوسیده، داسی چی خاطری اویادونه یی تراوسه هم دمزار دخلکو په زړونو کی د آزادی د غازی د تلپاتی خاطرو په توګه پاتی دی او دغازی نوم ته د درناوی سرټیټوی.

غازی عجب خان اپریدی ترهغه وخته چی دانګریزانو غزلا د هند په نیمه وچه کی لګیده هم داسی پاتی شو، چی انګریزان لا دهنده ووتل او دپښتنو په وړاندی یی دوروستی توطیی پلان تطبیق کړ، پښتانه لاس ترزنی پاتی شول، نوزر زر دلته هلته د خپلو حقوقو په خاطر سره یو غږ شول، دپښتو نخوا مسأله یی دیوی ملی مسلی په توګه رامخ ته کړه نو بیا ددی زمینه برابره شوه چی د عجب خان غازی پوښتنه وشوه، کابل ته له خپل وروړشهزاده خان سره راوغوښتل شو اوددانو داسی موسم وچی دعجب خان دشور اوشرنګ، دځوانی اومستی شپی تیری وی اوپه هغو پلونو باندی یی چی دده دغزا دګر ته تللی وو اوس ګردونه پراته وو. عجب خان ته اوس دخوشال ختک یوبل کمال یعنی «بنکار» ورپاتی وچی دځوندد غ، موسم ورځی یی په هغه باندی تیرولی. دغازی زوی دیادښتونو له مخی هغه دری کاله ناروغی ځوراوه، او د ۱۳۴۰ کال داسد پر ۱۴ نیټه یی د۸۵ کالو په عمرله دغی نیمګړی دنیاګی څخه سترګی پټی کړی او له خپل وصیت سره سم د شادیانو په دښته کی خاوروته وسپارل شو . یوڅه چی باید ددغی لیکنی په پای

ووایم هغه داچې زموږ ددغه نومیالی مجاهد دژوندداوکور په باب دیا ـ
دولووړدئ هغه داچې اددهکوردری ځله لوټ شو. یوځل انگریزانـو
لوټ کړ ، دویم ځل سقو یانواودریم ځل په نژدی کالونوکی روسانو ، چې
داددهٔ دلوبې په دنگوونه باندې هغه توردا غونه دي چې ددهٔ قوم اوددهٔ
دآزادئ دلارې یاران به یې هیڅکله لهیاده ونهباسي . دخوشحال بابا
پهکلام دغه لنډه لیکنه پای ته رسوم :

دم وهلی نه شم څوک مي دا د دلاسهنهکا
داغ لـرم پـه زړه کې بـی طبیبه بې مرهم
څو زړه سواره دي سرگردانـه پـه څوکاله
زهکه په زړهروغ وای چاربه ولی ودرهم . . .

پای

کابل داسد ۲۵

کاندید اکادمیسن محمد ابراهیم عطایی

# دتاریخ دیوه ستړی ، خواریورنځولی او په خپله تووره ژوبل شوی اولس په باب یو څو لنډی خبری

پښتانه لکه دنړی نورخلك همداسی انسانان دی ، دوی دځمکې پرمخ پریوه داسی سیمه‌ا ستوګن دی ،چی پرهغی دژوند شرایط ډیر سخت ،ستوغ اود ستونزودك دی اودهمدغه چارپیریال شرایط د دوی په فزیکی اوتولنیزجوړښت کی خپلی‌اغیزی غورځولی اودکرکتر په خوی اوخصلت کی یی داسی خصوصیات ورپه‌برخه کړی دی‌چی هم ښه اړخونه لری اوهم بد .

دوی دآسیادیر لرغونی خلك دی چی دپخوا نیوزښانو بیلګی ئی‌په (ویدا)او(اوستا) کی موندل کیږی اودتاریخی اسنادو پرمخ داڅرګنده ده‌چی دوی زرګونه کاله په پونده ګری (کوچنیتوب)ژوندتیر کړی دی او دانن چی تردوه‌ملیونه زیات پونده لری داپخپله ښیی چی‌دوی پونده خلك وه .

پهدوی کی قبایلی ژوندژ وری ریښې لری او تولنیز نظام یې دقبیلوی جرګودپریکړوپر معیاروتکیه‌دی اودغه دجرګونظام یودول ابتدایی دموکراسي تمثیلوی چې فردی آزادی تردیره ځایه پکښې تضمینیږی، خوځرنګه‌چې طبعي چاپیریال یې لازم مساعدتونه‌نه‌لری نوځکه‌اقتصادی فقریې دتولنیزی ودی اوپرمختیاپه وړاندی خنډشوی اود پیړیو پیړیو راپه دی‌خوایې ده ته دوه دوله ژوند په نصیب کړی دی ، که پرخپله مینه او سیدلی دی نو دخواری اولوږی ستونزی یې زغملی دی ، که مهاجرشویدی نودیوارزان مزده مزدور په توګه‌یې نوری مینی ودانی کړی دی، خوده محرومیتونه ګاللی دی اوتوناتمامه کړاونوروسته بیاپه‌هم هغه پردی مځکه کی یې هډونه ترخاورولاندی شویدی اوکه بیرته خپلووچوغرونو اوشاړومیروته رارسیدلی دی نوبیاهم په دومره غربت کی مړشویدی چې خپری ځادرئې کفن شویدی .

د ده د دغه‌ژوندانځور دپښتوپه اولسی ادب کی منعکس‌دی ،چې دمسافری اوخواری زګیروی یې دخاطر آرامی یواځنی تسکین دی .

د ده مره لکه‌طبعیت چې جفاکړیده ، یعنی وچ کلک غرونه، شاړی میری او دا سی‌سیندونه‌یې درته په نصیب کړی چې دسیلو نوباد اسکی یې دده دځمکوګورندی ورورانوي، خوله او بوځځه یې نورو ته ګلزارونه‌اوجنتونه‌جوړیږی.نو بشریت هم ده‌ته‌دزړه‌سوی‌اورحم په‌سترګه چندان کتلی نه‌دی ،ده‌د مزدوراوسر قربانونکی سپایی په توګه د دیرو

تر پښتونولا نلی دبا چې تختونه ایښی دی ، خوپخپله یې تر شلیدلی کټ پورته ځان ته څه نـه دی گټلی .

دا نه مبالغه او نه ځان ستاینه ده چې کله ده ته د کشور داری اودو-لتداری واک په برخه شوی او دا دوره او مرحله یې هم د بریښنا تر څرک بادوامه هم نه وه ، نودمیرانی اوعدالت بیلگی یې له ځانه پری ایښی دی چې مثالونه ئې په هند کی دلودی او سوری واکمنانو یاد هوتکی اوابدالی حکمرانانو کړه وړه وه. داهم کومه تصادفی یاغیر طبیعی خبره نه وه بلکی دده دقبیلوی جوړښت له خصلت څخه یې سرچینه درلوده .

دی کرکتر آ جنگجویه اوسلحشوره راغلی دی ، داځکه چې دی دیاغی اوشدلی طبیعت په غیږ کی راوسیدلی دی اوسره له دی چې دطبیعت څخه پوره تغذیه شوی هم نه دی ، خو څرنگه چې دطبیعت سره یې نژدی یوالی درلودلی دی نودمرگ اوژوند په فیصله کله دیر روکټ او بیبا که راغلی دی او دیر ځله یې پرژوند و مرگ ته ترجیح ورکړی ده .

څرنگه چې دتمدن له شمال څخه په ښت واقع شوی دی نود مدنی چلا کیو او چمبازیو سره هم دیر آشنا نه دی او دعقیدی دسادگی په وجه هر وخت لـه دامی تیروتنو سره مخامخ شویـدی چې پـه ناپوهی یـې دیر دیو په گټه دورور اوزوی مری ورغوڅه کړي ده .

ده له سکندر ، چنگیز او انگریز سره ککره جنگولی ده او هغه یې دی ته اړ کړی دی چې دتوری پرځای دوریښمو په زندی د ده نفس ور وکاږی او دا وسله تر اوسه هم پرده موثره ده او په دی وریښمینو

زنځیرونو کې په ترهغه وخت راتاووي ترڅو يې دعلم رڼا دمغزو تیاره ګوډنه وررو ښانوي دی پرخپل قول اوعهد دومره کلک والاړدي لکه د ده دسیمې غرونه، خو کله چې دی پوه شي چې تیری پرشوی دی نو بیا خپل وار نه پریږدي او په دې لارکې دومره صبرناک اوحوصله مند دی چې په متل کې وايي : «پښتانه سل کاله ورسته خپل وار واخیست ویل اوس مې هم تلوار وکړ . » د ده همدغه کرکټور دی چې هندو دعا کوي وايي« یه خدایه ، دزمری له داړو ، دمار له نیښ اود پښتون لـه غچ څخه نجات راکړه »

خوشحال خان خټک چې دپښتون پیژندنې په قطع کې یو بې بدیله پوه شخصیت دی داخبره بیځایه نه ده کړی چې«او ښ د باره سره د کور دروازې تـه ورغلی دی، خو دی یې دجرس ( زغږی ) د لاس ته راوستلو په طمع دی . »

ده تـه دمیلمه پالنوم ورکول شوی او داغمال له پـاره یې ډیـری سرندیره اته وهل شویدي ، ده هروخت په اخلاص او مینه دښمن تـه هم دمیلمه پالنې دودپر ځای کړی دی، خو دامیلمه ډیر ژر د ده د کور واك دار شوی او بـیاده دهغه دساتنې له پاره دسرسپارلي سپایی په توګه توپك اوږې ته اچولی اودو رورا وعزیز پروايي هم نه ده ساتلې .

ده ته ترننګ او ناموس بل هیڅ شي مقدس نه دی ، لیدې سیل چې دافغان او انګرېز په لومړي جنګ کې دنوروانګریزي ښځوسره یو ځای د پښتنو په

لاس کی اسیره وه ) په خپلو یاد داښتونو کی وایی چی : مو زته یی د خونـدو خطاب کـاوه او هغه عزت او احترام چـی هلته زموږ پـه برخه ؤ ، هیڅ فرنګی به په لندن کی په خوب هم نه وی لیدلی .

دعجب خان اپریدی قصه چی ډیره تازه ده دغه مطلب پوره شاهدی وایی ، عجب خان دفرنګی ښځه غروته وخیژوله ، خو دهغی دپت او عزت درناوی یی وکړ ، عجب خان دفرنګی وینی و چښلای خود هغو دناموس په درناوی کی یی دپښتونولی دوددا سی پرځای کړچی افسانه یی نو نن پوری پاته ده .

دقول او وعدی دپرځای کو لو یو کوچنی مثال یی دادی چی : بابر یو مغول باچاؤ چی دپښتنو باچایی یی ورړ نګه کړیوه ، کله چی مر کیـده وصیت یی و کړچی جنازه دې یې په کابل کی خاوروته وسپارل شی ددغه لوی جهانګیر باچاپه توله ورثه کی دغه وصیت هیچا پرځای نه کړ ، خو بی بی مبار که چی دده پښتنه (یوسفزی) ښځه و ه دهمایون ترفرار وروسته دسوری شیرشاه ته چی پښتون باچاؤ اودبابر اودهغه دکورنی سر سخته دښمن وه ورغله او ورته یي ووی : ته هم یو پښتون یی اوزه هم یوه پښتنه ، مـاستا د دښمن سره چی زمـا میړه ؤ وعـده کړیوه چی مړی به یی کابل ته ورم او س نوستا اختیار چی دیوی خور په توګه زمادقول پت راساتـی اوکه درد ځـواب راکوی . شیرشاه امرو کړچی د یو شمیر پیلانو اواسانو په بدرګه دی دبابر مړی کابل تـه یوو ړل شی .

پښتانه دښځې دپروني اوځادر احترام کوي او په هغه هم لوړي ،
خو په دې لاره کې دده له سادگي څخه بده استفاده کيږي ، کله چې
دهند دويش مسله منځ ته راغله او په سرحدي ولايت صوبه کي دپاکستان
دراي و صندوق ايښوول کيده ، نو فرنگي ښځې به پښتنو ته ورتلې او ورته
وبل به يې « زه راغلې يم چې په خپله پښتونواله زماد ځادر احترام
وکړي او خپله رايه دپاکستان طرف ته واچوي » خدايي خدمتگاران و
چې پښتانه و ، دوي ته و بل يي چې دپښتنو صندوق وغواړئ او يا بيخي رايه
مه ورکوئ ، خو دغو پښتنو به ورته ويل : مره ته څه وای موږ ته
خو ښځو (فرنگي ښځو ) خپل ځادر راخته کړی ؤ او ددوی دځادر
جواب ته څه ووايو ؟ ! پښتون ددغسې خپلې سادگي قرباني سويدی
او داسبب دی چې دزماني سختي ځاپيري بې پرمخ خوړلی دی او نوري
ځاپيري لاورته گوري .
راشی اوس پردې فکر وکړو چې داولې دی داسې جوړ شويدی :
آيا پاك پروردگار په ازل کې دده برخه همداسې خواره کړيده ؟
د دی پوښتني ځواب منفي دی ، ځکه الله پاك ته دده او نوروقومونو
ترمنځ توپير نشته .
آيا دی خپل ايکولوژيکی او جغرافيايي چاپيريال داسې جوړ کړيدی ؟
که دی اصل ته اعتبار ورکړو ، نو په همدغه شرايطو کی نورقومونه
هم اوسیٔ ، هغه ولی دومره ساده اودبی اتفاقی په اور کی وريت شوی
نه دی ؟

که خواری او درپه دری د ده د مرض عامل و بولو ، خود ده په ارخ کې نور وروڼه قومونه هم په خواری او فقر کې اوسي، په هغو کې ولې داسي ناروغي نشته ؟

د بې علمي او ناپوهي خبره که راسي، نو هم مساله د دغه قوار ده، نور قومونه چې دده په ارخ کې اوسي دعلم او پوهې دیوی نه دي ورته لګیدلي، خو د ده په شان یې د تاریخ ځاپیرې نه دي خوړلي:

نو بیا هم علت څه دی ؟

زما په عقیده یوله علتونو څخه دادی چې تراوسه دده وروسته پاته والي په باب پورتنیو سوالونو یا پوښتونو په باب جدي فکر نه دی شوی او علمي منطقي ځواب نـه دی ورتـه ویل شـوی ؟

تر کومه ځایه چې مطالعه لرم غیر له خوشحال خان څخه بل چاد ده سره سپیني خبری نه دي کړي د ده ته چاخپـله آ ینه په لاس نه ده ورکړي. د ده ته دښمنانو د غرور سندري ویلي ، کله چې یې د زمري خطاب ورته کړی، نو د ځنګله په لیوانویې خپته ور څیرلي او کله چې یې د غرونو د باتور باز نوم ورکړی نو د لویو ګرنګونو پر تیزو یې وزرونه ورمات کړی دي .

دی د پاك پروردګار د برحق کلام چې انسان یې ظالم او جاهل بللی دیر ښه مصداق واقع شوی دی . دی د قدرت په حال کې هم له ځانه نامینده وی او پر غوږیې د بل دامر او حکم زمزمه تر هر دول موسیقۍ ښه لګیږي.

دی د جګړې د ډګر فاتح وی خو په هغه توره چې یې میدان فتح کړی وی، هغه توره په درناوی د دښمن مخ ته ایږدی چې د ده مری په غوڅه کړی.

وایی چې تیمور کورګانی کله ملکونه فتح کړل نو د هغو ځایونو حکمرانان یې پایتخت ثمرقندته راټول کړل په یوه لویه کوټه کې یې کښېنول له هر یوه توره یې مخ ته کښېښووله، هر یوه ته یې امر کاوه چې واخله په دغه توره د هغه سر غوڅ کړه، کله چې په دغه سړی دغه بل سر غوڅ کړ نو بیا به یې بل ته امر وکړ چې واخله په دغه توره د هم دغه سړی سر غوڅ کړه چې د هغه بل سر یې غوڅ کړی و، په دی توګه یې دغه ټول قتل کړل. وایی چې په دغو یې غیرتو کې چې په دی پوهیدل چې ټول وژل کیږی یو هم پیدا نشو چې زه خو وژل کیږم نو ولی دا توره اول پر ده یعنی (تیمور) ور حواله نه کړم. څیړونکی وایی چې دوی په خپل نقش کې ماتی خوړلی وه اودغه د تاریخ ماتی ده.

نو بیرته دی خبری ته راځم چې دا پښتانه نن په دی بده ورځ کې راګیر دی آیا دوی به هم په خپل نقش کې تاریخی ماتی نه وی خوړلی؟

وګوری خپل شا وخواته! حوادثو ته نظر واچوئ! د انګریز په اصطلاح دا «ګریټ ګیم» لویه لوبه یا لویه ملنډه چې نن رواته شویده د بدی اوښی دچا دکور تر مخ چوك شویدی؟

ددغه جنګ داور محراق د چاسیمه ده؟ دچا بچی دیر پکښی وریت کیږی او څوك په زیات شمیر دخپل کور او ګور څخه په فرار محکوم

شوی دی . اوس چی ددوی شاړی میری له دوی څخه خالی‌شویدی نوسبا او بیگا به بیاورته راځی ،ځکه پردی کټ ترنیموشپووی، خو په دغه حال‌کی په ډیر ناځوانی دازغونه غوزونه زهیروی چی نن د سر نوشت تاکلوله پاره باید د نفوس په شمیردووټ کارسرته ورسیږی.

واوریځ دابی‌عدالتی، یعنی دا ملیونومهاجر اومسافر باید پره‌پرواو نیست اونابو دشمارشی؟ اوکه ددوی پرمخ دوطن ددروازی تپی شی؟ که نن‌داغیرعادلانه فورمول‌عملی‌شی، نوسباچی هغه تللی اوشړلی راشی، بیابه‌له سره‌داکار کیږی؟ که څرنګه؟

خوداتوله بیاهم‌له دی خاطرورسره کیږی‌چی‌دی‌په خپل وطن‌کی بی وطنه شمار شویدی : دا چی زمانی به ده ته په خپل پلوکی څه ساتلی وی، اوس‌نه پوهیږو؟ خودومره ویلای شو، چی داخوار یو رنځولی، د تاریخ ستړی او په خپله توره ژوبل شوی به ترهغه وخته تکړی خوری‌چی ترخودځان ځانی‌هڅسوځونکی‌ناروغی پرمسلط وی!

دا چی‌دزمان اوتاریخ له ځاپیړو څخه به څرنګه عبرت اخلی اودا لویه بلاچی‌دده په‌میلونوبچی یی‌خوړلی‌او په میلونویی شړلوته اړکړی دده په ویښیدوکی‌څه اغیزه واری که‌یه؟ راتلونکی‌به‌جواب‌راته ووایی.

خوزه پای‌کی‌دومره وایم ،چی دابده ورځ به‌ترهغه وخته ددغه لوی اولس په نصیب وی چی علتونه‌کشفوی او دهغود منځه وړلو په‌لارکی صادقانه شهامت په‌کاراچوی اوله هغوادرسونوڅخه مخ راګرزوی چی دښمن یی ورته په ګوته‌کوی اودمعاول سره د ی په جنګ مصروف ساتی اوبس. په درناوی

کاندیداکادمیسن محمد ابراهیم عطائی ۱۲/۵/۱۳۷۰

اکبر کرکر

# غازی عجب خان افریدی د پښتنی ټولنی

## د قوانینو نماینده څیره

د پښتنو په معاصر تاریخ کی بریتانیا د استعماری لاسبری په وړاندی د پښتنو د آزادی غوښتنی د فردی او ټولنیزو مبارزو شکاوونه بیخی زیات دی په دغه بهیر کی چی په ملت کی یی یو دول انتظام دراود خو په زمانی لحاظ یی په هره مقطع کی دومره نظم نه دراود یو هم د پښتنو د سراسری پاڅونونو په څنګ کی د څینو کورنیو، افرادو شخصیتونو، فردی ټولنیز سرغړاوی او عکس العمل دی چی د غازی عجب خان افریدی داستان یو له هغو څخه دی . د غازی عجب خان داستان یوه نمونه ده خو په زړه پوری ده چی موږ غواړو د پښتنی کډ کسس په چوکاټ کی پری خبری وکړو :

پښتنی قبیلوی نظام د فرد په وړاندی دوه دوله چلند کوی. یو دا چی فرد په کلی توګه د قبیلی د معنوی نظام او قوانینو تابع دی . خپلی ګټی په دغه نظام کی وینی، فرد، کورنی، خیل، پښه ټول او ټول په تدریج

سره د دغه قبیلوی نظام په خدمت کی دی .

بل نظر دادی چی فرد په دوموره شدت سره د قبیلی دعنعنی قانونی نظام تر اثر لاندی نه بلکی پوار آزادی هم لری . او هغه آزادی د نوموړی د شخصی گټو ننګ ، ناموس ، او پښتونوالی پوری اړه لری . پښتانه تـه خپل عزت ، ویاړ ونه او فردی آزادی هـم ارزښت لـری . او بیـلا بیلو مواردو کی یو پښتون کر کتر د خپلو فردی گټو تر شا دریږی .

څو کله چی په دی لړ کی دعجب خان افریدی داستان اولو . بی له شکه چی په هغه کی هم د هغه د پښتنی ماحـول ، فرهـنګ او عنعنوی قوانینو په چوکات کی دخپلی ټولنی قانونی نماینده وی . د هغه داستان دیوه یاغی ، ضد امنیتی دداری دیوه مشر ، برمته کوونکی ، بدل اخسیتونکی اوبی مورده برغمل نیونکی داستان نه دی بلـکی دیوه پښتون شخصیت ضد استعماری مبارزه اوپه یـوه کر کتر کی د هـغه د قـوم اوقبیلی د قوانینو دساتونکی داستان دی . چی موږیی د پښتنی ټـولنی د عنعنوی قوانینو په رڼا کی څوټکی په لاندی ډول یادوو :

(۱) عجب خان د یوه پښتون فرد په توگه دخپلی قبیلی له افرادو سره طرف اومقابله کی واقع نه بلـکی د یوه پردی حکومت یعنی برتانوی حکومت سره طرف واقع دی . هغه دیوه حکومت په توگه په رسمیت نه پیژنی ، د ده دسرغړاونی په بدل کی حکومت (بریتانوی حکومت) دهغه په کورتیری کوی اودهغه سپکاوی او تحقیر کوی . عجب خان ته دخپلی ټولنی عنعنه دده حق ورکوی چی خپل پور او بدل واخلی په دی شرح :

الفنستن لیکی :

« د پښتونولی له مخی د هرسړی حق او وظیفه ده چی خپله بدله پخپله واخلی سره له دی چی شر یعت اوحکومت د شخصی بدل په ضد دپروپاګنډکوی خودخلکو په نظرخپله بدله په خپله اخیستل دپښتونولی له مخی قانونی ریښه لری .

که چیری یوسړی خپله بدله ژرنه شی اخیستلی دغه سړی تر دیری مودی د خپلی بدلی د اخیستلو انتظاربا سی . د یوه پښتون له پاره دبدل نه اخیستل د سپکاوی او پیغور خبره ده په ځینو برخو کی د هغه د خپلوانووظیفه ده چی دکورنی په نوم بدل واخلی . همداشانی په ځینو مسالو کی دهغه ټوله قبیله د هغه سره د بدل په اخیستلو کی مرسته کوی. په ځینو قبیلو کی دبدل اخیستو څخه مخ کښی منځګړتیو به ته پریښودل کیږی (قاموس - ۱۸ مخ) عجب خان دخپل بدل او پورد اخیستلو په خاطرمس ایلس بړمته کوی دی له پاره چی د هغه دکورنی د حیثیت اعاده وشی .

نوموړی دمس ایلس دیرغمل نیولوورو سته دری شرطونه وړاندی کوی په دی ډول :

« ۱ـ په بوستی خیاودحملی په وخت کی چی حکومت ددوی کوم کسان ینولی دی هغه دی پریښودل شی .

۲ـ ده ته دی په خپله علاقه کی د اوسیدواجازت ورکړی شی او حکومت دی دده سره صلح وکړی .

۳- ددوی چې کوم نقصان شوی دی حکومت دي د هغې تاوان ادا کړی. »

سره له دی چې دعجب خان سره شرطونه پوازی د هغه (قوم) کورنی د شخصیت دا عادي سره اړه لري او په ظاهر کې حکومت ورسره داشرطونه منی خو په وروستی بهیر کې پری هیڅ ډول عمل نه کوی.

عجب خان دیوه پښتون په توگه دځینو قوانینو تابع دی. دهغه «تیزه زدی» او انگریزی تورسری سره هغه ډول سلوك کوی چې د پښتو په فرهنگ کې یوځلانده مثال دی هغه دننگ (ناموس) عزت، پاکي او صداقت سمبول دی خو با فرهنگه! « برتانوی حکومت ددغه اساساتو او پرنسیپونو د پښتو لاندی کوونکی دی.

برتانوی حکومت دپښتنی مقرراتو له مخې په دی اړ و چې دعجب خان د کور دسوځولو او سامان تاوان ورکړی. او تاکلی مبلغ هم د (کوتی دشرم) په نامه د کور خاوندته ورکړی. خو برتانوی حکومت د دغه تولو پښتنی قوانینو د پښتو لاندی کولو سره بیا هم ونه شول کړای یو «میړه» پښتون چې هغه نه دځان غوښتنی او شخصی تبارزله مخې بلکې دخپلې قبیلې په وړاندی د یوه خجالت د لیری کولو په خاطر عمل کړی و، ایل کړی.

موز عجب خان دتاریخ په رڼا کې مطالعه کوو داوسنی تاریخ په رڼا کې. په دی ډول داستان اوزد و لې په زړه پوری پیلامه او پای

لری تولی پېښې یکې داسی راغلی چی دفـردسرنـوشت د قبیلـی لـه سرنوشت سره غوټه شوی بریښوی څوفرد یعنې دداستان اصلی قهرمان عجبخان یکی دټولو موجودوستونزوسره‌سره دیرځلانده اوځرگندتبارز کوی.دی‌نه یوازی‌په دغه ټاکلی پیښه کی‌خپل‌بدل اخلی بلکی د پښتنی دوددستور او عنعنی مطابق دبرمته شوی برتـانوی میرمن سره دیـر عالی فرهنگی چلند کوی چی‌نـه یوازی د عجب‌خان افریدی‌دشهرت سبب‌گرځی‌بلـکی دپښتنی‌فرهنگ‌ددیروبالرزښته‌نو‌ونواومثالونودشهرت سبب‌گرځی .

د عجب خان داستان داهم ثابتوی چی د پښتنی ټولنی په قوانینو پابندی‌اوهغوته درناوی هم د پردوله‌پاره اوهم دپـښتنوله پـاره پـه پښتنوسیمو کـی یوبالرزښتـه عنصر دی ددغـه اصل پـه پام کی نـه ـ لرل دیـرزر ددی سبب کـیدای شی چی «منظمه‌انارشی» دلویوقدرتو ـ نودسردردی سبب وگرځـی .

د عجب خان داستان دهنددنیمی وچی له پاره دپښتنودسیمی پـه سیاسی اهمیت باندی بیاهم‌تینیگارکوی، اوداخبـره جـوتـوی چی د پښتنواولـونوغښتلی‌شخصیتونه په سیاسی‌پیښوکی بی اغیزی نه بلکی کله ناکله ددیر اهمیت ور دی .

# AJAB KHAN AMASING OUTLAW

Mohammad Ali Translated by Dr. M. R. Elham

# عجب خان ـ حیرانوونکی سرکش


لیکوونکی: محمد علی

ژباړونکی: پوهاند دکتور محمدرحیم الهام، د افغانستان د علومو

اکاډمي د اکاډمیسین کاندید .



د عجب خان د یادوني د محفل په خاطر

د سرطان ۲٤

۱۳۷۰

د مامورینو کارته، کابل

## سريزه

يوليکوال، چې محمد علی نوميږي، يو کتاب ليکلی دی چې عنوان يې دی: And then the Pathan Murders ... يعنې.. او بيا نو پښتون قتل کوي.

دغه کتاب په 1966 کال دپېښور دپوهنتون دنشراتو له خوا دلاهور په Zareen Art Press کې چاپ شوی دی.

محمد علی 40 کاله (له 1922 څخه تر61 پورې) دمدافع وکيل، څارنوال او بيا دعمومی مدافع وکيل په توګه کار کړی دی. دی پخپله دکتاب په لنډه سريزه کې، ليکي چې دقتل 3000 قضيې يې دخپل کار په موده کې حل وفصل کړي دي. ددې ترلاسه تولې تيرې شوې قضيې په ابتدايي محکمه او د تميز په محکمه کې يورنګه فيصله او تأييد شوي دي. له دغو قضيو نه د1200 قضيو اصلي رسمي دوسيې ده سره موجودي دي. ده دد غودوسيو له مخې دقتل د پېښو ۲۹ مستندې کيسې ليکلې دي، چې يوه يې دعجب خان کيسه ده.

موزاوتاسې پوهيږو چې دعجب خان له کيسې څخه ډيرناولونه او يو پښتوفلم جوړشوی دی ماهغه روايت چې په Fire in AFGHANISTAN کې راغلی لوستی دی اوفلم مې هم ليدلی دی. دغه درې روايته چې ماته معلوم دي لږو ډيرتوپيرونه سره لري. خو محمد علی وايي چې دعجب خان کيسه اودلياقت علی خان دقتل قضيه محکمې ته راجع شوي نه دي. مادعجب خان په برخه کې رسمی مستند سندونـــه کتلی دي او دالومړی ځل دی چې دغه قصه دهغی پـــه رښتيانې اوواقعـــی شکـل چاپيږي.

محمد علی، همدارنګه، دکيسی په پای کې دغه يادداشت هم ثبت کړی دی:

«دادعجب خان دکارنامې مستنده کيسه ده چې دډيرو ناولونو په شکل راوتې ده. خوزما دروايت هره کلمه له رسمي سندونو څخه غورچاڼ شوې ده.»

ليکونکی محمد علی
ژباړونکی محمد رحيم الهام

# عجب خان - حيرانوونکی سرکښ

«ته ډېر بېشرمه ځيناوری يې. زماله کوره ووزه. کشکې مې ته نه وای زيږولی. ته د کهول سپکاوی يې.» عجب خان ته دهغه مور په قهرجن آواز وويل.

«خوږې مورې، څه پېښه ده؟ ما هيڅ کله، دومره په غوصه ليدلې نه وې. ته مې ډېره ولې يې، څه؟» قدرشناسه زوی پوښتنه وکړه. او بيا هغې ورته کيسه وکړه چې سياسی افسرانو دهغې کور او د ځاونديانو کورونه د توپکو دموندلو په نيامت تلاشی کړل. هغې دا هم وويل چې سپاهيانو له ښځينه ووسره ځيږ چلند وکړاو دتلاشی په پلمه يې دهغو پوړنی بيرته کړل. عجب خان چې پوه شو دهغه له موراو بوستی خپلوله ښځينه ووسره بېحرمتی شوې ده هغوی يې ولړزيدل. دبوستی خپلوځينوښځوهم څه ناڅه سخت پيغورونه ورکړل. عجب خان خپلې مورته په «کوران شريف» قسم وکه چې داسی يو کاربه وکی چې پخوا هيڅانه وی کړی

اوبرتانوی حکومت ته به داسې یوسبق ورکی چې هیڅکله یې هیر نه کی. د دغې کلکې لوړې نه وروسته له کوره ووت او دخپلو ملګرو دبیالیدودپاره حجرې ته ولاړ .

## نښه ویشتونکې

عجب خان اودهغه وروړشاهزاده دبوستو خیل اپریدی شیردل زامن له خپلې مورسره د آزادوقبایلودجوکی په کلې کې دکوهاټ پیښوردلارې په اویدیزه خنده کې څومیله لرې پروت دی هستوګنه کوله. کله چې یې عمردخپلووزواوپسونودپوولوشو، دټوپک ویشتلو په اوبه یې پیل وکه . په شپاړس کلنۍ کې کې داسې تکړه نښه ویشتونکې شو، چې دجوکی په زله وکې چاددهسره سیالی نه شوای کولای. دنښوویشتلوپه دیروسیالیوکې یې خپل لاس بری تهاوته ښوولی و.

ترتولولږدی ښار، چې دجوکی زلمیانودسوداخیستویاسیل دپاره ورتللې، کوهاټ و، چې په بازارونوکې به یې دغه وخونګرمه څوانان چکرونه وهل، اوکه به څو پیسې ورسره وې، چې زیاتره به ورسره نه وې ، دکباپ په دکان یاپه سماوارکې به یې مصرفولی . خوعجب خان به ددغوچکرونوپه ترڅ کې، دایم، دهغوپیره دارانودحرکاتو څارنه کوله چې دحکومت ملکي اوعسکری ماڼی یې ساتلې .

دهغه دا ارمان وچې که یوشخصی ۳۰۳ لمبرټوپک ګوتوته ورشی. دهغه خپل ټوپک یوه بیکاره غوندی وسله وه چې دکوهاټ په دره

کی کوم یاغګر جوړ کړی واو په یوځه دزویی میل ته وديده . نوبی بو مازیګر نیت وکړچی دکوهات دښاردپولیسو دپوستي له پیره دارڅخه دهغه ټوپك ولجه کی. نو پوستی ته نژدې پرمخکه باندی وغزیدهاو پیره داریی ترڅارنې لاندې ونیو. کله چی پیره دارد خپل معمول وړاندې موش له پاره کین شاګرزوکه . لکه چی پرانګ پرخپل ښکار باندې ورټوپ کړی، عجب خان پری حمله وکړه، پرمخکه باندی یی وپرزاوه، ټوپك یی ځینی واخیست اوو تښتید .

پر پیره دار مسکین باندې ناڅاپی حمله سوی وه له خاورونه راپورته شو، دخطرشپیلی یې پوه کړه، پولیسان ورنه چاپیرشول؛ خو تر هغو چی په خبره پوهیدل، عجب خان له وخته ځان په تیاروکی ددوی له سترګو پناکړی و. دغه ټول په یوه لحظه کی پیښ شوی وو. عجب خان او ملګری یی بریالی کلی ته ولاړل. دکلی مشرانو ددغې زړورتیاپه خاطر دعجب خان شاو تپوله. خو عجب خان د«پرزولو او ولجه کولو» کار بیا تکرار کړ، او په یوه لنډه موده کی یی ښایسته زیات سو کاری ټوپك تولاسه کړل.

ځینی یی ملګروته ورکړل، ځینی یی پر کلیوالو باندې په زیاته بیه خرخ کړل . دټوپکو دغه ولجه کول دعجب خان ددلی دفعالیتونو منظم، ځانګړتیا شوه. په زیاترو دغو پیښو کی، مقامات پرده باندې شکمن شول، خو له ډیرو هڅو سره سره یی ونشو کړای چی دی بالفعل ونیسی. دپیرنګی حکومت له قبایلیانو سره یوه لوظنامه امضا کړې وه

چې له هغې سره سم یې نشوای کولای ددوی په سیمه کې څوك ونیسي.

دغو خطرناکو پېښو داولسوالۍ مقامات هك حیران کړل. جګړن سی اي. بروس، چې په دې وخت کې دکوهاټ دولسوالۍ دپټي کمشنرو، داسې فیصله وکړه چې داردو په مرسته اولجه شوی توپك بېرته ترلاسه کړي. نوی دسیمه یزغوندله قوماندان څخه وغوښت چې دکوهاټ درې دڅېنو هغو قبایلي کلیو بشپړه تلاشي وکي چې دده په اټکل ولجه شوی توپك په کې خوندي شوی وو.

د 1923 کال داپریل دمیاشتې په سهار، کله چې د درې خلك له خوبه راپاڅېدل، خپل کورونه یې دسپایانو له خوا ترمحاصرې لاندې ولیدل. اوښځو په شمول هیچا ته اجازه نه وه چې له بشپړې تلاشۍ نه پرته له کوره ووزي. دکورونو تلاشي دلمر له ختوسره سمه پیل شوه. حتی دزنانه ووخونې هم تلاشي شوې. ښځو ته امروشو چې د سپایانو له خوا ترفزیکي تلاشي کیدووروسته، له خپلو کورنونه ووزي. سپایانو دځینو ښځو بهرنۍ جامې په خشونت سره څېرې کړې چې ترې لاندې یې وسله پټه کړې نه وي. دی تلاشیو څوګنټې دوام وموند اوپه پای کې له حکومت څخه ولجه شوي څومیله توپك ترلاسه شول.

دپېرنګي د حکومت له رسمي اعلامیې سره سم «متقابله حمله» بریالۍ شوه، خودصحنې قهرمان، عجب خان ونه نیول شو. هغه په کلي کې نه و. له خپلو وروشهزاده سره اوې کلي ته دخپل یودوست لیدوته تللی و. کله چې کورته راستون شو، ویې لیدل چې دکلي ټول

کورونه لټول شوي وو، دسپايانوله بد چلند نه ټول خلك په غوسه وو. دقبايليانوزړونه دغچ اخيستو دپاره ډك شوي وو. کله چي خلكو عجب خان ولید، له تریو تندیو سره یې هرکلي وکه، اوکله چي په کورنوو ت د مور له داسي خبر وسره بدرگه شه چي په زړه کي یې دغضب اور بل کړ.

د ۱۹۲۳ کال داپریل د ۱٤ مي په سهار، جگړن بروس سرجان مفي دشمالمغربي سرحدايالت دهغه وخت چيف کمشنرته، چي دبنو په ليدوکتو بوخت و، اطلاع ورکړه چي ميرمن ايلس دسرحدي کنډك دتورن ميرمن ورمه شپه وژل شوې او پيغله مولي ايلس ۱۸ کلنه لوريي تښتول شوي ده. چيف کمشنرته دااطلاع هم ورکړه شوه، چي هري خواته گزمې لېږلي شوي دي؛ خودمتهم په نيولو يا ددرك په معلومولو نه دي بريالي شوي. حکومتي مقاماتو تـه لاڅرگنده نه وه چي ددغه خشونت آميز کار عامل څوك و، خو د عجب خان پر دلي باندي، چي دري کاله وړومبی په کوهات کي دکلونل او ميرمن فولکس په قتل کي مشکوکه شوي وه، ددې پيښـي کلك گومان رامنځته شوي و.

هغه بنگله چي دغه دردونکي پيښه پکي شوي و، غونډ دقوماندانی د بيرغ دساتونکوافسرانوماني ته ورڅيرمه وه او يو نظامي گارد یې لاره. پوهيلند نومي کپتان چي داعاشي اوترانسپورتي چارو مسؤول و، هم له خپلې ميرمنې سره پـه همدې بنگـله کي اوسيده. هغه بايد د پيغلې ايلس کوکـاري له بلې کوټې څخه اورېدلې واي؛ خو حيرانتيا په دې که ده چي دی

ترهغه پورې چې د خپل سپي او د بنګلي د څوکيدار په کړيکوويښ نه شو، له خپل ځایه ونه پاڅید.

دی تیک هغه وخت را جګ شو، چې متهم له بنګلي نه وتلی و، د دري امنيتي پوستو ته (چې په سرحدي ليکه کې د کوهات د درې په خواله کې پراته وو) او محمدزيو ته يې تيلفونونه وکړل چې قبايلي سيمو ته دو رتګ ټولې لارې وڅارې، د پوليسو سرمامور او د کوهات سرحدي پوليسو ته يې هم اطلاع ورکړه.

څوکيدار چې په برنډه کې پروت و، د کور خدمتګارانو ته د خطر ابلاغ وکړ، او بيا ور وسته ولاړ، چې د غونډ قوماندان د کور نظامي ګارډ ته خبر ورکي. کله چې ګارد بنګلي ته ورسيد، غلی له نجلۍ سره تری تم شوې وه.

ميرمن ايلس له خپلې اورسره، د خوب په خونه کې، تر يوې پښه خانی لاندې، پرتې وې. دې چې غلی وليدله، سمدستي يې د خطر اعلان وکه، له شفر سره سم يې په شپېلۍ درې وارې پوک وواهه عجب خان ورته هيله وکړه چې چوب اوسي او په چاکوي ووير وله څوهغې چاکو کلک ونيو، او شهزاده په چاړه ووژله. عجب خان پيغله ايلس پورته کړه او د ناستې د کوټې له لارې يې ځان سره بوتله.

له عجب خان سره د بلوڅود کنډک پخواني سپاهي شهزاده سلطان مهر، ميرا اکبر، چې په ميرك مشهور و، او د اتيك د ولسوالۍ يو هستوګن سړی کښين چې حيدرشاه نوميد، ملګري وو. دوی په ځغاسته د هاکي له

دګرځځ، تیرشول، له یوه کوچني پله ځځه پورې وتل، داخلـي ګردي سړك ته ننوتل اوله هغه ځځه کوندوته ورتـیرشول. هلته یې داور- ګادي د پټلو د څنګ لاره ونیوله اودخوشالګړه سړك ته یې ځانونه ورسول . له یوه ساعت مزل نه وروسته دشیخان له کلي نه واوښتل او د تپې لمنې ته ورننږدې شول .

د «خوله دتد» ویالې ته چې ورسیدل، له هغې نه یې اوبه وڅښلې چې له ویالې نه پورې وتل او تـپې ته یې په ختو پـیل وکړ، سپیدې وچاودیدې ، اوچې د تپې سرته ورسیدل لمرختلی و . د عجب خان یوملګرئ وړاندې ولاړچې دتم ځیدوله پاره داسې یوځای ولټوي چې تر بیګاه پورې ځانونه په کې پټ وساتلی شی . دیوې ونې لاندې یې یوه دبورینه کنده وموندله او ټولوځانونـه پکې پناه کړل له کندې نـه ترماښا مـه پـورې ونه وتل .

پیغله ایلس له دې ځای نه د پېښورکوهات په لاره باندې دټولو موټـري وسایطوتـګ راتـګ لیدلای سوای . هغې د پـلیو اوسپرو سپاپانو دلې ولیدلې اوداسې یې وانګیرله چوګوندې ددې په لټه کې دي.

## خطر

پیغله ایلس پوهېدله چې که مازې په زوره پوه‌چیـغه وکي، نوبې زغ اورپدل کیږي. خوپه دې هم پوهیدله چې داکارخطرناك دي‌نوبې هوښـیاري وکړه اوچوپـه خوله پـاتې شوه . عجب خان اوملګروبې

دکوټ دلورې د غره څنډې څوځلې له دوربين سره وڅارلې او په دې خوشاله شول چې دپټيدو پرځای باندې يې څوك نه وشکمن شوي.

ما ښام چې شو، بيا يې خپل مزل له سره پيل کړ او پر لويديزه خوا لسومري درې ته او بيا د پېښور داوېې لارې په څنګ کې يوې وچې شيلې ته شوه شول. په دې وخت کې شهزاده له ملګرو څخه جلا شو او له نژدې کلي څخه يې تودې شيدې او وچه ډوډۍ له ځان سره راوړې.

پيغله ايلس کړې ورځ څه نه وو خوړلي، نو يې ډوډۍ له شيدو سره حريصانه وخوړلې. دوې بيا د پېښور پرسرك رهي شول او چې کوهاټ ملاميلې ته ورسيدل، د سيمې خيلو په دره ورګډ شول. له ډېرو کرو ندواو کليو نه تير شول او چې د غره سرته وختل يو خرېې هلته ومو ند. تول ستړې ستومانه وو؛ له کلي نه لرې ترسباوون پورې پر نيمه څيواو پوستکو باندې، چې دتورن ايلس له کوره يې را اخيستې وو پريوتل.

سهار وختي را پاڅېدل؛ نيمځې او نور شيان يې پر خره باندې وا چول او له پيغلې ايلس نه يې وغوښتل چې پر خره باندې سپره شي. هغه هم سپره شوه. بيا ورو ستره، يوې تپې ته وختل او چې يې سرته ورسيدل دلمر وړانګې د غره شاوخوا محاصره کړې وه. پيغله له خره نه را کښته شوه. دوی خر هماله خوشې کړ، او پريوې بلې درې شيوه شول.

# د سیندوچ تل

ددري پر تل باندي، دیوه وچ سمنید په شیله کې یې درښواوبو یوه چنیه وموندله . د ۱۹۲۳ کال داپریل د ۱۵ نیټې توله ورځ یې هلته دهمدي چینې د پاسه تیره کړه . له بڼه مرغه، هلته له هیڅ سره مخامخ نه شول چې د مازیګر پنځه بجې شوې، بیا یې په سفر پیل وکه؛ یوي بلې تپې ته وختل او هلته یې د مه جوړه کړه . ددي تپې، چې « دزړي ښځې پوزه» نومیده ، ها پلوته ورکښته شول اوددمستورب » له سیند نه پوري وتل چې د ما ښام نژدي کیده، له تپې سره جوخته لاره یې ونیوله . له تپې څخه څوځلې دي خوااوبلې خواته واوښتل او په پای کې یې دهغې په لمنه کې شپه تیره کړه . دغه ځای شین ګټته نژدي ،د تر یغواوجوکې شاه لیله ترمنځ پروت دي .

سبا، داپریل په ۱٦، ترسباوون د مخه یې بیا خپل سخت سفر له سره پیل کړ.د پیغلی ایلس پښې تښاکې سوې وې اوویلې یې ووچې نور په لاره نشي تلی . نوځکه په یوسفوی کټ کې ورل کیدله . دوي سردري ته ورسیدل او بیابې د غره د سرلوري لاره ونیوله . هلته یې یومحفوظ ځای ترستر ګوشواوورځ یې همالته تیره کړه .

ماښام غره ته ورو ختل اوهاخواته یې یوه ښکلې دره ولیدله چې په کلیواوغرنیوویالوډکه وه . دوي هم ورایله شول . په لاره کې یې دوي ښځې ولیدلې . پیغلې ایلس ځان په یوڅادرکې پیچلی و.

ښځې کنجکاوي سوي . یوه ورنـژدي شوه او د هغې ښاد ربي له مخ
ور پورته کړاو په پښتو بې څه ورته وویلې. پیغله ایلس په پښتو نه پوهیدله
او ونه پوهیدله چې څه یې ورته وویل. دعجب خان یوملګري ښځې ته
خوتوري پیسې ورکړې او ښځې هم په خپله لاره رهی شولې. دعجب خان
دلې دا پریل د ۱۶/۱۷ نیټې په ټوله شپه کې مزل کاوه. سباوون ته نژدې
یو کلي ته ورسیدل او پیغله ایلس یوکورته چې له کاي نه بیل و، بو تله
شوه . دلې دا پریل ۲۷ ورځ هلته تیره کړه او د ماښام په تیارو کې یـې
بیا مزل شروع کـړ پـه دې ځای کې یوبل سړی، چې ګـل اکـبر نومیده
ورسره ملګری شو. دوی بیا غروته په ختو شول او په همدې لاره کې
یو سپین زیږي له عجب خان سره خوشې ملتیاوکړه .

خو سپین زیږی هم دعجب خان له دلې څخه جلا شو او پـه خپله،
مخه ولاړه. دوی ټوله شپه له یوه غره نه بل ته اوله یوې شیلې نه بلې ته
اوښتل رااوښتل. په پای کې، مانځه مال د یوغره سرته ورسیدل چې
د جنغوزوله ونو نه پوښلی و، او واوره پرې پرته وه. هلته چې یې دمه جوړه
کړه، مخ په دره را کوز شول او د «خانکي بازار» کلـي ته ورسیـدل ، دا
نیټه دا پریل اتلسمه دسهارمهال و .

د کورمې ایجنسی پولیټیکل ایجنټ تو رن هیل دپیغلې ایلس لـه پاره
کالي او نو رضروري شیان دیو باوري استازي په لاس لیږلي وو. پیغلې
ایلس پو لیټیکل ایجنټ ته یوه پرزه لیږلې وه او پـه کـې یـې لیـکـلـي
ووچــې عجـب خــان دهغې د آزادولوله پاره یوه درنـه تیـزه ایـښـې

ده اوسربیره پردې یې غوښتې دی چې دهغه درې ملګريدې له بنده ایله شي چې د کوهاټ په جیل کې بندیان دي. درې ورځې وروسته دعجب خان دله له کلي نه ووتل او تړوله شپه یې مزل وواهه چې سهار دمموزیو کلي ته ورسیزي. هلته پیغلې ایلس ته اجازه وشوه چې لـه دوو پولیتیکل افسرانو خان بهادرعلی خان اوکث . ب . مغل بازخـان سره چې دهغې دآزادیدودبندوبست له پاره ورغلي وو، وګووي.

میرمن ستاردپیښاوردافغـان میشن هـاسپیتل د روغتون یـوه نرسه له کث . ب . مغل بازخان سره لیږل سوې وه چې له پیغلې ایلس سره دارتیاپه مهال روغتیایي مرستې وکړي.

دپیغلې ایلس له وینا سره سم ، خدمتګار دهغوی دکورتـه ولـې دروازې اوکړکی دشپې په نه نیموبجوځنځیر کړې وې؛ خوخرنګه چې دعجب خان دننوتلو له پاره کومه دروازه یاکړکۍ ماته شوې نه وه، هغې داسې ګومان کاوه چې ښایی له یرغلګروڅخه یو یاخوتنو ددوی ترمیزلاندې هغه وخت پټ سوي ووچې خدمتګارمیرمن ایلس ته دشپه په خیرویلو له پاره دناستې خونې ته ننوتلی و. کلـه چې میرمـن ایلس دخوب کوټې ته دیرغلګرو ننوتل ولیدل ،په کړیکو یې پیل وکړ، اوسره له دې چې سپې هم خپل ـ خوکث یې ژغورلوته ونه رسید :

کله چې پیغله ایلس له برنډې څخه وایستل شوه، سپی لاهم خپل یرغلګروخپل کاردومره په چـوپتیااوچټکۍ سره ترسره کـړی وچـې هیچااتکل نه شوای کولای چې دغوند دقوماندان دکور په سیوري کې

کومه غیر عادي پېښه سرته رسيدلې وي. يو رغلګرو له ځان سره دوه نيم ځي، دوه دژوي پوتکي، يوه دعکاسۍ کمره او يو ساعت هم اخيستي وو. عجب خان کمره او ساعت بيرته پيغلې ايلس ته ور کړه او ساعت دهغې د کهول يو ميراثي يادګار وه.

د پوليسو له تحقيقاتو نه ځرګنده شوه هغه پيره دار چې د بنګلې دشاد برخې محافظ وه، دشپې په ۱۲ بجو او ٤٥ دقيقو کې، په دې ګومان چې کوم ږغ يې اوريدلی وچيغه کړې وه او ارهم په دې وخت کې ويښ وا و د بيرغ دملتونو افسرانو دخونې دشاد برندې د برق څراغ يې روښانه کړی و، خو کوم شي يې ليدلی نه و.

کپتان هيلند، چې دنورن ايلس په بنګله کې اوسيده، ويلې وچې دسپې له غېاسره ويښ شوی، خو دهغه دغپلو دشدت په وجه له خپلې بستر ځخه پاڅيدلی و. وروسته ترهغه يې اوريدلي وچې چوکيدار ناري وهي: «داکو، داکو!» له خپلې اردلي اياګل ځخه يې پوښتنه وکړه چې داټوان چيری وو. اردلي ورته ويلي وچې په بنګله کې. يې شپېلۍ درې ځلې پوه کړی وه چې په دې شفرسره دجنرال ساتونکي خبر کړي.

بيايي شپېلۍ دميرمن ايلس محافظ ته ور کړه او هغه هم همدغه شفروږغاوه. بيا محافظ په خپله ولاړ چې ګارد خبر کړي. خو په همدې وخت کې دګارد ځوانانو غږي له کپتان هيلند سره بنګلې ته ننوتل او ويې ليدل چې ميرمن ايلس مړه پرته ده او دپيغلې ايلس درک نشته.

خانکي بازار، هغه کلي چې عجب خان پيغله ايلس په کې ساتله،

یومشهور زیارت اري چې مجاور یې آخونزاده ملامحمود ، یو روحاني پیرو. هغه ته داور کزي او افریدي دواړو قبیلو خلکو یو شان ارادت درلود هغه دومره میلمه پال او یې کبره سړی وچې زیارت کوونکو او خپلو مریدانو ته به یې پخپله دوډۍ راوړله ، او مړول به یې. د زیارت ټول عواید به یې په خپلو مریدانو مصرفول.

کله چې دغه ملاصاحب دعجب خان دملګرو له اختطاف کولو څخه خبر شو ، ددوی دغه کار یې په جومات کې برالاوغانده ؛ خو په همدې ترڅ کې یې هغه بمباری هم محکومه کړې چې برطانوي حکومت دوزیرستان دصوبې دوزیرو او مسیدو ایجنسیو پر کلو باندې کړې وې. ملاصاحب پر ټولو سرکښو قبایلو باندې دومره نفوذ لاره چې له او امرو څخه یې هیڅوا ، دعجب خان ددلې په شمول ، سرنشو غړولی.

دوو پولیټیکل افسرانو خپلې ورسپارل شوې دندې په ښه تاکتیک سره دنجلۍ دخلاصون په خاطر ترسره کړې. تر ډیرو تشریفاتو وروسته عجب خان ومنله چې نجلۍ ملاصاحب ته وسپاري ، چې له خپلې خوښې سره سم ورسره چلندو کړي. ملامحمود فوراً نجلۍ خپل کورته وایزله او داوخت ۸ ورځې وروسته تر اختطاف ، د ۱۹۲۳ کال داپریل د۲۲ دماسپښین تقریباً ۳ بجې وې. څو ګړۍ وروسته میرمن ستارې نرسې ته اجازه وشوه چې پیغله ایلسر وګوري. دنجلۍ له خلاصون نه وروسته دخیبر ایجنسي لوی ملک ، کث . ب . محمد زمان خان دتیراپه جو کې

کې دعجب خان اوسلطان میر کلوته له افریدی اوشینواري لښکرو مرسته ننوت ، اوددې له پاره چې دپیرنګي حکومت ته خپله وفاداري ثابته کړي ، دهغو کورونه یې وران کړل .

ملاصاحب نجلی پولیټیکل افسرانوته وسپارله ، خو دپیرنګي حکومت تینګاروکړاوپرهغه یې زیات فشارراوست چې دعجب خان دلـه هم حکومت ته په لاس ورکي . خوملاصاحب ونه منله اوویې ویل چـې داکاربیخي امکان نلري ، ځکه دوی ماته پناه راوړې ، اوپه اعتماد کې خیانت کول پـه موږ کې نشته . ملاصاحب له بلې خوا له علیزي قبایلو نه غوښتنه وکړه چې د عجب خان دلې ته اجازه ورکړي چې د «میانګان ګوندګاه» په حصار دوله ځای کې هستوګن شي .

داچې تردې وروسته عجب خان ته څـه ورپیښ سول ، پـه څو جملوکې ویل کیدای شي . هغه له سرحدنه هاخوا افغانستان ته پوري ووت . کله چې د سقاوزوی دافغانستان تخت خپل کـړ ، عجب خـان دجنرال غلام نبی خان په لښکرکې له هغه سره په جګړوکـې برخـه واخیسته اوټپي شو . خوچه لښکروجګړه پریښوده اودې تري ووت دعجب خان اوشهزاده کورونه په انقلاب کې تالاشول . کله چې دسقاو زوی دجنرال نادرخان له خوا وژل شو ، عجب خان خپل وروړشهزاده نادرخان ته ورولیږه چې د دوی دلوت شوي جایداد تلافي وکي . ده داهم غوښتی و چې په کوهدامن کې دهستوګنې اجازه ورکړی شي . جنرال نادرخان ، چې وروسته د کابل پرتخت کښیناست اونادرشاه شو

وعده ورکړه چې که تر تحقیق وروسته ددوی شکایت درست وخیژي نو به مرسته ورسره وشي.

دعجب خان د شخصیت په باب وروستی خبره : کله چې میرمن ستار پیغله ایلس په بشپړه توګه معاینـه کړه ، چیف کمشنرتـه یـې په دې ډول رپوټ ولیږه: نه پیغله ایلس زخمی شوې ده او نه کوم جنایی تیری وربانديشوی دی . یوازني تپونه چې ورته عارض دي داوږده سفرله امله دهغې دپښو تښا کې دي . حتی پیغلی ایلس په خپله اعتراف وکړچې عجب خان ورسره د خپلی خور په شان سلوک کړی دی، او اختطاف کړې یې ځکه وه چې دخپلې موردبـې ستره کیدو غـچ واخلي اوداديرغملي په توګه وساتي.

کلونه کلونه وروسته، دپیښور په قصه خواني بازار کـې یوه داسې شایعه خپره شوه چې عجب خان به چیفه کمشنریادپیښورلـه نظـامي افسرانوڅخه دهغه یوانډول منصبداروتښتوي. مقاماتـو تینګـ امنیتی تدابیروسنجول . حتی ځینی غټې ونې یې هم چپه کړې چې دحکومت دمشر دهستوګنځي چارچاپېرولاړې وې خودایوه غلطه شایعه وه.

باورداسې کیږي چې عجب خان په 1959 کـال پـه افغانستان کـې وفات شو.

یادداشت: دادعجب خان دکارنامې مستنده کیسه ده چې ددیرو ناولونو په شکلونولیکل شوې ده . د پورتنی روایت هره کلمه له رسمي اسنادوڅخه غورچاڼ سوې ده .

افضل ټکور

# عجب خان اپريدی

## دپښتو ليکنو په هنداره کی

زموږد زمانی ديوه پوه اوفاضل په قول چی شلمه پيړی داوښتون اوبدلون پيړی ده، شلمه پيړی دسياسی تغيراتواوتخنيکی آلاتو دانکشاف پيړی ده . په رښتياهم چی شلمه پيړی دډير وسياسی اواجتماعی بدلو-نونو پيړی ده . دغه پيړی دپښتنوپه ژوندکی اودپښتنوپه تاريخ کی هم خاص اوديادونی وړځلی لری زموږد معاصرتاريخ يورنګين اوتلپاتی څپرکي دانګريزی ښکيلا ککرو پسرضد دپښتنومبارزی او سرښندنی جوړوي . دانګريزانو پسرضددپښتنومبارزی دپښتون قوم يوله هغو کارنامو څخه دي چی زموږ ميړنی خلک اوزموږ تاريخ يی نه شی هيرولی. دغه مبارزی په ټوله پښتو نخواکي ديوه اوښتون اوبدلون په توګه را څرګندېږی اوزموږدتاريخ پاڼی جوړوي. ددغوحماسو اوسرښندنو په سرکي تاريخ داسی پښتانه زيږولي چی دغه اولس پری فخراوويا ړ کولی شی . کوم ټکی چی دلته دزياتی يادونی وړدی دادی چی پښتنو

ليکوالواوشاعرانوخپل دغه قهرمانان نه دي هير کړي. بلکه عملاً يې په دغوسرښندنواوويارنـوکې بـرخه اخستې ده . دپښتنودمبارزينو سنگريې په خپلوحماسواوسندروتو دساتلي دي. پښتانه قهرمانان اوبا ـ تورانيي دشعرپه ژبه ستايلي اوژوندي ساتلي دي . زموږدپيرى دملي مبارزينو او دانگريزي ښکيلاکگرو پرضد دپښتنو د قهـرمانا نو څخه يو هم عجب خان اپريدى دي . عجب خان اپريدى زموږددغې پيرى دپښتنودتاريخ يوه روښانه اوځيلدونـکې څيره ده . هرڅـوک چې د انگريزانوپرضددپښتنومبارزينو په باب څه وايي نو دعجب خان اپريدى نوم به ددغو سرښندونکو اوميړنيوپه سرکې اخلي اودهغه په ميړانه به فخركوي . لکه چې مخکې يادونه وشوه . زموږليکوالواوشاعرانـو دخپل قوم دغه ملي قهرمانان دهروخت له پاره ستايلي دي. زه غواړم په خپله دغه ليکنه کې په پښتوليکنوکې دعجب خان اپريدى څيره در وپيژنم . دعجب خان اپريدى په باب په پښتو ژبه زيات اثار کيښل شوي زياتوشاعرانو د ده په ميړانه شعرونـــه ليکلي چې ددغو ټولـــو اثارو معرفي کول زماپه فکريوله کړاونه ډک کاردي . خوماترخپلې وسې کوشش کړى دى چې هغه اثارمعرفي کړم چې په هغوکې ددغه نوميا ـ لي پښتون په هکله ليکنې اويادونې راغلي وي .

الف : په داستاني اثاروکې دعجب خان څيره :

بهير :- بهيردهغه اثر نوم دى چې دښاغلي محمد گلاب ننگرهاري له خوااراټول، ترتيب او تدوين شوى او په ١٣٣٦ش کال کې دقبايلو د

مستقلې ریاست له‌خوا پښه بڼکلې قطع په ۲۶۶ مخونو کې چاپ شوی‌دي.
په دغه اثر کې زیاتره هغه تاریخي او مستندې لندۍ کیسې راغلې چې دپښتنو مبارزې اوسرښندنې دانګریزانوپرضدپه کې بیان شوی دی .
دکتاب په سر کې د محترم سلیمي یوه لنډه سریزه چاپ ده اوورپسې ددغه‌اثرمدون اروانښاد ګلاب ننګرهاری یوه ارزښتناکه سویزه کښلې اودانګریزانوپرضدیې دپښتنودمبارزواوکارناموپو لنډجاج اخستی‌دي.
په دغه اثرکې ځای‌ پرځای دپښتنودقربانیوتصویرونه هم خپاره شوی دي . ددی اثرزیاته برخه دخدایي‌خدمتګارو دغورځنګ مبارزوته وقف شوي. اوزیاتره هغه لنډۍ کیسې په کې راغلې دی چې دخدايي خدمتګارانوپه هکله لیکلې شوی‌دی .ددی کتاب ټولې کیسې‌دپښتو نخوا دلیکوالو کیسې دي . په دغه اثر کې دعجب خان په نوم دخیبردردې دخوږژبې‌شاعراولیکوال مرادشینواری یوه لنډه‌افسانه چاپ ده چې په دغه افسانه کې دعجب خان دقهرماني میړانې اوشجاعت یادونه شوی ده ددغې لنډۍ کیسې په سر کې دلیکوال له خوادغه یادښت هم خورشوی دي :

«داواقعه په ۱۹۲۳ عیسوی کال کې شوی وه اومادافسانې په شکل کې ولیکله په دې افسانه کې‌دملکانواوسرکاری افسرانونه پرته نورټول نومونه فرضي‌دی ...» دعجب خان په نوم دمرادشینواری دغه کیسه دبهیرد۳۷ مخ نه نیولې تر۵۲ مخ پورې چاپ شوی ده .

«غازیان ورونه»دی اثریوه بله کیسه چې‌دکتاب‌له ۵۳ مخ نه تر۷۲

مخ پورتې چاپ شوی ده . ددغې کیسې اصلي قهرمان هم عجب خان اپریدی دي . په کیسه کې د دغه پښتون اوصاف او کره وره بیان شوي دي ددغې لنډې کیسې پیل داسې شوی دي :

«دمزار شریف په ودانه او زرغونه سیمه کې دلارې په سر دبازار په مخ ، اودجماعت په غولي کې دا پنځه ویشت دیرش کاله کېږي چې یو منډری ، ګینډلی ، غنم رنګه او په سپینه ږیره عادي سړی دستو - ګومتر ګو کېږي . داسړی په خوله چوپ ، په خوی نرم او په زړه دیر کلک ښکاري لکه څنګه چې داسړی دونې لنډاو دنرو څامونه په خلکو کې ګډاوورک معلومېږي حقیقت داسې نه دی او داسپین ږیری زلمی دیوی داسې لویې ونې ډډی چې ځرړی او ولې یې په تیرا او ځانګې ښاخونه یې مزار ته رسیدلي دي :

داسړی دیوی داسې بوګنېډلي افسانې هیرودی چې زموږ په قومي تاریخ کې به یې دشاهانه زغل او یرغل نه سوا مثالونه دګوتو د شمارو ددې سپین ږیری دو چولي ګونجه ګونجه دورځو شپو دمزله یوه اوږده افسانه ده چې سړی دورځو شپو په بهیر کې مخ پورته لاړشې اودیرش کاله مزل ووهې نو ددیلې په دروازو به ددی خرپر او نن سباوېده زمري نوم لیکلي وګورې . اوس هم مس ایلس ژوندی ده او دیورپه تنکې ځینکې دپیر یانودیو انو دافسانو مینه والو ذهني دسر ګذشت یه او ریدلو ماتوی . عجب خان ... ا پریدی ... دیوی عالیشانې امپراتورې سره په تله کې پروت او دمیالي په حساب ... کې ولاړ پښتون .....:

او په‌دی توگه لیکوال په دغه لنډه کیسه کی په ډیر نه داستانی‌دول سره ددغه پښتون قهرمان‌د کارنامو یادونه کړی‌ده . دغه کیسه مرحوم محمد گلاب ننگرهاری لیکلی ده.

عجب‌خان اپریدی :- داد یوه بل ځانگړی اثرنوم دی‌چی‌دنقاش نظرت محمد اسلام نسیم له‌خوالیکلی‌شوی‌او ټول ۱۵۶ مخونه لری . دغه اثریه ۱۹۶۱ عیسوی کال‌کی په پښتونخواکی چاپ او خپورشوی دی، د دی کتاب په سرکی‌د وطن مینه او دعجب‌خان نعره ، اوله‌دی نه لاندی دایو بیت‌چاپ شوی‌دی .

ستاننگیالی‌زلمی دننگ‌او دغیرت‌نه ډک دی
کړی‌منزری شیران له‌تا نه به قربان وطنه

له‌دی‌نه وروسته بیاد دی‌اثرځینی‌عمده‌او اساسی‌ټکی‌په‌لنډ یز سره په دی‌دول راغلی دی : دعجب‌خان کارنامی او بهادری ،دعجب‌خان هغه داستان‌چی‌نن‌پری‌دتاریخ هریو مخ ډیر فخرکوی‌داپر یدی زلمی هغه کار نامی...چی نن پری‌هر یو پښتون ډیرنازاوفخر کوی ... عجب خان هغه کارونه چی‌انگریز قوم ور ته توبی اوباسلی‌دی . دعجب‌خان دخپل‌وطن‌سره‌مینه محبت‌او هغه‌دانگریزی‌قوم نه آزادول عجب‌خان اپریدی‌ریښتینی واقعات ، داپریدود بهادری‌داستان، دا پریدو پیغلو دانگریزانو سره جنگ کول ، انگریزان په شاکیدل‌او دعجب خان شرط منل دانگریزانو اخوندبابا ته تلل میلمه واپس کول دانقریباً ددغه اثرلنډیزدی‌دغه کتاب‌دعجب‌خان‌اپریدی کیسی‌ته‌وقف

شوي‌دي‌لومړی‌دعجب‌خان‌اپريدی په‌باب‌اودده دکيليوالی‌ژوندپه‌باب بحث‌په کی‌شوی‌او بيا تورله واقعه په‌مستند دول دليکوال‌له‌خوا کښل شوی‌ده . عجب‌خان اختلافات له انګريزانو سره او د دغو اختلافاتو عواملی‌هم بيان شوي‌دي، ځای‌پرځای‌په کی دانګريزانو له‌خراځنی اطلاعيی چی دعجب‌خان دنيولو اودده دکور دلوټولواونورو برخورد- دنوپه‌باب‌دانګريزانولەخوا په هماغه‌وخت کښی‌خپری‌شوی‌هم په دی کتاب کی‌ليکوال‌راخستی‌دی. داچول انګريزانو ته‌دعجب‌خان پيغامونه له هغوی سره دشرطونو د مناو مسئلی هم د دی‌کتاب پاڼوی ښکلی کړی دی .دغه کتاب‌دليکوال لەخوا داسی اهدا شوی دی؟

«ترون: دهغوپه‌نوم چی‌چا دوطن خدمت کړی دی. ! .دارنګه‌ددغه کتاب‌په سرکی دايم، قبال خيالی لەخوا يوه لنډه سريزه‌هم‌چاپ‌شوی چی هم‌په هغه‌کی دعجب‌خان اپريدی‌دافسانی‌تصوير راکښلی‌شوی‌اوهم دليکوال د دغه کيسی دليکنوستاينه په کی‌شوی‌ده .موږ به‌د دغی‌ليکنی يو ه لنډه برخه دلته راوړو اوپه دی‌توګه به دعجب خان دقهرمانی او د ده دشجاعت‌ننداره وکړو :

«دعجب‌خان مېړانه شجاعت‌ليکن دنيامنلی و خود دنياتری‌له دی حقيقت‌نه خبره نەوه چی‌عجب‌خان څوک و او دهغه‌بهادری‌څه دول وه ....د دی‌مختلفو اومشکلو ... سوالونو جواب نسيم مردانی‌د يوه ناول په شکل‌راکړه ... !.

دعجب‌خان اپريدی‌په نوم‌دليکوال‌دغه ناول‌سره‌لـه دی‌چی‌دناول

لیکنی داوسنی اصولواو قواعدوسره برابرهم نه دی خو ولی لیکوال تر ختیلی وسی هغه ټول واقعات او پیښی چی دعجب خان اپریدی له خوا ترسره شوی په مستند ډول په ناول کی بیان کړی دي. په دغه ناول کی لیکوال کوشش کړی دی چی داپریدو دقوم او داپریدو دښځو میړانه او شجاعت هم بیان کړی.

د پښتو نخوا افسانی: - داارواښاد میرا جان سیال دتاریخی. اسلامی او انتقادی لنډو کیسو مجموعه چی په ۱۳۳۱ ه، ش کال کی دکابل په عمومی مطبعه کی په ۳۸ مخونو کی چاپ شوی ده . په دغه اثر کی دلیکوال دغه لنډی تاریخی او اجتماعی کیسی راغلی دی. زړه غوځونکی زبیر ګی، دغریب مړی، دتکته ملنګان، دبی کاری انجام باتور زلمی ننګالی میړونه، توریالي شهید، بریالي غازیان، مړني زلمی، زړور میړه، د پښتونخوا زمري، میړانه پښتنه کونده، مظلومه پیغله، دتربګنی اخر، ددرووډو نو ګتمه، ناړامه وانه، دپیرخو نری. ناپوه طبیب، شهیداسلم او دپر دوناروا . ددغه داستانی کتاب په سر کی دهغه وخت دجنوبی پښتونستان دریس باغلی محمدایوب خان یوتقریظ خپور شوی او دلیکوال دغه ډول لیکنواو بیا دیوه ځانګړی اثر په توګه دهغه دچاپ و-لوستاینه یی کړی ده .وروسته دشهید په نوم خپله مرحوم سیال یوه لنډه مقدمه کښلی چی ده په خپله مقدمه کی ددی ډول تاریخی او اسلامی کیسو لیکلو تاریخی مطالعه هم کړی او هم یی په پښتنی سیمو کی ددی ډول کیسو په ارزښت خبری کړی دی. وروسته بیا په پرله پسی ډول دده

لنډۍ کیسې راغلې دي. دغو کیسو محتوا زیاتره د پښتنو اوسنی مبارزې جوړوي او ډېرې کیسې قهرمان او اصلي کرکټرونه هغو مبارزینو ته وقف شوي چې دانګریزي ښکېلاک ګړو سره یې مستقیماً په جګړو کې برخه اخیستې ده . ددې کیسو یو ارزښت په دې کې هم دی چې دزیاترو کیسو تاریخي واقعات یې له دقیقو نیټو او تاریخونو هغه ذکر سره بیان کړي. مثلاً دبریالي غازیان کیسه داسې پیل کیږي:

دسنه ۱۹۲۵ سپتمبر دی: پرنګیانو استعماري فوځونه راغلي دي. دمومندو پهازاده علاقه ګنداو یې قبضه کړې ده. دمومندو ننګیالي غازیان ورسره شپه اوورځ جنګیږي، په دې دول ډېرې کیسې د پېښې تاریخ ثبت شوی دی. په دغه اثر کې د ننګیالي میړونه په نوم چې کومه لنډه کیسه خوندي ده هغه دعجب خان ایریدي دمیړاني شجاعت او باتورۍ کیسه ده. په دغه لنډه او تاریخي کیسه کې لیکوال کوشش کړی دی چې داپریدو د قوم او په خاص دول دعجب خان اپریدي اودده دورور شهزاده خان ستاینه وکړي. ددې کیسې اصلي قهرمان عجب خان اوشهزاده خان دي، دکیسې لنډیز داسې دی چې عجب خان او ورور یې شهزاده خان ښکارته تللي دي اومازیګرچې له ښکاره راځي نود دوی په کور او کلي انګریزانو حمله کړې وي او دعجب خان د کورتالاشي یې اخستې وي. له دغې واقعې نه لا کورته نه وي تللي چې خبر یږي اوله هماغه ځای نه اوبیاله دې چې خپل کورته راشي دانګریزانو په چوڼۍ حمله کوي او دیوه انګریز افسر میرمن برمته کوي او بیا د جرګې اودعجب خان دشرطونو له منلو نه وروسته

هغه بیرته انگریزانو ته سپاري. موږ به دغی کیسی یوه برخه دلته راوړو، چې د عجب خان د میرانی یادونه په کی شوی ده.

دغازی عجب خان نه پرنګیان دتوری بلانه ډیر و بیریده او په ټوله دنیا کی او بیا په تیره اسیا کی پرنګیان چادو مره نه وه تنګ کړی، لکه عجب خان چی تنګ کړه.. دی ملی مجاهد سره پرته د پښتنی غیرت نه بل هیڅ نه وه. بس دزړورتیا مهمه وسله او د پښتنی غیرت جذبه وه چی هغه ته د پرنګیانو لښکری ګیدړی هم نه ښکاریدې. اوددوی ښکار کول ددغه غازی په نظر کی معمولی خبره وه.

— دری ننګیالی: لکه څنګه چی ددغه اثرله عنوان نه معلومیږی په دغه کتاب کی دخیبر ددری وتلی او نامتو خیری کمال خان ملك دین خیل، ملتان خان ذخه خیل او عجب خان اپریدی معرفی شوی دی. دغه اثر محمد عظیم اپریدی لیکلی دی، ټول ۱۷۵ مخونه لری. اومری دسید خیال بخاری یوه لنده مقدمه او بیا په خپله دلیکوال سریزه کښلی شوی او ددغی دریو څیرو په باب یی ګټوری خبری کړی دی. ددغه اثر زیاته برخه عجب خان اپریدی ته وقف شوی ده. ددغه اثر دلیکوال په سریزه کی یو ځای داسی راغلی دی:

«داپریدو یه قبیله کی نه صرف کمال خان، ملتان خان او عجب خان غوندی مرنی ځوانان لوی شوی دی، بلکه دلته دایمل خان، دریاخان، دادی، عثمان اوصوبیدار میر دوست خان غوندی شاه زلمی هم لوی شوی دی. ایمل خان او دریاخان د مړ نتوب ذکر نه صرف دانګریزی، فارسی

اواودو په کتابو نو کی موندلی شو ، بلکه د پښتونخوالوی شاعـر ننگیـال او جنگیال خوشحال خان ختیک هم د شعر په ژبه دهغوی د بهـادری ستاینه کړی ده ؛ هم دغه شان دعثمانـاو دانی ذکر هم دانگریزی په اکثرو کتابو نو کی شوی دی. په دوی کی فرنگیان د کمال خان ، ملتان خان او عجـب خان دلاسه دومره تنگی له راغلی وو چی ددوی دگرفتاری له پاره د زرگو نورو پو انعام ومنلو.

ددغه اثر له اویایمی صفحی ته تر ۱۷٤ مخ پوری دعجب خان کارنامی اودده ژوندلیک راغلی اودده دبهادری شجاعت او اوصاف بی معرفـی کړی دی. دعجب خان اپریدی معرفی په دغه شعر پیل شوی ده .

مری هغه چی نه یی نوم نه یی نښان وی تل تر تله په ښه نوم پایی ښاغلی.

په دغه اثر کی ځای پر ځای د دغه دریو ننگیالیو دقهرمانیو تصویرونـه هم چـاپ شـوی دی.

ب : په منظومو آثارو کې دعجب خـان اپریدی څیـره :

تر دغه ځایه پوری موږ په منثورو او داستـانی آثارو کـی دعجب خـان اپریدی څیره ولیدله ددی په څنگ کی د پښتو ژبی زیاترو شاعرانو هـم په خپلو آثارو کی دعجب خان اپریدی یادونه او ستاینه کړی ده ، هغه یـی دانگریزی ښکیلاک پر ضد یولوی قهرمان یاد کړی چی موږ به دلته دغو شاعرانو دهغو آثارو یادونه وکړو چی دوی دعجب خان اپریدی یادونه په خپلو آثارو کی کـړی ده.

بهیر : په یادشوی اثر کی دلنـډو کیسو تر څنگـه دارواښادایـوب -

صابر یو منظوم فیچر په ۷٤، ۷۵، ۷٦ او ۷۷ مخونو کی چاپ شوی او دعجب خان اپریدی کارنامه یی په منظوم دول بیان کړی موږ دلته ددغه نظم دپیل او پای څو بیتونه راوړو :

عجب خان اپریدی وایی :

ای دتوری خاوندانو ای سپین ږیرو ای ځوانانو
زه قسم خورم په خدای پاك زه قسم خورم په افلاك
نه به خوب کړم نه ارام څو وانه خلم انتقام
له هغو چی کافران دی د پښتون چی دښمنان دی

خیبر : داد یوه بلی اثر نوم دی چی مرحوم سیلاب صافی راټول کړی او په دی کی د پښتو نخوا دهغو شاعرانو شعرونه راغلی چی دخیبر ددری او دخیبر دمیړنیو اوننګیالیو یادونه په کی شوی ده. ددغه اثر په ځینو شعرو دعجب خان اپریدی ذکر هم دمیړانی او شجاعت دمخکښ په توګه راغلی چی زه یی یوازی هغه بیتونه راوړم چی په هغه کی د عجب خان اپریدی ذکر راغلی دی .

ددغه اثر په یودیرشم مخ کی دمرحوم سلیمی یو شعر د خیبر تر. عنوان لاندی چاپ شوی او دخیبر ددری دستاینی په څنګ کی یی دعجب خان یادونه هم کړی ده .

دخیبر نه لر او بر ټول افغان یو وی۔
دافغان دپګړی ګل ښکلی بولان دی ...
د افغا ن په ننګ به تو ر ه یی تړ له ۔
تیر پښتون دلته ملتان که عجب خان دی ...

دا دول ددغه اثر په ٦٨ مخ کې دمرحوم «ګرم» یوشعر «په خیبر کوی قسم» ترسرلیک لاندی چاپ شوی او ده هم دعجب خان یادونه کړی ده.

پتنګ دبلې شمعې په سفر کوی قسم ـ

پښتون چې راولاړ شی په خیبر کوی قسم

ملتان او عجب خان چې په سنګر کوی قسم

پښتون چې راولاړ شی په خیبر کوی قسم

دغه اثر په ۸۷ مخونو کې په ۱۳٤۷ هـ ش کال کې چاپ او خپور شوی دی .

عجب خان اپریدی نر پښتون :ـ دا یو منظوم نظم دی چې جمشید دتوپی لیکی او دعجب خان اپریدی د کارنامی یادونه یی دشعر په ژبه کړی ده. په سر کې خپله لیکوال لیکی :

« دا دهغه پښتون داستان دی چې هغه دفرنګیانو جابر حکومت سره دغری وهلی دی او په داسی شان کارنامی یی کړی چې هر پښتون که یوسف زی دی که خلیل دی که مهمند ټول پری فخر کولی شی . »

دغه اثر ټول ٦۳ مخونه لری او په ۱۹٦۱ عیسوی کال کې په پېښور کې چاپ شوی دی. په دغه اثر کې دعجب خان قوم لونسب او ده کړه وړه قهرمانی اونور دشعر په ژبه بیان شوی دی ځای په ځای په کې دلیکوال له خوا لنډی هم جوړی شوی او چاپ شوی دی. ددې کتاب په لومړی پښتې دا لنډۍ راغلی ده .

چې عجب خان توری میلمه بوتله ان ترلندنه انګریزان ولړزیدنه

اوبیا په پنځه ویشتو پړ کو نو کی لنډی اودعجب خان داستان راغلی دی . موز به دلته ددغه اوزدنظم دپیل اوپای څو بیتونه راواخلو :
په پیل کی دعجب خان اصل نسب اوسکونت په هکله دشعر ژبه داسی لولو .

یوقصه د رتـه کـومه سامعـانو    افریدو کی عجب خان نوسی یوځوانو
نر پښتون ولـۍ یشی نه وپه نرتوب کی    دازلمی وسخت دښمن دانګریزانو
سخت نفرت به یی کوودغلامی نـه    بلی یی وروروهم شهزاده دګل په شانو
بابا جی بی په شیردل نامه یادیږی    عزتمند هم معقبریـی خـانـدانـو
وودا صله آدم خیل دره کـی اوسی    دغه قوم دی مشهور په بهـادرو
پلاریی هر شه دواړه رونړه شوتری پاتی    دوسلوسره و شوق دبـاتورانـو
عجب خان دهلـکۍ والی په موسم کی    فیرنګی سره دجنګ یی دیوارمانو

ددغه اثر په پای کی یوه چاربیته هم راغلی چی په دغه چار بیتـه کی هم شاعر دعجب خان ستاینه کړی ده دادول دعجب خان اپریدی په نوم یوه فلم هم جوړشوی اوپه هغه کی چی کومی سندری راغلی په هغو کی هم دعجب خان اپریدی دقهرمانی ستاینه دشعر په ژبه شوی ده.

فخر به وطن کړی همیشه ستا په مړانه
ګرانه عجب خانـه ګرانه عجب خانه

په دی توګه وینوچی دپښتو لیکنو په هنداره کی دعجب خان اپریدی څیره فوق العاده زیاته روښانه اوځلیدونکی ده او پښتنو لیکوالو او شاعرانودخپل قوم ددغه میړنی یا دژوندی ساتلی دی . اودهغود قهرمانـی دژوندی ساتلو په خاطریـی دیری لنډی کیسی او دیر شعرونه لیکلی دی .
زه فکر کوم که پلټنه وشی نو ددغه پښتون یادونه به له دی نه هـم پـه زیاتو اشعارو کی وموندل شی .

لطیف اپریدی

# تیراه د غازي عجب خان اپريدي نيکني وطن

د پیښورنه اووه میله مخ په قبله د جم او باړې په بـوید د اپـریدو خاوره شروع کیږي چه، د قطب نه سویـل اړخ تـه د کوهاټ ترغاښي پورې او ختیز لورې ته داخوردرې ته ترچراټه، او مخ په قبله د خیبر نـه دډیورنډله کرښې سره سمه د کرمې په لورد مسوزیـو (ورکـز یـو) ترآخره اوخمکنیو پـورې اوزده شوې ده ـ د پیښورنه دخیبر مشهورې درې ته پوخ سړکځی چه ترکابل پورې رسي بل.سړک دپیښورنـه دباړې کجورې په لورمخ په قبله درومي ،چه ترشنه کمره څوارلس میله تللی دی.دریـم سړک د پیښورنه مخ په سوویل کوهاټ ته تـلی دی چـه پـه شپږ ویشتم میل یې داپریدو دره آدم خیل (اخـوردره) پرته ده ـ هـم ددې درې کلی «بوستي خیل» دغازي عجب خان اپریدي کلی دی ـ اخوردره په ختیز لـورې د ښکو ترچراټه رسیدلـی ده، چـه په کی دآدم خیلو یوتپه حسن خیل پراته دی ـ دلته خوشحال خان ښټک دحسن خیلو پـه دمبره نومي کلی کی د ژوند پـه آ خری شپوورځوکښې اوسیدلو اوهم

په دی کلی کښې په ۲۵ فروری ۱۶۸۹ ع ۲۸ ربیع الثانی ، ۱۱۰۰ ه ق کال کښې وفات شو۔ انالله وانا الیه راجعون .

سری چه د کوهاټ غاښې نه واوری ، کوهاټ نه مخ په قبله د بنګښو په سیمه د هنګو په لور روان شی اته نهه میله وراندی داسترزو د کلی خوا کښې مخ په قبله داورکزو تیراه سړک شوروشی ، د کلایا په لاری ترمیشتی میله رسیدلی دی چه د کوهاټ نه شپیته میله خواوشا پرته ده . که کوهاټ دیرش میله بره هنګوته ورسی بیامیله بهربل سړک د کسیی مری په لار دورکزو پراورګرځی ، چه دا دورکزو د مشهور کنډوسنګا په لار تو علی خیلو میله پوری پنځوس میله تلی دی او دا پریدو دبرید تر خوار سیدلی دی . د تل نه د کورمی په لور څه خلویښت میله ورانـدی سده راځی ، چه لوی بازاردی ، د سدی نه مخ په امرخاته بل سړک تیراه ته تلی دی چه تول د ورکزو په خاوره کښې دخرمانی درود په غاړه ترتری تنګه رسیدلی دی ـ داځوارلس میله سړک د کمبرخیلو اپریدو بریدته دیرورنزدی شوی دی ـ په وروستو ورځو کښې دخیبرنه دبازار په لورهم دزخه خیلو اپریدو په خاوره سړک تیرشه ـ دا سړک هم په غریزه سیمه شل میله خواوشا اوزد دی ، خلکو پخپله یو بل سړک دهلی ـ مسجدنه ترچوری پوری او بیا تر بازاره پوری بو تلو ، دادواړه سړکونه یو ـ ځای شول چه دمنګل باغ کنډو په ویخ کښې ختم دی ـ دپاکستان حکومت یو بل پلان هم لری چه دپاره چنارنه په خمکنو اپریدو او ورکزو یو لنډ سړک ترپیښوره راتیرکړی او دغه سی دنهه شله میله فاصله نیم په نیمه راکم

کړي، ولی خلق تراوسه ورته آماده نه دي. بیاهم هغه تیراه چې د پېړ-
یو پېړیو راهسې د نورې دنیانه بیل د لوړو لوړو غرونو په مینځ کښې ځانله
یوه خپله دنیاوه، ورو ورو د تمدن نورې دنیاته خپل ورونه لرې کوي
او باور لرم چې د ویشتمې پېړۍ کښې د دنیاگر ځند ویوته به تیراه
په یوه د یوه زړه راښکونکې منطقه او گرځي .

موږ چې تیراته گورو نو قبلې ته یې کورمه ختیز ته یې پېښوراو د کوهات
سوویل ته یې تېل او کوهات او شمال (قطب) ته یې ننگرهار پروت دی،
د کرمې پېښور کوهات او تېل سیمو ته د علم او تمدن رڼا رسیدلې ده خو د تیراه
اپریدي او ورکزي د ژوند په یون کې وروستو پاتې دي. تیراه ټول د دېورند
د کرښې نه ښکته پروت دی د ژوند په ټولو اړیکو کښې د کوزې پښتونخوا
سره تړلی دی، او هم د پښتونخوا د لارې تیراه ته که د علم – تمدن
او د نورې دنیا د نوي ژوند پلوشې رارسیږي. ننگرهار چې د تیراه
شمال ته پروت دی د افغانستان لویه منطقه ده چې ورته د علم او
تمدن څه رڼا رسیدلې وه خو د بده مرغه د ورور وژنې د اوږده
جنگ په سبب هغه هم د یره تته شوه، ځکه یې تیراه ته څه وړانگې
نه رسی .

تیراه د لوړو غرونو د دنگو څوکو د شنو ځنگلو د رڼو اوبو
د ردونو او سیندونو د خوږې آب و هوا او دیر ښینکي وطن دی والئي
چې په ټوله دنیا کښې کسې د خوږې او صحتمنې آب و هوا په ددرې
ځایونو کښې د تیراه دباړې او به او د میدان هوا هیم شمیرل کیږي د تیراه

منطقه په تاریخ کښې د ډیرو دمو دوراهسی یاده شوی ده پوهانو وائی چې اویستا په کتاب کښې دوه زره کاله پخوا که تیراه نوم د « ستیرا » یا «اولیستراه» په نوم یاد شوی دی اپریدی چې د تیراه په سترا برخې میشته دی مشهور یونانی گرځندوئی مورخ هیرودتس د «اپاریتی» اوددوئی وطن یې که «اپارتیا» په نوم یادکړی دی.

دتیراه منطقه زیاتره غره یزه ده دکجوری خیبراو دره آدم خیل نه راواخله ترسپین غره (مورگی) پوری دکوهات هنگونه رواخله اترننگرهاره پوری هرځایی غرونه دی ناوونه دی.

دری دی تنگی دی رودونه دی لگیدی او خوړونه دی هواری ځمکی کمی اوغریزی زیاتی دی غرونه اکثرشته او په ونواوبوټوپټ دی پخوا خوپه تیراه کښې بیخی خر اولغړغرونه وو بابرپه تورك - بابری کښې وائی چې د باگرام (پیښور) سره نزدې یوسړی ځبرراوړو چې په ځنگل کښې غرځی (ښکروره هوسی) ده اومونزورغلواو هغه موښکار کړه (بابرنامه صفحه ٤٥١ انگلیسی) خود بده مرغه نن پرون په غرونو ځنگلونو وباراغلی ده لرگی ډیرقیمته شو قامونو قبیلو سره ځنگلی اوویشلی اولگیادی ځنگلی وهلی شی نوبد بختانه خلق په دی نه دی خبرچی ځنگلونه کول د وطن ښاست اوحسن ورکول دی د ځنگلو د ورکیدوسره په آب وهوا هم ډیر بدتاثیر کیږی پکاردی چې چرته خوك ځنگل وهی دهغه پرځای دی دنوونی بوټی کری چې غرونه سپیره اوخړپړ پاتی نشی.

دتیراه په زمکه جوار- غنم - وریژه - آلو - پیاز- اوګه اونوری سبزیانې کیږی - ولی سبزی کمه کرلی کیږی- دباړې وریژی په کال ۱۸۷۹ کښې د پوچا امر افغانستان ته راوړل شوې اوپه وردګو -لغمان اوننګرهار کښې نن هم غټه وریژه دباړی دتخم ده .

بنګ هم داپریلواو ورکزوپه ځینومنطقو کښې کرل شی چه چرس تری جوړیږی - اوپه پټه اوغلا نوری دنیا ته لیږلی شی - د دوډی (افیون) کرل بیخی کم شوځکه چه په هیروئین پودرو په ضد د امریکی مهم اوفشاربیخی زیات دی - واقعاً هیروئین پودریو دیو ده ضرر نه دك دی دصحت دپاره دزهرو په شان دخطرناك شی دی-

دتیرا اوبه‌اوهوادمیوودپاره دیرراسه‌اوخوږه ده. دانګورو بادامو منو-غوزانو-زردآلو(خورمانو) شفتالو- آلوچی -املوك -اوتوتان د باغونود پاره دیرامکانات موجود دی چې په اقتصادی ډول به د خلقو دژوند دپاره دیر ګټهورشی - خومتاسفانه د بی سوادی اوبی خبرئی دلاسه خلقودی اړخ ته پاملرنه نه ده کړی - اوس غوز-شفتالو خورمانی (زردآلو) اومنه په تیرا کښې کیږی خوخلق یې دشخصی ضرورت دپاره کری .

په تیراه کښې دپښتنودوه لویې قبیلې اپریدی‌اوورکزی‌چې دواړه کرلانې‌دی اوسیږی - اپریدی دپښتونو نه مخ په‌قبیله ددیورنډد کرښې سره‌سم ترخمکښواومسوزیوورکزوپوری دکورمی په اورغزیدلی دی دغسی اپریدی دجم غوندی نه دسوویل (جنوب) په طرف تللی اود

کوهاټ ترغاښي رسیدلی دی بلې خوا د اخوردرې نه دختیز په لور د چراټ ترخټکورسیدلی دی ـ ورکزی د اکا خیلودمیری ـ اخور درې کوهاټ اوهنګونه دقبلی په طرف د اپریدوسره سم دکورمی په لور د ختیزنه لویدیزته پراته دي ـ ورکزی ددیورنډ دکرښی نه لرې دی او د افغانستان سره پوله نه لری .

په اداری توګه د اپریدو قبیلی غټه برخه پـه ختیزاایجنسی پوری مربوطه ده ـ تش آدم خیل ترې بهردی دآدم خیلوهغه بـرخه چې د تیراه په میدان کښی آباددی اودحسن خیل په ګاونډ کښی په لګېړی نومی ځای کښی هم استو ګنه لری اودده کـور دی دخیبر ایجنسی پـه باری تحصیل پوری مربوط دی ـ ددرې آ دم خیل دآزادی منطقی په څیر دکوهاټ په ضلعې پوری تړلی دی اودجینا کـورحسن خیل د پیښـور ضـلعـی سره مربـوطـه دی ورکـزی پـه اداری تـوګـه د ورکزی ایجنسی په نام خپله ایجنسی لری چـه د پاکستان دا ساسی قانون 1973 دمخه جوړه شوی ده د مسوزی اوعلی شیرزی قبیلونه سر بیرته چې دادواړه په اداری توګه په کورم ایجنسی پوری مربوطی دی نورتول ورکزی په ورکزی ایجنسی کی سره راغونډ دی .

دکال 1981 م د مـردم شماری پـه حساب اپـریدی څه کم درې لکه اورکزی د دوولکوخواوشاشمیرل شوی دی خو باید چې دلته دا خبره په ګوته شي چې پـه آزادوقبایلو کښې د پاکستان حکومت دمـره اداری نفوذ نه لری چې کورپه کور دسرنوشمیرا وکړی ځکه خود آزادو

قبایلو د نفوسو شمیر د سپین ګیرو او مامورینو په اندازه لګولی شی عجیبه خبره خو دا ده چې په ټول پاکستان کښې د نفوسو زیات والی د کال په سوو په سلو پسی درن یعنی د ری فیصده دی خو د آزادو قبایلو شمیر چه په کال 1971 ع کی پنځو ښت لکه (دوه نیم میلیونه) وو په کال 1981 کښې څه لږ کم یو ویشت لکه (څه لږ پاسه دوه میلیونو) ته راکوز کړی شو ځکه خو دا شمیر اعتباری او د باور وړ نه دی د شیر رحمان دوړلیکی کتاب اضلاع و ایجنسی ها و قبایل ص 15 — 16 و 71 د کال 1961 د آبادۍ شمیر داسی ښئ

د خیبر ایجنسی ټوله آبادی 301319 اپریدی 275312

| | | | |
|---|---|---|---|
| ورکزی | په کورم کښې | 48583 | ورکزی ټول 206753 |
| | په ورکزی ایجنسی کښې | 158170 | |

که د کال 1961 م او کال 1981 م شمیر او ګورو نو بیا خو د آزادو قبایلو آبادی (نفوس) بیخی زیاته شوی نه ده خو تجربه عملی او عمومی مشاهده ښئ چې د آزادو قبایلو آبادی هم زیاته شوی ده او که سړی د ټولنې جوړښت ضرورت سواد او کلتور ته هم نظر وکړئ نو باید چې د آزادو قبایلو آبادی د نورو نه ډیره زیاته شوی وی زه باور لرم چې نن د آزادو قبایلو شمیر په هیڅ شان پنځوسو لکو نه کم نه دی دغسی د تیراه د اپریدو ورکزو د نفوسو شمیر د پنځلس لکو نه په هیڅ رنګ کم نه دی چې ورکزی د شپږو اوه لکو او اپریدی د اتو نهو لکو ترمنځه نفوس لری .

تیراه د رقبې د اوری هم ډیره لویه منطقه ده چې د آدم خیلو دری

جم باړی اوخیبرونه یې واخلی دیورند د کرښې سره سمه د اتپامسیلو خوا وشا اوزده ده د دیرشونه تر پنځوسو میاو پلنه ده دخدای بخښلی عبدالروف بینوا صاحب وینا ده چې د تیراه رقبه تخمیناً 3040 مربع میل ده (پښتونستان بینوا) تیراه زیات تر عزیزه منطقه ده ځکه پکښې د کر وندی زمکه کمه ده جم ـ کجوری میدان ـ بازار ـ علیشرزي ـ خان کلی ـ کلایا څه هواری زمکه هم لری خود خلقو د ضرورتونو د پوره کولو د پاره کفایت نه کوی ځکه نود اپریدواو و کزو دیرشمیر خلقو په کوهات او پیښور کښې زمکې اخستي دی دغه شان د دری دری نیم ـ لکه خواوشا ه اپریدی ورکزی عربوته د کاراوروزګار د پاره تللی دی د بولك خواوشاه اپریدی ورکزی په کراچی کښې هم میشته دی داتول خلق یې بهرګتی او په تیراه کښې یې شتی .

تیراه د جم ـ باړی او دره آدم خیل د سرو بازارونو نه علاوه د پخوانه ښکاره مرکزونه او بازارونه لری په مللك دین خیلو اپریدو کښې د باغ مرکز د تیراه ستر مرکزدی چې هره جمعه پکښې دیره او یه میله لګی او د اپریدواهمی جرګې مرکی هم دلته کیږی د کمبرخیلو باغ د سیپایو باغ د اپریدونور بازارونه دي. په اورکزو کښې د خندکی بازار دعلی خیلو میله د میشتیي میله سره میله کلایا او دوګر هم دغسې مرکزونه دی د اپرید و دره آدم خیل خو په توله دنیا کښې د وسلی د جوړولو د پاره دیره مشهوره ده .

د تیراه منطقه په طبیعی توګه دداسې استوګنې د پاره برابره ده

چې هم د باچادامرونهی نه لرې اوورړسیدوته آسانه‌نه‌وی او که څوک
وربانده‌ی تیری او کړی چې دفاع یې په آسانه کیدلائی شی دغه سبب دی
چې د تیرا خلقو په لرغونی تاریخ کښې د هرهغه چا سره جنګ کړی
دی چې ددوی آزاد دوطن ته یې په کږه سترګه کتلی دی هیرودوتس
وائی چې دسکندریونانی پوځونه د خیبر په لار هندته تیریدل نوآپاریتی
نومې خلقو چې دلته اوسیدل د یونانی پوځونو سره جنګ کړی و.

په نږدی تاریخ کښې د تیراه خلقو دمغلو سکانو او پرنګیانو په ضد
ډیره اوږده او کلکه مبارزه کړی ده دمغلو په ضد خو ډیر جنګونه شوی
دی خو په خیبر کښې په لنډی خانه او تاترد چې په $\frac{4}{1672}$ 30 مغلو ته کوم
ماتې ورکړی شوی وی په هغی‌ن هم توول پښتانه ویاړ او افتخار کوی
په دغه جنګونو کی داپریدو ـ مومندو اوشنوارو مشری د ایمل خان
مومند او دریا خان اپریدی په لاس کښې وه د مغلو په ضد دخوشحال خان
خټک سره تومرګه پوری داپریدو ملاتړ او ملګرتیا د تاریخ په پاڼو کی ثبت
ده تیراه د خوشحال خان هغه مورچل وو چې مغل تری نه ډری‌ډری وو
اوخوشحال خان خټک مبارزی ته ادامه هم ځکه ممکنه شوه چې تیراه
د خوشحال دفاعی سنګر او اپریدی یې د جنګ لښکر شول . علی خان
خوځکه وئیلی وو

د کوڅی ګوټ بدی پری نږم رقیب ته * اپریدی یمه مغل ته خیبر نیسم

خوشحال خان خوهسی د تیراه او اپریدو ډیر ذکر کړی دی خو چې ایمل-

خان اودریاخان مره شول نوهغه ځان یوائی احساس کړو لکه چې وائی.

ایمل خان دریاخان دواړه خوربین لاړل

اوس خوپاتوومغل ته یوخوشحال دی

خوشحال بابا چې ددی دواړو نومیالو دمرګ نه پس څه اولیدل نو

تل به یې ددوي دفراق ژړا کوله. لکه چې ددې شعرونه څرګندهده.

ایمل خان دریاخان دواړه په ښه رنګ تیر شول په ننګ کښې

ددواړو په فراق کښې ځما تل آه وماتم دئ.

خوشحال بابا پخپلو آخری ورځو کښې په اپریدو کښې میشته شو

وهم هغلته دحسن خیلو اپریدو په دمبوه کلی کښې وفات شو.

دتیراه خلقو دمغلو امپراتوری هیڅ کله نه ده منلې مونږ چی تاریخ ته

اوګورونو دروښانی تحریک تر ټولو ډیر او کلک ملاتړ دتیراه خلقو

اپریدو او ورکزو کړی دی. پیر روښان چې خپل خوزښت پیل کړونو ډیر زور

دغور یاخیلو نه وروسته اشنغر ته لاړو بیا اتمانخیلو ته او وروسته تیراه

ته لاړو تول اپریدی اوورکزی یې مریدان شول چوری ته راغلو او

هلته دمغلو سره جنګ اوشو. دپیر روښان دمرګ نه وروستو دهغه زوی

جلال الدین روښانی چې دیوسف زو دبند نه خلاص شو تیراه ته راغی

اپریدی اوورکزی ورسره اودریدل اوتر مرګه ورسره کلک ولاړوو.

دده نه پس پیر روښان لمسی احداد چې دشیخ عمر زوئی اود جلال الدین

زوم وو دغور ځنګ مشوشو او اپریدو ورکزو ورسره په کلکه اودریدل.

دورکزو دمشهورغاښی سنګ آپه په ویخ کښې چې دمغلو سره کوم

خونړۍ جنګ اوشو په هغه کښې مغل ماته اوخوړه اود تیرا خلکو د مغلو هرڅه ولجه کړل دروښانیانو نه وروستو هم دتیراه خلقو مغل نه دی منلی او تر آخره یې خپله آزادی ساتلی وه .

دمغلو دولت ورووروړیدو. احمد شاه بابا چې په پاښی پت کښې مرهټا نو ته ماتې ورکړه او دافغانستان د ولت یې په رسمی توګه د افغانانو دوطن په توګه جوړ کړو نو تیراه دنوری مشرقی پښتونخواسره ددی وطن برخه شوه او دافغانستان په واړوښوبد وکښې شامل شو. خو چې څه وخت سکانو وروستو په پښتونخوا یرغل او کړو نو بیا هم دتیراه خلقو خپلو آزادۍ دلاسه ورکړه او چې سکان دخیبر خولې جمبرود ته راور سیدل نو دو زیر اکبر خان په مشرۍ کښې په جم سره جنګ اوشو چې په کښې دسکانو مشر جنرال هری سنګه دشهزاده وزیر اکبر خان په توره اووژل شو. اپریدو او ورکزو دسکانو په ضد خپله کلکه مبارزه تر آخره پورې ښوده .

پیرنګیانو داغوښتل چې سکان او فغانان سره په خپلو کښې اووهی او دوی ته دواړه کمزوری شی نو دوی به ورو ورو پښتونخواته پښې راواوغزولې دغسې دوی ختیز ه پښتونخواه دسیوی نه تر چترا له او نیوله او په پښتورکی په کال 1849 کښې دخپل حکومت اعلان او کړو دهغه ورځې نه چې پیرنګی پښتونخوا او نیوله تر وروستنی ورځې پورې چې هغه دهند نه په کال د ۷ 194 کښې لاړو دتیراه خلقو دپیرنګی په ضد خپلې مبارزې ته دوام ورکړو لو ی واړه جنګونه یې او کړل. چې په

دې کښې اولې جنګونه په لاندنوکلونوکښې شوې دي.

1877–78 5 1877 4 1855 3 1853 2 1850 1
193g 81879 7 1878 6

دا بره ذکرشوې جنګونه‌دا پریدواو پرنګیانوترمینځه شوې‌چې په ځینې کښې ورکزوهم برخه اخستې ده لکه چې‌د 1897 کال جنګ‌دې‌ولې متاسفانه چې ددې تېکولیکونکې ته دورکزودجنګونوپه هکله معلومات ترلاسه نشول. باورلرم چې په راتلونکې وخت‌کښې به دا کموت لرې شي.

داجنګونه ترکال 1930 رارسیدلې دې داهغه‌کال دې‌د پېښورپه قصه خوانې کښې پرنګیانوپه 123 اپریل 1930 په تش‌لاسوخلقوبې‌ځه سببه ډزې‌اوکړې چې پکښې بې شمیره خلق یې اووژل چې‌په ټوله پښتونخواکښې یې په پښتون‌اولس ډیربد تاثیر اوشو. هم ددغې غمژنې واقعې نه پس خدائې خدمتګار تحریك دنیاته راځرګنده شو همددغې‌دادپښتونخواګوټ‌ګوټ‌ته‌اورسیدو.سره ددې چې‌پیرنګیانو دادسیسې چې دتیراه خلق‌په پخپلوکښې شیعه سنې په لانجه اوویشې‌او دغسې یې هم‌وکړل چې په نتیجه‌کښې یې سنې ورکزو اواپریدود کلاپه شیعه ګانوورکزوحملې اوکړې اوډیره مرګ‌ژوبله اوشوه خوبیاهم دتیراخلق دپیرنګې پرضد دمبارزې‌نه غافل نه‌شول. په‌اپریدو ورکزوکښې خدائې خدمتګارتحریك جوړشو.اودقصه‌خوانې دظلم‌په ضد اپریدوپه اګست 1930 کښې په پېښورحمله‌اوکړه. مګرې‌ګودام

یې وواهه او پیرزنګی ته یې دیرزیان اورسولو ـ باچاخان په زما ژوند اوجد وجهد کې په دې هکله داسې وائي:

دهنددویش نه وروسته هم د پښتونستان دمبارزې په نوم غورزنګونه جاري وو ملک سیداحمد ذخه خیل ملک ولي خان کوکي خیل او نوردل ـ خان کمبرخیل اپریدې او ملک میر اصغر ستوري خیل ورکزي په تیراه کښې ددې تحریک نومیالي لارښودونکي وو، وروستو بیا مولانا حاجي خانستهګل ذخه خیل ددې تحریک هلې ځلې جارۍ اوساتلې دولي خان کوکوخیل کورپه تیراه کښې بمبار شو اوورستوپه ممانې بمبارۍ او شوه. په کال ۱۹۸۵ کښې بیادپاکستان مارشل لایې حکومت داپرید و اوشینواروپه سوونوکورونه رنګ کړل چه پضمدیې بیا ولي خان کوکي ـ خیل راپاسیدو ولې هغه بیا دپاکستان سره روغه جوړه او کړه د دې تحریکونو ملاتړ دکوزې پښتونخوا دارخه اونشوـورو ورو داتحریک سست شو دنورو آزادو قبایلو سره سم دتیراه اپریدې او ورکزي هم دکوزې پښتونخواسره په تولنیزاواقتصادي اړیکو کښې ورونږل کیږي او دا پروسه مخکې روانه ده.

په اداري توګه آزادقبایل دپاکستان دمرکزي حکومت سره تړلي دي د پاکستان په قومي اسمبلي اومینیټ کښې چې ورله اته اته نمایندګان ورکړي دي ـ چه په عام رایې سره یې انتخاب نه کیږي.

اوځکه داتش په نوم نمایندګي ده نه دګوندونو ته په قبایلي سیمو کې یې دفعالیت اجازه ورکوي اونه خلق دپارلمان دې ممبرانو ته رایې

ورکوی ـ په تو له آزاده قبایلي منطقه کې شل زره خلق نه شته څکه خورای په پیسو خرڅیږی په لاندی سیمو کې دیوغړی د انتخاب په حلقه کې کښې دوه دری لکه خلق د رایې ورکوونکوو تر انوم په حیث درج دی ـ په قبایلي سیموکښې دعام ووټ چې ورته بالغ را یی دهی هم وایی نه غتره غوښتنه تیراه اپریدی او ورکزی په قومی اسمبلی او سینټ کې یو یو غړی لری .

دغسې په قبایلي منطقو دپیرنگی بدنام سرحدی قانون چې په کال ۱۹۵۱ کښې جوړ شوی دی او دفست نتږ کزا ثمرز هگو لشین «Fron ter Crlmies Regulation» په نوم یادیږی اوس هم رواج لری چې خلق تري ډیر تنګ دی اوددی قانون دلغو کو کوغوښتنې دهر قبایلي پښتون له خوا کیږی ـ خو سره ددی دتیراه منطقه بیا هم دحکومت په اختیار کښې نه ده ـ ورکزو کښې خوددری ارخه سر کو نه تیر شوی خو اپریدیاوس هم دسړکت اجازه نه ورکوی ـ خو په ټوله قبایلي سیمه کښې دهرچا دپاره دامهمه پښتنه ده چې پښتانه قبائل به ترکومې د نوی زمانې دتمدن ـ علم او کلتورنه محروم پاتې کیږی په نوی دنیا کښې آزادی څه مفهوم لری ؟ بایدچې هر اپریدی ورکزی او هر قبائلي روشنفکر ددی پوښتنو ځواب او لټوی .

تیراه د دیورندکرښې سره سم په سل میله اوزده غره ایزه سیمه پروت دی ـ چې دتورخم ننګرهار دبریدنه واخلی تر کورمې او پکتیا پوری منځ ته منطقي په کښې سره را غونډی دی.

د روس امریکې دموجوده مفاهمت نه وراندې دتیرامنطقه‌ددجیو-ستراتیجی (جغرافیائی) پوځی) اهمیت د مخه دروسی‌اوامریکی‌دپاره ډیره مهمه منطقه وه دامریکایانوپه مشوره پاکستان د ثور دانقلاب په ورستودخیبردری‌اوخواوشاوهغه مورچې چه پېرنگې په دویم لوی جنگ کښې دروس اوجرمنی دمخ نیوی دپاره په غرونوکښې جوړی کړی وی بیا را تازه کړی - د افغانستان په ضد اپوزیشن دجنګ مهمی تزراتزدخیبر-بازار- باړی‌اورا جنګل په لاره اوشو- دپاکستان حکومت‌دخیبرنه تربازاره پوری سړك هم په دی سبب په عاجله توګه جوړ کړوخیبراوس چې دافغانستان دمسئلې‌دسیاسی حل امکانات ډیر را څرګند شوی دی اوملګروملتونوهم دامن پلان اعلان کړی دی روس اوامریکا سره مفاهمت شوی‌دی‌منطقی دا اهمیت ضرورکم‌شو خویوه خبره ده چې که افراطیون د امن پلان دزبندی‌نه شی‌نودتیراه منطقه دتخریب دپاره هغه خلق بیاهم په استعمال‌کی راولی‌څوك چه په افغانستان‌کښې امن نه غواړی .

دېده مرغه د ادب‌اوکلتورپه ډګرکښې دتیرا منطقه ډیره‌وروسته پاتې شوی ده - دازادی ساتلو په نامه دتیراه خلق د ژوند د ډیرو خوشحالونه‌محروم پاتې شول - دسرك مکتب - روغتون دنیشتوالی په سبب اپریدی اوورکزی نن هم کډوال دی - ولی دا حالت رو رو په بدلید ودی - دکلتورځنې ارخونه لکه موسیقی اوملی اتن د مذهب په نامه تکول شوی دی - دتیرا ه په ځینوسیمو کښې نن هم په

دول سرنا بندیزدی ـ صرف حسن خیل اپریدی دختکودګاو ندیتوب په سبب د ملی اتڼ دود لری چه دوی واره زاره په ښا دیوډی؟ اتڼو نه اچوی.

په‌ادبی‌میدان کښی دحمزه شنواری د شعروزمی تیراه ته هم رسیدلی دی ـنن دتیراه په خاوره که‌مونږ دخیبرقومی ادبی جرګه ـ تاتره‌ادبی تولنه‌ـتیراه‌ادبی تولنه‌کجوری ـقاسم‌علی خان ادبی‌تولنه دره آدم خیل‌لرو په‌دی‌خاورهٔ دقاسم‌علی‌خان اپریدی ـ الیاراپریدی‌او عالم‌خان‌اپریدی غوندی‌شاعران تیرشوی دی ـ نن‌هم‌مونږدخیبرـ اپریدی په‌خیرستر شاعران‌لرو میران شاه اپریدی ـخسرواپریدی ـ اوخاطر اپریدی په‌لنډه‌موده کښی هم دلته تیرشوی دی‌ـخیبراپریدی قندهارا‌پریدی ـامیر محمد ساغر اداسی نورنامتوشاعران نن هم شعر دادب باغ مالیاران دی ـ متاسفانه لیکونکی د ورکـزوادبی غرزنګونو اوشخصیتونو په‌هکله‌چی معلومات نه‌لری‌ـنوځکه‌دهغوی څه ذکرنشی کولی :

دتیراه په خاوره ددریاخان غوندی لوئی‌جنرال اوملی قهرمان تیر شوی چی‌خوشحال بابا بی دعمل‌سره‌سم ډیرښه‌ذکر کری دی‌ـ کمال خان‌اپریدی ملتان اپریدی‌اوغازی عجب‌خان‌اپریدی خودشلمی پیری هغه‌ځلانده ستوری دی که‌چی‌دچادلاسه‌پیرنګیانوخوب نشو کولای‌ـ په روښانه جدجهد کښی دوه نامتو جنګیالی‌چی‌یو اپریدی اوبل ورکزی وو ډیرمشهوردی‌چاچه‌مغلوته ډیرزیان‌رسولی‌وودادوه‌یوسف‌اپریدی

اوهزارمړ ورکزی دځچه په‌تاریخ مرصع(٢٥٤) کی ددویی دوړانی په هکله‌تفصیل راغلی‌دی محمـودا خونزاده دورکز یوهغه عالـم مشردی چه‌په خانېکی کښی دده خواته‌عجب خان اپریدی هغه میده پیرونـګنه بوتلی وه کومچه دده‌آزادی پـه‌جنګ‌کښی کـوهاټ څخه تښتولی وه.

حقه داده چه دتیراه په هکله څیرنواو پلټنو دیرضرورت دی‌ـددی منطقی که تولنیز سیاسی ـ اقتصادی او کلتـوری ژوندانه دنـوی نظر ضرورت‌دی.

«غوث خیبری»

# دتیراجګړی

دلوی افغان دتاریخی کور دیوی سیمی اودافریدی قام دننګونو دتا-
توبی تیرادجګړو په باره کښی چی دانګریز هیڅسن لیکوال وربانده
(دیتراجنګ) کتاب لیکلی او چاپ کړیدی ....

دغی تیراه په باب چی دغازی عجب خان افریدی او پیغلی ایلس
ماجرا یوی شریکی میرمن مستر ستار وربانده دتیلزاف تیرا کتاب لیکي
دی دیوی اندی مقالی لیکنه به بی له شکه ، داوسنی غوندی دګډون-
کونکو ، پوهانو ، لیکوالو او شاعرانو تننده ماته نکړی لاکن دوی دروند
محفل دوخت درعایت کولو دمجبوریت ترمنځی ، دغه لاچاری احسا-
سوم چی باید په مننګی کښی دسیند دځای کولو کوشش وکړم .

(دتیراجنګ) دانګریز لیکوال په قلم دلیکل شوی اوچاپ شوی
کتاب نوم هم دی خو ماته وظیفه راکړی شوی چی یو ه لنده مقابله ور-
باندی ولیکم اودغازی عجب خان روح ته بی دعقیدت دالی کړم نوما

هم دی‌حکم ته غاړه‌ایښی او په‌تاریخی تیرا باندی د برتانوی قومانداناتو دپی باکه یرغلونو ذکر اودانگریـزی ښکیلاک سره دغیرتی افریدو اوجگړی تفصیل به‌په دیو لنډیزسره ورکړم ، خودمطلب په‌پیل کښی‌دغه ضرورت هم محسوس دی چی دتیرا دجگړی دپیـل نه‌مخکښی‌اوضاع اودقبایلو په‌وړاندی دبرتانوی‌استعمارتیری کونکی‌سیاست تـه‌هم پام واړول شی.

ښاغلی محمدشفیع صابر په خپل کتاب (جدوجهدآزادی‌ی‌صوبه سرحدکاکردار) (کښی چی په۱۹۸۲او ۱۹۸۳او۸٤ عیسوی کښی د پیښور په‌مشرق‌ورځپانه کښی په پرله‌پسی دول چاپ‌اوخپور رشو ، لیکی‌چی شلمه‌پیړی ، دبرصغیر یااواحداو ناویشلی‌هندوستان دشمال مغربی‌سرحدی ولایت اوآزادوقبایلو دپاره‌دیو تاریخی‌ورحیثیت لری اودانگریزانو استعماری ستراتیژی یوه نوی‌بنه‌پیدا کړه.په‌قبایلی سیمو حملی او بریدونه زیات شول . په۱۸۹۷عیسوی کښی انگریـزی پوځونو سره په‌قبایلی سیمو کښی په‌جگړو شروع وکړه اوجرنیل‌ویلیام لو کهرټ د افریدی‌ قام د ځپلو دپاره په تیرا باندی لویه حمله پیل کړه .

ددی سترو یرغلونو او په افغانستان کښی د هغـه وخت د حکومتی و اکمنو دکمـزوری نتیجه داشـوه چی هـوښیا رانگـریزوایسرای لارډکـرزن په۱۹۰۱ عسیوی‌کښی . دافغانستان دخاوری نه جدا کړی سیمی ته‌د (نارت وسیټ فرانتیر پراونس ) یا دشمال مغربی سرحدی صوبی یاایالت نوم ورکړی. ددینه‌ښ پژکاله مخکښی یعنی په

۱۸۹٤ کښې. د دیورند کرښه دانګریزانو له خوا ایجاد کړی شوی وه.

سیداخان شینواری د خپل کتاب (د برتانیه او افغانستان سرحد) په یو سلو څلور اویايم مخ کښې لیکي چې: کله چې په ۱۸۹۷ عسیوی کښې د هندوایسرای له خوا د اپریدو قامونو په ضد د پوځي عملیاتو اعلان جاری کړی شو او عسکری انتظامات یې شروع کړل نو جنګړه په تیرا کښې پیل شوه او ددې جګړې قوماندان جرنیل ویلیام لوکهرټ و ټاکل شو. د پېښور چیف پولیټیکل مسټر دني ؤ او شپږ زره عسکر د ۱۹ زره با روړونکو څارویو سره چې دوسلې او ګوله باروت ه دوړلو دپاره اختصاص شوی وو د تیرا په لور روان شول او د اپریدو قومونو خلاف پراخه او ستره جګړه ونښته. (۱)

دیادوني وړ خبره ده چې په تیرا باندې د جرنیل لوکهرټ د لوی یرغل (۱۸۹۷) نه مخکښې په عمومي ډول د اپریدي قام د مضمحل کولو او ځپلو دپاره په بیلو بیلو وختونو او د بیلو بیلو برتانوي قوماندانانو له خوا یرغلونه شوي وو چې په هره یوه جګړه کې. یرغل کونکو ته سخت زیانونه رسیدلي او دهغوي پوځونه په ناکامي بیرته راګرزیدلي وو.

په اپریدي قام او تیرا باندې بر تانوی استعمار، په بیلو بیلو وختونو او کلونو کښې حملې کړي چې لنډ ذکر یې دلته راوړو:

په ۱۸۵۰ عسیوي کال کښې د کرنیل له خوا چې جګړه د کوهاټ نه

---

(۱) ملك سیداخان شینواری-دبرتانیې او افغانستان سرحد- دراولپنډي دلکشمي اوریئنټیم مطبعې چاپ. اردو ایډیشن ۱۹۵۳ ؟

پیل اوتیر اته ورسیده او پښتنو یوځل بیا ځپلو دښمانو ته دانځپلی افغانی توری برېښ وروښود.

په ۱۸۵۳ عسیوی کښې دافریدو په ځواکی قبلیې چې د آدم خیلو افریدو یوه څانګه ده دبرتانوی پوځونو یرغل پیل شو چې جګړه پراخ بعدونه اختیار کړل اوتیرا یو ځل بیاد جنګیالو افریدو په یومر کزبدله شوه.

په ۱۸۵۵ کال کښې انګریزی لښکری، د کرنیل کربجی دقوماندانی لاندی، په افریدو دا کاخیاو په قبیلی بریدو کړاو جګړه دتیرا ورشوته هم وغزیدله اوددی اساسی وجه داوه چې پیرنګیانو په تیرا کښې دقبایلو مقابله نشوه کولی اوتیرا د یونه ماتیدونکی مورچل حیثیت د رلود.

په ۱۸۷۷ عسیوی کال کښې پیرنګیانود(کرنیل مو کاتا)ترقوماندانی لاندی په ځواکی افریدو حمله وکړه او ترتیرا پوری دجګړی لمن وغوړیدله اوتیرا هغه سیمه وه چې پیرنګیانو ورنه ویره کوله (۲)

په ۱۸۷۸ عسیوی کښې هم برتانوی استعمار، دافغانستان دغیرتی خلکو سره دافریدو اونورو پښتنو قبایلو دوروروولی روابطو اود افغانستان داوضاع په بهانه په تیرا اوزخه خیل اپریدو باندی دبریګیډ یرجرنیل تیتلر ترقوماندانی لاندی یرغل وکړو چې ددی یرغل لمن هم ترتیرا پوری وغځید له اوسخت جنګ دپښتنو او پیرنګیانو ترمنیځ وشو. په دی پلمه انګریزانو غوښتل چې د افغانستان خواته حرکت وکړی لاکن غیرتی افریدو دیرغل کونکومخه ونیوله.

---

(۲) دپښتو نستان مسله دحق خودارادیت په رڼاکی-ابراهیم عطایی-۹۰ مخ کابل چاپ

په ۱۸۷۹ عیسوی کی او لفتننت جرنیل مار، دذخیه خیل افریدو په ضد عملیات پیل کړل او په دی کښی دافریدو داساسی مورچل تیرا نړول هم مطلوب وو. په ۱۹۰۸ عسیوی کښی دجیمز پلګوک پیونگی په مشرتابه کی یولښکر د آزاد وافرید و د ځپلو دپاره ولیږل شو چی غیرتی افریدو دشینواروا ومومندوا ونورو قامونو په ملګرتیا کښی انګریزی لښکر تارومار کړو او خپلی آزادی سیمی او دهغه جملی نه تیرایی آزاده اوخپلواکه وساتله. دغه مطالب باید له یاده و نه ویستل شی چی په دی تولوحملواوجګړو کی چی افریدودخپلی دفاع دپاره دانګریزانو سره وکړی ملک دین خیل، کمبرخیل، کوکی خیل، اکاخیل، زخه خیل، آدم خیل، کمرخیل اوسه پای افریدی شامل وو اوداستعمارګریوان دهمدوی په شریک لاس وشلول شو.

دتیرا په جګړو کښی چی تر تولولویه اوستره جګړه تیره شویده اودانګریزلیکوال (هیچسن) په کتاب (دتیراجنګ) کښی یی تفصیل راغلی دی د ۱۸۹۷ عیسوی کال جګړه ده چی دبرتانوی جرنیل لوکهرت دقوماندانی لاندی شپیتوزرو عسکرو پکښی برخه اخیستی وه اولکه کرنیل، ایچ دی هیچسن چی لیکلی دی د تیراپه دغه جګړه کښی یوزریوسلوپنځوس انګریزان اوافسران مړه اوژوبل شوی وو. (۱)

(۱) دتیراه جنګ دکرنیل (اچ. دی هیچسن تالیف ۱۲۲ او ۱٤٦ مخونودسرحد برتانیه اوافغانستان په حواله.

سیدا خان شینواری په (د برتانیې او افغانستان سرحد) کتاب کښې، دانګریز لیکوال په حواله وایي چې:

په تیرا باندې د جرنیل ویلیام لوکهرټ پلان داسې جوړ شوی ؤ چې اول به د (شنه وړی) د سیمې نه په ورکزو حمله پیل کېږي. د همدې مقصد د پاره جرنیل لوکهرت (باغ) نومې ځای کښې خیمې ودرولې او دغه ځای د (شنه وړی) نه تقریباً دیرش میله لرې پروت دی.

په همدې ځای کښې انګریزانو افریدی قبایل روغې جوړې اودسولې لوزنامې ته راوبللې اودسولې شرائط د دوارو خواؤ له خوا ومنل شو خو د وورځو جنګ کښې هم یو لفټیننټ د نهو تنو عسکرو د سره د تهمپټن نومې کیمپ نه د پښتنو په لاس ووژل شول او یو یر کپتان د نهه ویشتو تنو سره سخت ټپیان شوی او لفټیننټ د یولسو سره ورك او غالباً تښتول شوی وو.

د نومبر په شپاړلسمه نیټه معلومه شوه چې پنځه ویشت تنه مړه او دوه ویشت تنه ژوبل شویدي (۱).

د کتاب لیکونکی وایي چې د تیرا په دغه جګړه کښې دانګریزانو د لوری یو زردوه سوه شل تنه مړه شوي او د افریدو تلفات یو سلو پنځوس تنه وواو که چیرته د دوارو خواو ترمنځ سوله نه وای شوی نو یقیناً چې زیاته مرګ ژوبله به شوي وای. په دې باره کښې خبرونه په انګریزي ورځپانو ډیلی هرلډ مایچسټر ګارډ بن کې خپاره شول (۲).

---

(۱) کرنیل ایچ. دی هچیسن - د تیرا جنګ - ۱۲۵ او ۱۳۳ مخونه

(۲) د برتانیې او افغانستان سرحد - ۲۷۳ مخ.

د (برتانیی اوادافغانستان سرحد) نومی کتاب لیکوال د هیچسن په حواله وایی چی د تیرا ددی جګړی اغیزه دوه‌ره درنه وه چی انګریز پوځی مشر (جرنیل سر هیوالمك ایلمن) د لاله چینی په خوا کښی چی دغه ځای د علی مسجد (خیبر) نه د یومیل په فاصله کښی پروت دی . په وښا ورځ دسرك په سر ووژل شواوقاتل یی معلوم نشو.

د تیرا د جګړی نتیجی ددی ښکارندوی وی چی دانګریزانووقار د خاوروسره برابر شوی اوغیرتی افرید ودننګ اوغیرت په ډګر کښی خپل پښتواوخپله میرانه یوځل بیا ښکاره کړه اوپه شوی اوزیانه کښی که څه هم ځینی جرمانی په افریدو ایښودل شوی وی لاکن ددی جرمانود هغوی عزت او وقارته زیان نشورسولی یو پاکستانی لیکوال محمد شفیع صابر په خپل کتاب (جدوجهد آزادی ملی صوبه سرحد کاکردار) پنځه څلویښتم قسط یا برخه کښی لیکی چی په ۱۹۲۳ عیسوی کښی تیرا یوځل بیا د یوافریدی پښتون (عجب) خان دقهرمانی ننداره وکړه اودانګریز کرنیل ایلس اور (پیغله ایلس) د کورنه په کوهات کښی اوچته اونه ماتیدونکی تیرا ته بوتلی شوه اوانګریزان مجبورشول چی دافریدی پښتون (غازی عجب خان) اودهغه ملګرود پښتواوغیرت په وړاندی خپل سرونه ټیټ کړی اودزورنه پرته د پښتود دوداودستور سره سم پښتون عجب خان افریدی ځخه، دمیمی پیغلی (ایلس) دبیرته ورکولو اوستنولوخواست وکړی .

په تیلزاف تیرانومي کتاب کښي (میرمن ستار) پوره تفصیل ورکوی اود تیرا د قهرماني خیری سره د پښتون هیرواواتل عجب خان افریدی خیره انځور کوی چی دهغه لوستل د هرپښتون دغیرت او پت، قومی غروراوننګ احساس بیداروی.

دغه خبره هم دذکروړده چی د تیلزاف تیرادکتاب د لیکوونکی میرمن ستارخښتن داکتروړتن ستارهم چی د پیښور په مشن هسپتال کښي داکترودیوپښتون لهخوا پهدی دلیل ووژل شو چی ګویا غوښتل یي پهروغتون کی یورنځورپښتون هلاك. دعلاج پهدوران کښي عیسوی مذهب تهراواړوی.

تیرا، د خپل عمرپه اوږدو کښي، د پښتنو قبائیلو دیوپیاړری او نه ماتیدونکی مورچل په حیث پاتی شوی دی. په وروستیو کلونو کښي دانګریزی لښکراوسرتیرو پښتنو د مقابلو او جګړو سره، تیرادعجب خان افریدی اودانګریزمیجرایلس لور پیغلی ایلس د تاریخی ماجرا شاهده هم پاتې شویده اوچی ترڅوپښتون اتل عجب خان افریدی د پیغلی ایلس سره چی شپاړس اولس کلنه وه، په تیرا کښي و، نودهیچا زورورباندی ونه رسیدواولکه (دافغانستان برتانیي سرحد) کتاب ۱۶۹ مخ کښي چی راغلی دی: برتانیي دافغانستان د حکومت نه غوښتنه وکړه چی د تیرانه دعجب خان افریدی په ویستو کښي مرسته وکړی لاکن دافغانستان حکومت دی کارته غاړه کښي نښوده.

برتانوی میرمن ستارچی د پیغلی ایلس دراوستو دپاره تیراته تللی

وه وايي چي په تيرا كښي عجب خان افريدى ددېر وانګلسيي افسرانو سره ليدلي كتلي هم وكړل خو دغه كار ممكن نشو چي پښتون ميره د تيرانه و باسي او ويايي ونسي ملك سيدا خان شينواري په خپل كتاب (دبرتانيي او افغانستان سرحد) يو سلو نهه او يايم اواتيايم مخونو كښي وايي چي كله په ١٨٩٧ عيسوي كال كښي جرنيل لوكهرټ په تيرا باندي لوي يرغل پيل كړ ونو دافريدى قام د وركزو مشرانو له خوا، دافغانستان دبا چا امير عبدالرحمن خان په نوم يو ليك ولېږل او په دى ليك كښي يي هغه ته وليكل: دغه موږ دى راغيسي انګريزان، زموږ په خاوره باندى تيرى كوي او افغانستان خواته وړاندې كېدل غواړي. انګريزان د لته مضبوطي كلا ګاني جوړوي او موږ ته تاسو ته په دى باره كښي ډير شكايتونه درلېږلي دى لاكن ستاسو له خوا د غو شكايتو نو ته هيڅ توجه نده شوي. موږ په هيڅ وجه د انګريزانو اطاعت نشو كولي او سر نشو ټيټولي او نه به چيرته دهغوى رعيت شو. موږ د اسلام د پاچا مرستي ته په سرونو او مالونو حاضر يو او په تاسو باندى هم زموږ او د ټول افغانستان ساتنه فرض ده. موږ خپل اتلس تنه استازى تاسو ته درلېږل او اوس ددى وخت دى چي امير صاحب هم خپل مطلب حاصل كړي.

دغه ليك ددى حقيقت غټ ثبوت دى چي آزاد قبايل خپل سرنوشت د افغانستان د خاورى او خلكو د سرنوشت سره تړلى او غوته بولي او دواړو غم او خوشحالي، اسودګي او نا اسودګي يي شريك او يو د بل شخه، نه بيليدونكي دى.

امیرعبدالرحمن خان هم د افریدی قام دلیلك په جواب کښې یو مفصل ایلك وایزلوچې د هغه لیلك متن دملك سیداخان شینواری په کتاب (دبرتانیې اوافغانستان سرحد) کښې راغلی دی، خوه و نږدمقالې داختصار په خاطر دهغه دراوړ لواو ذکرنه سترګې پټې کړې او هیله من یم دغو نږدې درانه دوستان، مشران او پوهان زمامعذرت په نظر کښې ولری اولکه مخکښې چې مې عرض کړیدی. ماته وظیفه راکړی شو یده چې هغه وکړم سمندر په منګې کښې ور ځای کړم: داکارناشونی دی خو ځینې ورته زړه ښه کوی اوما هم په هغه جمله کښې حساب کړئ.
ستاسو توجه اومهربانې نه ډیره مننه.

په درناوی.

محقق غوتی خاوري

بسم الله الرحمن الرحیم

# په پښتو اولسي سندرو کې د تیر الامونه

پښتو اولسي ادب د پیدایښت د هماغه لومړی سپیده داغ نه بیاتر ننه پورې خوځنداود ژوند سره مل ادب واودی . په هره دوره اوزمانه کې یې خپل رسالت په ښه توګه ترسره کړی دئ . که د اولس دوینتیا اوهڅونې لپاره یې ویښوونکې توانې غزولی اودتالانګروعربو، مغولو سکانو اوانګریزانو سره یې د پښتنو د مبارز و او مجاهدو اوددوی د میړانې اوسرښندنې کیسې په مستو چار بیتو لنډ یواودولسی ادب په نورودولو نوکې ځلولی دی ؛ نود مینې او مستی له خوند ونوڅخه هم بې برخې نه دی پاتی شوی او دولسی ادب په رنګینیو کې یې ددې خوندونو رباب هم ترنګولی دی .

او پښتو ژبې بیا دا تل پښتون داتلې اوتیرې ژبې اودمین اومست پښتون دمینه ناکی اومستې ژبې په توګه دولسی ادب دغه ناپایه زیرمه

په خپله ویره لمن کې رانغښتې او په بېلا بېلو شعري قالبونو کې یې زموږ
رارسولي ده .

که پښتون توریالي په توره دخپل هیواد دپت او ننګ ساتنه کړې
نو پښتون شاعر بیا په خپل قلم دخپلو توریالیو دکارنامو یاد ساتلي دی .

دپښتنو تاریخ دتیرا او اپریدو دمېړانۍ او بې‌ها د رڼې جګړو او مرګ
ژوبلې اوږدې کیسې او حماسې هم په نظم په نثر په خپلو پاڼو کې ثبت
کړې دي ، چې دتیرا او اپریدو پر سیمو باندې دانګریزانو او سکانو د جګړو
او ددوی پر خلاف د دوی دمېړانو او جګړو فهرست ور کول ځانته
اوږد بحث دی .

هسې خو دلیکني ادب په ګڼو ډولونو ، لکه شعر ، ناول ، ډرامې ، لنډې
کیسې او نورو کې هم په خوره وره توګه او هم په کتابې ډول دتیرا
والو پښتنو د بهادرۍ او غیرت کیسې را بر سیره کړې شوې چې له هغو
څخه د ننګیال او جنګیال خوشحال له خوا ددریا خان اپریدي دمېړنتوب
په ستاینه کې ځیني شعرونه ، دتوپي دجمشید له خوا د غازي عجب خان
اپریدي د کار نامومه تاریخي کیسه ، د محمد علي له خواد (او بیانو
پښتون قتل کوي) په نامه لنډه کیسه اود عجب خان اپریدي سینمایي
فلم یادولي شو ؛ خو څرنګه چې زماد بحث موضوع یوازې دولسي سندرو په
په چوکاټ کې محدوده کړای شوې ده او په ولسي سندروکې مې پرته
له چاربیتو په بل ډول کې دموضوع په باب څه ونه موندل نو ځکه
دپښتو ولسي ادب په ګڼو ډولونو باندې خبرې کول وڅخه ددې لپاره

تیریزم چې یوخو ماله خپلی اصلی موضوع نه لری کوی اوبل داچې په دی باب ډیرخه لیکل شوی دی، ځکه یې بیاتکرارورته بولم او یوازی چاربیتوباندی له څولنډ وخبرووروسته په کوونولولوژیسک ډول دهغو چاربیتو ذکر کوم چې دتیراد جګړوپه باب ویل شوی دی.

اوداځکه چې زماد معلوماتوله مخی دتیراجګړوله چاربیتوپرته په نوروواسی سند روکې خپل انعکاسات نه دی پریښی.

چاربیتی په فورمی لحاظ په اومړی سرکی په دوولوی-وډلوویشل کیږی!ساده چاربیتی اوځنځیری. دغه دوه ډوله چاربیتی بیاپه خپلو منځوکی سوه ډیرنورډولونه اودبند ونوحوربښت لری چې ځینی بندونه یې څلورمسره ییز،ځینی یې پنځه مسره ییزاوځینی ان تراتـه مسره ییزاوتردی لا هم ډیریږی. (غـوتـی خاوری، ۱۳٦٦، کال ۸۱-۸۲ مخـونـه)

دموضوع په احاظ په چاربیتوکی ډول ډول مطالب لکه عشقی تاریخی، تـولنیز، جنګی اونـورراتـلای شی.

چاربیتودولسی سندرودیوډول په توګه له ډیری پخوازمانی راهیسی دلویواوړوپینبود خپرولودوسیلې پـه توګه دګـړنـی ورځپاڼـې کار ورکړی دی. دچاربیتوجوړښت ښیي چې داد پښتوډیـرې لرغـونـې سندری دی اوله ډیري پخوازمانی څخه رانښلول شوی دی اودتاریخ دخونډی کولووسیله بلل شوی ده.

دارمستتر چا ربیتی د پښتنو لیکـلی تا ریخ بـولی اووایـي چـې د پښتنو د جنګونو او غزاګانو تاریخ پـه چاربیتو کـې نغښتی دی (دارمستتر ۱۳۵۶ کال)

دتیرادجګړو په باب چاربیتی :

لام یـې راجوړ کړځی چیـنی ته دی روان پرنګی
رب دې کاستومان پرنګی
لام یـې رانجوړ کړزړه یـې بدپه انـدرشیرو یـنم
ځی په اسلام پسی داپـښې یـې تیـرو بـیرو یـنـم
هرغـازی پرې شیـرونیم
لاړ دبـازارپه کنـډوواوړیـدوپـریشـان پـرنـګـی
رب دی کاستـومان پرنـګی
ددیـې زخمی شو دخری چینی پـه سـربانـدی
وایـم پـه هـنـربـانـدې
جګړه یـې وکړله پـه وخت دمـازدیګربـانـدې
سـکـ یـې وپـه سـربانـدی
صرفه پری ونه کړه غازیانو کـه پـه ځـان پرنـګی
رب دی کاستومان پـرنـګی

---

* د غه چا ربیته دیارمحمد شینواری ده چی په ۱۸۸۶ کال په لوارګی کی زیږیدلی دی او په ۱۹۱۳ کال په تنګی غار وکی مرشوی دی او په لوارګی کی خښن دی. دزیاتو معلوماتو لپاره و ګوری پښتانه شعر او شلورم توك ۱۹۹ مخ.

کنډويـې واخيست بياپه سر کي يې ديره شوانګريز
شعه په ننداره شوانګـريـز
په خپل طاقت او په خپل زور ځانته غوره شوانګريز
بيـاپـه تـراره شـوانګريـز
لام يـې واپسـ کـه پـستنه شـورار وان پـرنـګـې
رب دې کاسته مان پـرنګې

((عبدالله بختانی، ۱۳٤۷ کال، ۱۳٤ مخ)

په دې چاربيتې کې په تيرا باندې دانګريزانو د۱۸۹۱ کال د بريد پيښې څرګندې شوی دی .

کله چې انګريزانو په ۱۸۹۷ کال کې داپريدو مرکزی علاقه ميدان او ور سره نـوری شاوخـوا عـلاقـې پـه ډ يـره ظـالـما نـه او وحشيانه توګه تباه کړې وی نـولايـې خـواسـره شـوی نـه وه، اراده يـې وکړه چې داپريدو نوری علاقې هم تباه کړی . دميـدان له تباه کولو وروسته يـې دوادی بازار او خيبر د تباه کولو تجويز جوړ کړ، دوه پوځونه يې تيار کړل او دوارو پوځونو د۱۸۹۷ کال ددسمبر) په ۲۳ حمله وکړه .

يوپوځ په خيبر ورغی په وهلو او وهل کيدلو يې ځا ن چينې تـه

* چينه دزخه خيلو واپريدو په بازار نومـی دره کـی واقع ده . د چيـنی لا م دپير نګيانو دهغو احساساتو عکس العمل وچې په اندر شير باندې دملتا ن زخه خيل له يرغل نه راپيداشوی و .

ورساوه. او بل پوځ الاچي، کرمنااو بر ګټ ته مخه کړه او بیاد واره پوځونه راوګرځیدل او په لنډي کوتل کې سره يو ځای شـو. بيايې د ۱۸۹۸ کال دجنوري په لومړي ورځ په ناڅاپي توګه نوی او تازه دم پوځ له جمرودنه ترلنډي کوتل پوري جوړ کړ، لوتماري يې پيل کړ، دانو دانګريزانو توپانې بريدو، غازيانو هم ورته ځان چمتو کړا ولکه شنه زمريان داسې يې پري ورودانګل په پرنګيانو چې بده ورځ راغله نو دجرګې اوسولې خبري اتري رابرسيره کړی، اپريدی هم له جګړو ستړي شوی وو، جرګه يې ومنله اوسوله شوه او انګريزان شپته روان شو.

(عبدالحليم اثر، ۱۹٦۸ کال، ۲٦٤ مخ)

په تيراباندی انګريزانو ۱۸۹۷ کال داکتوبر د مياشتې دبريد پيښې په يوه بله، اوزده چاربيتي کی هم څرګندي شوي دي چې يوازې سر او يوبند يې دنموني په توګه ليکو:

پوځونه راغله دانګريزعالمه
واره ګورکيان سکان سرتيزعالمه
اخلي «تيرا» اوس ملك پری تننګ دی
خلکه اسلام دکفر جنګ دی

* * *

په تيبتته خلاص شو بيا په شورنه کا
په مسلمان هند وبه زورنه کا

تـالاوالاشـــوو پــه دی لام دتــیــر ا
بیابه لاړنه شی پــه مـقام دتـــیـــرا
خدای دی په داقسم څوك چورنه کا
هوښیاربه څه رنـګه پیـغـورنـه کــا
ورته معلوم شـودیـن اسـلام دتیـرا
بـی داور کزونه تورزن همدی تیـرا
دمسلمان مخ دی خدای تـورنـه کا
مــلامقصـود دی ګفتـارنـو رنـه کا
لام یـی شومات ځی په ګریـزعالمـه
راغـله پـوځـونـه دانـګریـزعالمـه
لام یـی که بند لاړو په دوه مقصود ه
معلوم یـی نه شوتیـښتی رومقصود ه
زړه دلوکاټ جرنیل چـورنګ دی
داداســلا م د کـفـرجـنـګ د ی

(زلمی هیوادمل ،۱۳۶۱ص ۱۷۹-۱۸۰)

معاصر شاعر عبدالقیوم کوثر دملك عبدالجبار زخه خیل اپریدی زوی هم په یوی چاربیتی کی دپرنګیانو د۱۸۹۷ کال دبرید اوددوی پرضد دپښتنو داتلوا لوجګړو څرګندونه په یوه چاربیته کی کړی ده. چاربیته داسی ده!

ماچې نن وتړله ملابچيه    نوتاتپوس وکړ وله مابچيه
دپښتانه بابابچي نه يسې ته    دمستقبل نه توريالي نه يي ته
دستړگوتوره زه غزا له څمه
بچيه ښکلې مشغولا له څمه

بچيه واخله نصيحت واخله    لـه دې ملاتـړ نه مې عبوت واخله
صباداحال که ستاپه لارر اشي    هم داسبق به دې پـه کارراشي
نن زه دقام غم کې يوخـوا تـه څمـه
بـچـيه ښـکـلې مـشغـو لا ته څمـه

نن مو په قام کې انديښنې راغلي    عن تـر لمنـې مولمبې راغـلي
دې داسې غم چې بې زغماې نشم    توره په تيکي کې ساتلـې نشم
په نيت دسو ددقـام سـودا تـه څمـه
بـچيـه ښـکـلـې مـشغـولا ته څـمه

(حمزه شينواري، ۱۹۵۸ کال
۲۹۷ ـ ۲۹۸ مخونه)

اوداهم دتيراد جگړو په باب يوه بله چاربتيه:

دنيـاله اندرشيره    داکې يورله ډيره
لات جمع پيرنگيان کړه په رعيت مې کيزې زياته
مـلاوتړئ تيرانه

د نیاله اندرشیره — داکې یو رله دیره

سیتهانو ورته وی چې مونږه ځوله پېښوره

خبورشه کمشنره

خبرشه ته‌سرکاره — غوږونسه هوښیاره

سودا موده په دې تیروی مونږ دشمشیره

د نیالـه اندرشیره

نصیب ددوارو کم شو — د ځان را سره غم شو

بال بچ سره مو بیایي اپریدو راخستی زیاته

ملاوتړئ تیراتـه

بال بچ لـه مونږروان کا — بیا ځوك زمونږپر سان کا

داکه داپریدو په پېښور راغله‌برسیره

د نیاله اندرشیره

صفت د مومنانو — ما و کړو سامعانو

مولادی مکرم (۱) بصیر تیر کړی له‌صراطه

ملاوتړئ تیراتـه

(عظیم اپریـدی، ۱۹۷۳ کال، پېښوره ۵۵ ۵۷ مخونه)

په دی چاربیته کي دپېښور په اندرشیر بازاربانډی دملتان د برید

---

(۱) دلته شاعرد چاربیتی په کسری کی خپل نوم مکرم بصیر یاد کړی دی. ددغه شاعر په باب معلومات نه‌دي موندل . یوازی پښتانه شعراء څلورم ټوك يې له‌همدې چاربیتی سره نوم ثبت کړی دی.

او د۱۹۰۸ کال د فبروري په میاشت کی په زخاخیلو اپریدو باندی هیر-
نګیانو دحملو تفیصلات واغلی دی .

ملتان د تیرا اوسیدونکی او په کام زخاخیل اپریدی ، زخاخیل د
انریدو ډیره نامتوقبیلـه ده چی د سیاسی اوجغرافیایي پاوه ځانـګری

اهمیت لری . له پېښوره چي کومـه لاره کابل ته تلـلی ده ددي
قبیلی تراقتدارلاندی ده داقوم په د اسی ځمکه پروت دی چی کابل او
پېښورته یوشان رسیدلی شي . داقبیله په اپریدو کی ډیره جنګجوی
قبیله ده او دانګریز پرخلاف ډیر جنګونه هم دوی په ځمکه شـوی
دی . (عبـدالحلیم اثـر ، ۱۹٦۸ کـال ، پېښور ۲۱۳-۲۱٤مخونه )
زخا خیلو د خیبر د نورو اپریدو پـه خیرا-ومـری ځل په ۱۹۳۹ کال
کـی د افغـانستان دا-ومـری جـګـړی په وخت کی پـه خیبر دره کـي
اوو رپسی په ۷۹ - ۱۸۷۸ ، ۱۸۹۸ ، او ۱۹۰۸ کلونـو کـی د نرنګیانـو
له وسله بندپوځونوسره په نره توری ووهلی (عظیم انریدی، ۱۹۷۳ ،
پېښور ۷۳ مخ)

لنده داچـي د شلمی پیری په لومړیو څو کلونو کی ملتان زخا خیل او
ملـګرویـي په خپلو پـر له پـسی بریدونو له پرنګیا نونه وا رو پارخطا

---

اپریدی قوم اته ښاښو نه ( کذا ) لری : کوکی خیل ، ملک دین خیل ، زخاخیل ، قمبر یسپا ، ه
اکاخیل ، آدم خیل . چی دکوهاټ او خیبر په علاقو یا په بله و ینا د کابل سیند ترمنځو
د تیر اه په ځمکه پر اته دی ( عبدالحیم اثر ، ۱۹٦۸ کال ، پیښور ، ۲۱۰-۲۱۱ مخونه )

کړې و. پر نـګيانو دملتان له بريد ونونه دځان دبچ کولو لپاره هر دول هڅې وکړې خو ملتان نه د دښمن په بدوراضي شو او نه يې په زړه باندې د دښمن د ځواکمن پوځ ويـره ولګيده او پر، پرلـه پسې تو ګه يې خـپل بريدونه جاري وساتـل .

د تاريـخونو په استناد ملـتان د۱۹۰۲ ع کال نه دانـګريزخلاف په سرکاري علاقـو باندې بريدونه پيل کـړې او د لس ګـونو بريدونـو بهر په کي يې دښمـن ته دسر او مال تاوانونه رسولي دي. په دغو تېرلو بريدو نـو کـې په اندرشير بازار د ملتان بريـد زيات مشهوردی . دغه بريـد د ۱۹۰۸ کال د جنورۍ د مياشتې په ۲۸ نيټه وشوچې هندوانو اوسکانو ته يې درانه مالي تاوانونه ورسول او ډېرغنايم يې له ځانـه سره يوړل په سرکاري علاپه دزخاخيلو د پرله پـسې بريـد ونو او پر، ځانګړې توګه په اندرشير د ملتان د زړه وربريد په، وجه، نرنګيان له ډېرې غصې نه وريته شول او دملتان او دزخاخيلو قبيلې نه يې د بدل اخستو بنا وکړه پر نګيانو د حملې لـپاره څه د پاسه (۱۲۶۰۰) با قاعـد . پوځ (۲۵۰۰) پوځي کسان او (۸۱۶۰) بار ګير څـار وی را تـول کـړل .

او د ۱۹۰۸ کال * دفبروري په ديارلسمه يـې دزخاخيلو په علاقه ډېر سخت

---

په تور بريښ کې د دغه حملې کال ۱۹۰۹ ښودل شوی
(عبدالله بختاني، ۱۳٤۷ کال، ۱۲۸ مخ)
زموږ مجاهدين هم ددې حملې کال د ۱۹۰۸ کال دفبرورې ۱۳ ښودلی دی (عبدالحليم اثر،-۱۹۱۸ کال پيښور، ۲٦٥ مخ ،)
ښکاري چې د تور بريښ ليکوال به تېروتنه کړې وي او يا به طباعتي غلطي وي.

بریدو کړ، جګړه دفبروري د۱۳-۲۹ نیټې پورې روانه وه، چې پر مالي تاوانو بر سیره ددښمن خلو یښت تنه مړه او ټپیان شول. په دې برید کې د پرنګیانو پوځ دزخاخیلو کورونه وران کړل، ددوی فصلونه یې لتاړ کړل خو دملتان په نیولو بریالي نه شول .

(عظیم ایریدی، ۱۹۷۳ کال، پښور، د۳٦-٥٤ مخونو لنډیز)

د ۱۹۰۸ کال له جګړې سره سره بیاهم پرنګیان د ملتان له حملو نه خلاص نه شول او له دې جګړې وروسته یې بیا دانګریزانو په کمپونو، او کورونو باندې په لسګونو واری بریدونه وکړل، او دګولیو باران یې پرې جوړ کړ، ډیري مړ کړل، ددوی په لسګونو اوښانو، اسونو او ټوپکو یې قبضه وکړه، کله چې پرنګیان دتوري او مقابلې کولو نه پاتې را غلل نو دمکر او ټګۍ دامونه یې خواره کړل او دملتان دنیولو لپاره یې خلکو ته بډې ورکړې. دشیرغلام په نامه د ملتان یوه مشلګري له انګریزانو څخه بډې واخستلې. کله چې ملتان د سوړیزو میرې ته راکیو ته نو مخبر شیرغلام ددو دې راوړلو په پلمه دخیبر ایجنسي یوه افسر ته ځان ورسولو او دملتان دځای ځایګي نښې نښانې یې ورکړې.

په دې ډول ملتان او دهغه ملګري دخپل ضمیر پلورونکي ملګري دجاسوسۍ له امله دسوړیزو په میره کې راګیر شو. ملتان ددښمن په لیدو مقابلې ته ملاوتړله او تر وروستي سلګۍ پورې یې ددښمن له پلټنو او توپخانې سره څلور ساعته جګړه وکړه، خو یې چې ګولۍ خلاصې

شوی. ملتان شهید شو اوشپږ تنـه ملګری یې له تشو توپکو سره ژوندی ونـیـول شـول.

سره ددی چې ملتان شهیدشوی وخو بیا هم یوځ لەدی ویری هسی نه چې ملتان له پاسه په دوی راودانګی د هغـه کالبوت پـه کټ کې پـه پرو وتـړلو.

دملتان په مرینـه اوددې جـګـړې پـه بـاب د یرشعـرونـه ویـل شوی‌دی، خودلته دموضوع سره‌دارتباط له مخی د عبدالحمیدچاربیته رااخلوچې په دی چاربیته کې دملتان دملګروشمیر، د جنګ جګړی سم ځای، دجاسوس نوم اود ملتان او پرنګیانـو تـرمنځ، د جـګړی حـالات انځورشـوی چـې له تاریخی پلوه هم دځانګړی ارزښت درلودونکی ده.

تقدیرته نشته بند　　کەهرڅوبې کړوهنر　　ملتان په تنګی ګیر شو

طوطی دسر دري　　اوس به څوک کوی داړې

ملتان دزخـاخیلو　　راغی په آدم خیاو　　شوبنکته پـه زاخـیلو

په خوږدسوریزو کې په یوغار کی شو څرګند

تقدیر تـه نشته بنـد

څرګند شو په یوغار　　په‌دې که اعتبار کړې　　جاسوس یې کەته‌خوار کړی

جاسوس یې د‌دو‌دی په بهـانه لاړلوسهـر

که هرڅوبې کړه هنر

په تلو کې داسې چل کړو خبر یې پولتیکل کړو تیار یې روس کیپل کړو

ریښه په تار کې راغو په ملتان باندې اندهیر شو

ملتان په تنګی ګیر شو

په زلزل شو پیرنګیان وی راغلی دی ملتان پوځونه شول روان

دستې پسې روانې هغه د م شوی رسالې

بیا به څوک کوی دارې

سواره شو دغه واره دوی تلل په بیره باره دیره دخوړ په غاره

په ملک د کیچوری کې په یوغار کې شو خرګند

تقدیر ته نه شته بند

خواره واره مکان شو ګوره هم پور بیان شو هندو که مسلمان شو

ملتان وکړلو جنګ بیا شو په وینو رنګ هر یو تر ینه په څنګ

سری چی ورسره وو ددوی جنګ وهم دخوند

تقدیر ته نشته بند

همراه یې پوځوان و عزت کی پهلوان و ښایسته د ګل په شان و

هغه هم پکی ځان مړ کړو شه رحمت یې په پدر

که هرخوبې کړو هنر

دره کې زخاخیل رحمت ددوی په خیل ګلونه درامبیل

چمن شولو تالاوار خود سرو ګلانو تیر شو

ملتان په تنګی ګیر شو

عبدالحمید دغه سوداده هم دغه مدعاده جاسوس پسی دعاده

مولادی شیرغلام بچی حلال کـه په چارې

بیابه څوک کوی داری

تقـدیر تـه نشته بند *

(عظیم اپریدی، ۱۹۷۳ کال، پېښور، ٦٥ـ ٦٨ مخونه.)

دسوریزو میره کی دشیرغلام پـه مخـبری او بـدی اخستو سره دانگریزانوله خوادملتان دایسارولواو بیایې دمړینی خـواشینونکـی پیښه دعبدالغنی په نامه یو شاعر په ښکلې یوه چاربیته کی هم منعکسه کـړی چې سراویوبند یې دلته لیکو :

کارونه گوره د خـاوند

نور به یې نه وینه دنیاژوند

وخت دزوال ووپرخزان ولگید

دسریزولاندی ملتان ولگید

* * *

دغه ملتان یو افلاطون وو

دی په ربنتیا سره پښتون و

---

* دغه چاربیته په تور بر ینبن کی دښاغلی حبیب الله اپریدی له خولی په نیمگری دول بنه ثبت شوی ده.

(بختانی، ۱۳٤٧ کال، ۱۳۱ـ ۱۳۳ مخونه.)

په زخه خیلو کې یو ځوان و
ملتان دتوري پهلوان و
په مړويې ووهلو برچو کې
کافران ډیر شو په چرچو کې
شینواري پاڅیده ځو ګند
کارونه ګـوره دخـاوند
زه «عبدالغني» بې تل صفت کومه
دعا به تل په هر ساعت کومه
صفت یې کوم چې ځومې ژوند
کارونه ګوره د خاوند
خاوند ورکړی جنتونه
تول اووه واړه جنتونه
شوور داخل په ګورستان ولګید
دسوریز ولاندې ملتان ولګید .

(زلمی هیواد ملي، ۱۳۶۱، کال ۱۶۹-۱۷۱ مخونه)

دپینور په اندرشیر بازار باندې دملتان بریداو بیادانګریزانو له خوا دمتقابلې دزخاخیلوا پریدو په مېمه باندې دانګریزانـو دبرید پـېښې او دملتان مړینه درحمدین لغماني (۱۲۹۹ هـ ش شاوخوا کې مړ) له خوا هم پـه یوه چاربیته کې منعکسې شوې دي :

دازل کښلی نـه نوریزی

بنده لـه کـوره روانیزی

لکـه ملتان پـه پېښور هسی ورگله شوپه لښکـر

میرانه و کړه په خپل سر لکه نخونی زمری شونیزی

* * *

توره یې و کښله په میدان تول پېښورشوپه لړزان

هندکی خپه دی انگـریزان تانبه داران ترینه ویـریزی

* * *

په اندرشیر باندی حمله کړه توره یې پرانگریزلره ښکـاره کړه

کچري یې بار پـه خـزانـه کـړه دنیمې شپې سر ود غـزیزی

بنده دکوره روانیزی .

(بختانی ، پښتانه شعراء څلورم توک، ۱۳۵۷ کال، ۲۰۳ـ۲۰۵ مخونه.)

اخځونه

ـ اثــر ، عبدالحلیم، زموږ مجاهدین ، محکمه نشرواشاعت قبایل حکومت پاکستان پېښور، ۱۹٦۸ع کال .

ـ اپـریدی عظیم ، دری ننگیالی ، پېښور ۱۹۷۳ع کال .

ـ بختانی عبدالله، تور بریښ ، کابل، پښتو تولنه، ۱۳٤۷ هـ ش کال.

ـ بختانی، عبدالله، پښتانه شعـراء، څلـورم تـوک ، کـتابـلی افغانستان، دعلومو اکادمی ۱۳۵۷ هـ ش کال .

- دارمستتر، جیم، د پښتو نخوا د شعر هر او بهار کابل، پښتو ټولنه ۱۳۵۶ هـ ش کال چاپ.

- خاوري غورتی، د پښتو شفاهی ادبیات شکل او مضمون د افغانستان دعلوموا کاډمی، دژبو او ادبیاتو مرکز، پښتو ټولنه، ۱۳٦٦ هـ ش کال.

- شینواری مراد، دخیبر ادب، پېښور، ۱۹۵۸ ع کال.

- هیواد مل، زلمی، ولسی سندری دویم ټوک ۱۳٦۱ هـ ش کال.

پوهنمل بریالی باجوړی

# دخیبر دسیمې ادبی جریان

که، په مجموع کې دپښتو په ادبي جریان باندې خبرې کوو، نو د تاریخ په اوږدو کې د خو مهمو مرکزونو څخه سترګې نه شو پټولی لکه غور، کندهار، پښاور او خیبر، چې ددغو مرکزونو په لړ کې دخیبر سیمه هم دتاریخ په اوږدو کې دپښتو ژبې او ادب یو مرکز پاتې شوی دی چې نامتو پښتانه شاعران، لیکوالان هلته پیدا شوی، او سیدلی او خپل تالیفات یې په دغه سیمه کې بشپړ کړی دی .

دمثال په توګه تیراکه له یوارخه یو وخت دپیر روښان دتحریک مرکز ونو له بله پلوه د ده دکورنی، مریدانو او پلویانو دتحلیقاتو او ایجادیاتو ټاټوبی هم و . وی چې پیر روښان خپل کتاب خیرا لیان په خیبر کی بشپړ کړ او دهغه لمسی میرزاخان انصاری دخپل نیکه دتصوفی افکارو او په تیره بیا دوحدة الوجود دفلسفی تفسیر په خپلو شعرونو کی په ښه دول وکړ. دپیر روښان نه علاوه ددغی کورنی نور شاعران او پیروان هم په تیرا کې

پاتی شوی دي لکه میرزاخان انصاری ، قادرداد، ورکزی اونور(۱)
نو داخرگنده دهچي خیبرنه یوازې دروښانیانود مبارزې مرکزو بلکې
ددوی د شعراوادب مرکزهم واو په پښتوکې دیومنظم مکتب مرکز
هم پاتی شوی دی ځکه چې دروښانیانو د فکری مدرسی پلوشی له
همدغه ځای نه خوری شوي دی.

کله چې د روښانیانودوره پای ته ورسېږي نوبیاددغی سیمی دیو
شاعرذکرچې یونس خیبری نومیږي دمحمد هوتک په پټه خزانه کی
راغلی دی چې دغه شاعرهم څه موده په خیبرکی پاتی شوی دی اودده
احوال محمدهوتک د خپل تربوررحمت هوتک له خولې ثبت
کړی دی.

دوښانیانو نه وروسته چې ددغی سیمی د کوم بل شاعرذکرکووهغه
قلندر دی

چې وروسته له ۱۱۰۰ هـ ق نه یې ژوندکاوه . دی په قوم اپریدی و
عاشقانه مضامینود ده شعورنګین اوخوږ کړی دی دحمید مومند نازک
خیالی ته قایل دی اماله دی سره هم پخپله هم پښتون په ادب تاریخ
کی دنوی سبک خاوندی قلندردیوان خاوندی (۲)

همدادول داحمدشاه بابابه عصرکې ددغی سیمی ددوه تنوشاعرانو

(۱) مراد شینواری ، دخیبرادب ، پیښاو ر ، منظورعام پریس ، کال ۱۹۵۸ ، ۲۳ مخ

(۲) زلمی هیوادمل ، فرهنګ زبان و ادبیات پشتو، نشرکرده وزارت تعلم وتربیه ، ریاست تالیف وترجمه سال ۱۳۵۶ ، مطبعه تعلیم وتربیه ، (ص ۳۸۸)

یادونه راغلی ده چې یو یې ملاعلم اپریدی دی او بل یې قابل ورکزی چې معاون سرمحقق زلمی هیواد مل یې په فرهنګ زبان ادبیات پښتو کې یادونه کړی ده ملاعلم اپریدی دا حمدشاهی عصر شاعر و چې په هندوستان کې یې ژوند کاوه . زوکړه یې په ۱۱۳۰ه ق کې شوی دخپل شعر دیوان یې په ۱۱٤٤ ه ق کال بشپړه کړ پښتنو تذکره لیکونکو ده غه احوال ثبت کړی دی (۱)

قابل اورکزی د احمد شاهی عصر دعلمی او ادبي مشاهیر و څخه و دغزالی دقایق الاخبار یې له فارسی نه پښتو کړ. قابل دده دخپلی وینا له مخې د تیراد ورکزیو له قبیلې څه دی پخپل شعر کې یې دلوی احمدشاه (۱۱٦۰ - ۱۱۸٦ق ) توصیف کړی او وایي :

زه قابل بنده اور کزی یم — اورکزو کې منوزی یم
بادشاهی داحمد شاه ده — تر دکنده یې غوغاده
عالمان دتیراه واړه — په زاری دی رب ته واړه
بادشاهی د احمد شاه — په قرار لري باد شاه

په دولسمه هجری پیړی کې چې ددغې سیمې دشاعرانو (۲) په لړ کې قمبرعلی خان هم دیادونې وړ شاعر دی قمبرعلی خان دسرورخان اورکزی زوی دتیرادتی خیل په دره کې د «کلاپه» په کلي کې ژوند کاوه . په مروجه علومو کې مطالعه لرله صوفی مشربه او دسیدانو رشاه

(۱) همدا اثر ۳٤۰ مخ ،
(۲) همدا اثر ۳۸۲ مخ ،

له مرید انو څخه وقمبرعلي د ۱۲۰۷ هـ ق کال درجب په میاشت په پیښور کې رحلت وکړ او هلته خاورو ته وسپارل شو قمبرعلي په پښتو کې دمردف دیوان خاوندی (۱)

ددولسمې هجري قمري پیړۍ په پای کې دغې سیمې ته دیوبل منسوب شاعر ذکر دمعاون سرمحقق زلمي هیواد مل په فرهنګ زبان أدبیات پښتو کې راغلی دی چې داشاعر علي اکبر اورکزی نومیږي. علي اکبر ورکزی دقاسم خان اورکزی زوی دی چې ددولسمې هجري پیړۍ په پای کې یې دتیرا اوخیبر په شاوخوا کې ژوند کاوه هغه دتورې اوقلم خاوند و. په پښتو اوفارسي ژبو یې شعر وایه دهغه دیوان دګلشن افغاني په نوم په اتحاد شوروی کې موجود دی. علاوه پرشاعری ا نځورګر او تکره خطاطهم ودلوی احمدشاه باباداولادونو په لښکر کښې کې یې حصه لرله(۲) دکلام مونه !

سنه زر سل نوی وایه شی
چې له کوره شوم روان
خپل شامت ژاړه اکبره
ملامت نه دی حاجیان

له دغو یادونو وروسته چې د کړ موشاعر انو ذکر راغلی دی اودغې سیمې ته منسوب دی هغه اولسی شاعران دی چې په پښتو تذکرو کې یې احوال

(۱) زلمي هیوادمل، فرهنګ زبان وادبیات پښتو، ۳۸۹ مخ.
(۲) همداا ثر ا ۲٤ مخ.

ثبت‌دی. دغه‌اولسی شاعران څه‌کم وزیات‌سل کاله وراندی تیر شوی دی او سینه په‌سینه دثبت ترنیتی‌رارسیدلی دی . هغه‌اوس شاعران چی دخیبر په‌تذکروکی ثبت‌دی په‌دی‌ډول‌دی: میرا، توره بازشینواری، یارمحمدشینواری، اختر محمدشینواری، خسروا پریدی، حاجی محمد شینواری، سیدان‌شاه‌افریدی‌او نوردی‌چی په‌ملی‌اوزانوکی‌شعرونه ویل اوچاربیتی، لوبی، بګتی اونوری ملی سندری تری پاتی دی چی هغه وخت دواسی ژوند تـول کـړه وره او تاریـخی پیښی پـکی خوندی دی اودیـارمـحمد شینواری، خسرواپریـدی اوحـاجی محمدامین شینواری شعرونوداسی ضداستعماری محتوالرله چی شعر دحاجی محمدامین‌شینواری په‌یوشعر دانګار اخبارمصادره‌شو اوځرنګه چی شعردګدادتخلص‌لاندی‌چاپ شوی ونوانګریزانو داسی‌فکروکړ چی‌داشعرګوندی دمولوی عبدالحی دی هغه‌یی‌ونیواوشپږ کالـه یی زندانی کړ. (۱)

ویلی شوددغی دلی‌له‌منځ ځنی شاعران دملی تحریکونو سره‌تړلی وچی حاجی‌محمدامین یی یوځرګند مثال‌دی.دی دتـرنګـزو دحـاجی صاحب کلکـځ ملګری‌ واودانګریزانو پرضدیی تل‌ځپله‌مجادله‌جاری ساتله .

دریمه دوره یـادمواد شینواری په قول نـوی دوره د امـیرحـمزه

(۱) ګـ، فـګیرمـ، دمیرنی ادبیات، مترجم سرمحقق معتمدشینواری، خپر ونـکی دقومونو اوقبایلو وزارت، دنشراتو او تبلغاتو ریاست، دولتی مطبعه، کال ۱۳٦٤، ۲۹۰ مخ

شینوای له نامه سره تړون لري. حمزه چې د پیژندګلوۍ محتاج نه دی اوادب په بیلابیلو صفو نوکې د پوره صلاحیت خاوند او په خاصه توګه د پښتو داوسني غزل د پلار په نامه شوی دی.

دحمزه شینواری په وخت کې دخیبرادبي جریان پراختیار مومي او لکه پخوا په شان بیادغه مرکز په نوی طریقه فعالیتونو اوخپلو هستونو ته دوام ورکوي.

استا دحمزه په لومړي سرکې په اردو ژبه کې شاعري کوله او په اغلب ګمان چې ۱۹۳۰ ع کال نه یې وروسته دخپل پیر سید عبدالستار شاه بادشاه په هدایت پښتو شاعرۍ ته مخه کړی ده. نو په دی توګه ویلی شو چې داستادحمزه پښتو شاعري د ۱۹۳۰ په وروسته شروع شوی ده. داستاوحمزه په راتلید وسره د خیبرادبي مرکز یو ځل بیا په پښتو دریزی او د پښتو ادب ځانګی وروورو خوریزی د تولو نه رومبی شعر او په خاصه توګه غزل ته پاملرنه کیږي غزل دخپل زوړر ایتی شکل نه راوځي اود پښتو په جامعه او مضمون شکلي کیږي دغزل کړه وړه بی پښتني کړي ، په نو یو مفاهیمو اوخاصو پښتني اصطلاحاتویی رنګین کړل ، پښتوا پښتونولی په غزل کی ځای کړی او لنډه داچې غزل یې په خاصه توګه پښتني غزل کړ دحمزه ددغه لاردخیبر دسیمی ډیرشاعران روان شول اوورو وروددغه ټګټلوری دیو مکتب حیثت غوره کړ چې دخیبر ددابي مکتب په نامه یې خیرونکی یادوی. همدغه وجه وه چې حمزه د پښتو داوسني غزل د پلار په نامه ونومول شوا ودده پیروان له یوې

ورځې نه بلې ته زيات شول چې ځينې مشهور شاعران يې دادي، لکه اهل- زاوده ناظر، محيګ، ضابط خان حايم، عبدالقيوم کوثر، خاکراپريدی احسان ظهير، باصر شينواری، سيماب شينواری، جوهر شينواری او نور.

مونږ ځکه وويل چې دخيبر په ادبي جريان کې په لومړي قدم کې شعر ته او په خاصه توګه غزل ته زيات کار شوی دی او دکليم شينواری په قول همدا اوس په خيبر کې څه کم و زيات پوسلو شپېته شاعران موجود دی (۱)

اوس به په دې موضوع بحث وکړو چې دخيبر په ادبي جريان دادب نورو صنفونه څه ډول دي او څومره انکشاف موندلی دی.

دداستاني ادبياتو په برخه کې که له کيسې نه خبره پيل کوو، نو بيا هم داستاد حمزه نوم تر ټولو دمخه دی، لکه څنګه چې په خيبر کې دادب په ټولو برخو کې دده ايجاد يات لومړی دی داستاد د حمزه د کيسو به باب پوليکوال ليکي: «داستاد حمزه شينواری دداف سانو ابتدا ۱۹۴۹ع کال نه شوی ده او دهغه‌ړومبی افسانه «دخارغلي مورچه» نوميږي، په دغه افسانه کې د افغانستان د ۱۹۱۹ع کال پيښو ته اشاره شوی ده او دپښتنو دژوند او حالاتو بيان په هنري انداز سره شوی دی، داستاحمزه دافسانو شمير لسو ته رسيږي» (۲)

---

(۱) کليم شينواوری، دخيبر ليکوال، پښتو ادبي جرګه، پيښور، جدون پريس، کال ۱۹۸۸ع دمولف سريزه، ۲۳ مخ.

(۲) دحمزه ياد، دحمزه شينواری په باب دمقالو مجموعه، خپرونکی دقومونو او قبايلو وزارت دنشراتو او فرهنګي چارو رياست، دولتي مطبعه، کال ۱۳۶۶، (داستاد حمزه درامې او افسانې دافضل تکور مقاله)

بله‌د کیسو مجموعه‌چې دخیبر په‌سیمې پوری اړه‌لری دمرادشینواری ده چې‌دپلوشی په نامه ډیره‌پښواچاپ شوې‌ده (۱)

خولکه څنګه چې‌څرګنده‌ده پښتو کیسې‌هغومره‌وده‌ونه کړه‌او نه دخیبر په سیمه دومره‌لیکوال ومونډل چې دغه صنف پراختیاوموی.

ناول هم‌دخیبر په سیمه کې‌استاد حمزه‌شینواری پیل کړاود نوی چپی به نامه‌یې خوراښکلی ناول وکیښ‌چې پښتوناولونو کې دیاد وړ مقام لری. خو دغه‌ژانر ته‌هم، لکه‌څنګه‌چې‌بنایی‌په خیبرخاصه‌توجه ونه شوه، یوازې‌امیرمحمد ساغرپه دغه‌لار کې خپلوکوششونو ته‌دوام ورکړه‌اودنوی کول په نامه‌یې یوناول‌ولیکه، خو په‌دغه‌لارکې‌هم‌نورو لیکوالو خپلی هڅی‌ونه کړی‌اوناول‌لیکنه یوازې په لومړ نیوقدمونو کې پاتی‌شوه.

ډرامې‌لیکنې په‌برخه کې هم‌دلومړی ځل لپاره دخیبر په سیمه کې استاد حمزه قلم‌اوچت کړ هغه په‌کال ۱۹۳۵ع کې دهغه وخت دال‌انډیا ریډیو دپاره‌لومړنی پښتوډرام زمینداروليکه چې‌دعبدالکریم خان مظلوم په خوښه نشر کړی‌شو، چې په دې توګه داستاد حمزه ډرامې زمیندار، ژرنده ګری، کوچانی‌پیغله، جهاد اونور دی اوپخیله وایی چې زماډرامې، فیچرونه‌اودسند ریزې کیسې سوونوته رسیږی. (۲)

---

(۱) همیش خلیل، پښتانه لیکوال، لومړی‌توک، پیښور، پبلک‌ارت‌پریس‌پیښور، کال ۱۹۵۸ع، ۲۰۲مخ.

(۲) دحمزه یاد، دافضل تکور یاده شوی‌مقاله، ۲۰۴ - ۲۰۷ مخونه.

همدارنګه په خیبر کی حمزه پسې ورپسې چې کوم لیکوال او شاعر ډرامې لیکلې هغه لعل زاده ناظر دی چې دهغه په ډراموکې مشهورې ډرامې: مزدور، چا چا، قرباني او سپین زیری بابا نومیږی (۱)

دغه ډرامې چې موږ یې ذکر وکړ دراډیو لپاره لیکل کیدلې او نشر یدلې دخیبر په سیمه کی زما دمعلوماتو له مخې استاد حمزه، لعل زاده ناظره مراد شینواری او امیر محمد ساغر هغه لیکونکی دی چې په کیسه، ډرامه او ناول لیکنه کې تری آثار پاتې دی ،

خو په کیسه کې تر ټولو ځلیدونکی او مشهور ه خبره که څه هم چې په خیبر کی نه اوسیږی خو د دغه اولس او سیمې سره تعلق لری هغه طاهر اثر اپریدی دی چې په کیسه کی دوی مجموعو دمعلونو خواکی پاتې پاتې اولاره کی مابنام لیکونکی دی چې په مجموع کی د پښتو دیر ښه کیسه لیکونکی او په دغه صنف کی دستاینی ور مقام لري او شهرت یې عام دی .

سفرنامه هم دخیبر په سیمه کې دلو مړی ځل لپاره استاد حمزه ولیکله چې دده مشهوری سفرنامې دکابل منظومه سفرنامه، نوی پښتون او دحجاز په لورنومیږي دخیبر دسیمې په نورولیکوالو کې چې کومه سفرنامه له زمانظره تیره شوي ده، هغه دطاهر اثر دسنګا پور سفرنامه ده او دکومې بلې سفرنامې څرک لا ماته نه لګی دفولکلور په برخه

---

(۱) همیش خلیل ، پښتانه لیکوال ، ۳۰۰ مخ

کي هم استاد حمزه ليکنې کړې دي چې مشهورې ليکنې يې: قبايل کې رسم و رواج، او پښتو ورته اوهام، نوميږي (۱)

همدارنګه ويلی شو چې استاد حمزه په خيبر نه اوږبا ره کې هم د خيبر د سيمې لومړنی ليکوال حسابيږي په تاريخ ليکنه د سيدا خان شينوارې نوم د يادولو وړ دی چې لاندينی آثار يې ليکلي دي، لکه خلافت، جزيرة العرب، سرحد برطانيه و افغانستان، خيبر او نور (۲)

د تذکره ليکنې عنعنه په خيبر کې هم په ښه توګه پالل شوې ده او تر اوسه دری تذکرې ليکل شوي دي لومړی تذکره، د خيبر ادب نوميږي چې مولف يې مراد شينواري دی، او په ۱۹۵۸ ع کال چاپ او خپره شوې ده. دويمه تذکره د خيبر انګازې نوميږي، چې د خيبر اپريدي لمخوا په ۱۹۸۲ ع کال چاپ او خپره شوې ده. دريمه تذکره د خيبر ليکوال نوميږي چې د کليم شينوارې په همت په کال ۱۹۸۷ ع کې چاپ او خپره شوې ده، په دغه درې واړو تذکرو کې د خيبر د سيمې د ليکوالو پيوند ګلوي او د کلام نمونې راغلي دي. همدارنګه په خيبر کې دا د بې تولنو اساس په کال ۱۹۵۳ ع کې کيښودل شو په دې زمانه کې په دغه ځای کې داوسنۍ ادبي جرګې په نامه جوړه شوه چې مشر سکوتري مراد شينوارې و تا کل شو چې د دغې نيتې نه وروسته زياتې تولنې جوړې شوې چې اوس يې شمير زيات دی او ادب په

---

(۱) د حمزه ياد، د نصرالله ناصر مقاله، ۲۶۷ - ۲۶۹ مخونه

(۲) مراد شينوارې، د خيبر ادب، ۸۹ مخ

غورېدنه کي پوله بل سر ه په سيالۍ بـوختې دي . داو ، دخيبر دسيمې دادبي جريان پولنډ کي‌جاج چې پورته‌وړاندې‌شو ، په‌نتيجه کي ويلي شوچي دخيبردسيمې په ادبي جريان کې دپښتوشعراو پـه خاصه تـوگه غـزل خپـل معراج ته رسيدلی دی . دادب په‌نوروبرخوکي هم‌ادبي هستونې شوي دي اودهرادبي ژانرېيلگی‌موجودی دي خو پـه‌مجموع کي دشعر په‌پرتله‌نثرودونـده‌کـړی اودشعر په‌نيمايی‌هم‌ورته‌کارنه دی‌شوی ، چې دغـه‌يوه تشه‌بايد دخيبردسيمې ليکوال مـحسوس کړي اوديوعمده ضرورت په حيث په دغه برخه‌کي هم‌کاروشي . دخيبر ادبي جر يان دلاغوړېدو ، پراختيااوپرمختياپه هيله .

پـای

معاون سر محقق زلمی هیو اد مل

# فرهنگیالی شاعر اولیکوال
# قاسم علیخان اپریدی

دهنددمغولی باچا اورنگزیب عالمگیر (۱۱۱۸ ه ق مړ)د مسرگ پر کال دروه دښیرا زی تیرا له سیمو دنیکنام خان اپریدی کورنی هند ته مهاجرت وکړ، له اټکه واوښته اودهند زمکونه ورشیوه شوه. قاسم علی خان اپریدی، په خپله یوه قطعه کی د موضوع دامی ویلی ده :

نام جـدم هست خان نـیکنام
از ولایت آنکه درملک هنود
روز دوشنبه دهم ذوالحجه بدان
کوچ اولا براټک کرده فرود
یعنی آمد در هزارویکصدو
هیجدهم سالیست بالایش فرود (۱)

دغه پښتنه کورنی په هـندوستان کی هیشت شوه، دنـیکنام خان یوزوی رستمخان نومانداو دده یوزوی برهانخان و، چی د۱۱۸۳ هق

کال درجب دمیاشتې په ۲۰ مـه د دوشنبې ورځ یې په کورکې یـو ماشوم دنیا ته سترګې پرانیستې، چې یې نوم پرې (محمدقاسم علی خان) کښېښود .

دیا دونې وړده، چې په ټولو تذکرواوبې تاریخونوکې دده نوم قاسم علی خان راغلې دی، او ده د خپلو اشعارو په مقطعانوکې هم دا نوم (قاسم علی) (قاسم) راوړی دی، مګرده په خپله رساله افریدی کې لیکلې دی: «بعد ازحمدوصلـوة محمد قاسم علی خان افریـدی قادری اعنی راقم الحروف ...» (۲)

دغه قاسم علی خان دخپلې کورنې په غیږکې لـوییده دځوانۍ په مهال کې یې فوجي خدماتو ته هم توجه ودرلودله، اودرې کالـه یې دجنوبي هندوستان په سیمو کې دسپه ګری کاروبار کاوه، د مهاراجـه دولت راو، مهاراجه جسونت راوهولکـراو نواب امیرخان سالارزی (۱۸۱۷ – ۱۸۳٤) په فوجونوکې یې لښکری خدمات سرته رسولي دي.

څلور میاشتې دشمس آباد دپرګنې تحصیلدارهم پاتې شوی دی.

د دیوان اوآثاروله مطالعې یې ښکاری، چې بیادې په فرخ آبـاد کې ساکن شوی دی، زموږ په تذکروکې هم دی دفرخ آباد اوسیدونکی بلـل شوی دی (۳).

دیادوني وړده، چې دنیکنام خان اپریدی له ښته دقاسم علیخان اپریدی ی کورنې ددیارلسمې هجري پېړۍ په حدود وکې په هندکې دوپنځو سو تـنوته رسېده، چې څه په فرخ آباد کې اوڅه د لکهنو په

کولهار کی اوسیدل . قاسم‌علی‌خان په خپله رساله افریـدی‌کـی لیکلی دی: « :.. همگی پنجاه ودو کسـان تا الان به فضل الهی موجودیم همه کسان ازمعاش ، رفع المال وتندر ست سا کنان کولهاردرلکهنو وسا کنان فرخ آباد اند». ؛

داسی ښکاری چی ده خپل آخر عمر په‌فرخ‌آباد کی تیر کړی دی، په پښتو دیوان کی د فرخ آباد په ستاینه کی یـو پارکی لری چی دلی به‌یی‌زه څه‌برخی راوړم:

ښه دی ښهر ښه مکان فرخ آباد
کم مه گڼه ترجنان فرخ‌آباد

چی جنت نظیر کشمیرخلق وایی
تر کشمیر دی زیات اعلان فرخ آباد

عجب ښهر دلفزادی په جهان کی
افتخار په‌هندستان فرخ آباد

وگ.گله هرسبا خلق رادرومی
هندوان به‌که اشنان فرخ آباد

ښه سیرونه دگنگا په غاړه کاندی
هم مردان و هم زنان فرخ آباد

زلمی، جونه لکه گلونه روانیږی
واشنان ته هنودان فرخ آباد

روان باغ چاپه جهان لیدلی نه دی
زه روان گورم بوستان فرخ آباد

دافرخ آباد په شمالي هندوستان کی دگنگاپر غاړه واقع ښاردی چی ددولسمی پیړی پهدوران کی دبنگښود پښتنو دیوی کورنی نوابی پرقایمه وه . ددی کورنی مشر غضنفر جنگ نواب محمد خان بنگښ (۱۱۵٦ هق مړ)و، چی دپښتنو دغه نوابی ددغو بنگښو پښتنو په کورنی ځوتنو ته ورسیده (٥) ، اوبیا ختم کړل شوه .

زموږ شاعر په خپله همدې قصیده کی چی یې دفرخ آباد په وصف کی ویلی یوځای ویلی دي :

اوس هیهات افسوس آلم اوغم ماتم دی
شوه استوګه زموږ ګران فرخ آباد
دانګریز طنبور، طرم دلته غږیږي
نصارا شوه حاکمان فرخ آباد
حکومت دپښتنولـه سره لاړه
عدالت کاانګریزان فرخ آباد

دقاسم علی خان لوړپاړ کی اودده درساله افریدی ځینی یادونی په دې خبره شاهدی ورکوی،چی دی به ترمرګه همدلی اوسیدلی اوپه همدی ځای کی به مړوي .

## زه ولی دقاسم علی خان په باب دالیکنه کوم ؟

داپوښتنه می ځکه مطرح کړه،چی داسړی له ۱۸۵۵ع نه رانیولی تراوسه پوري په لسګونو کتابونو، تذکرواوفهرستونو کی معرفی شوی دی،مستقل مقالات هم پر کښل شوي دي. نوکه یو پردغو مقالوخبرسړی دا

حاضره مقاله هم وګوري، نو ضرورو رته داسوال پیداکیږي چې له دغو مره یادونو اولیکنو سره سره بیاهم دې حاضرې مقالې ته څه ضرورت و؟

زه به ددغسې پوښتنو په ځواب کې عرض کړم، چې په رښتیا دقاسم علی خان په باب دیرې مقالې اویادونې نشرشوې دي، خوداګردې مقالې اویادونې نه شي کولای، دده دژوند داواندیږ وبشپړ انځورموږ ته په لاس راکړي، اودده ګرده آثارپرموږ وپیژنی. اوله دې سربیره په دغو خیرنو کې دده په باب ځینې ناسمې خبرې اومعلومات هم راغلې دي نوځکه زه زیارباسم، چې دده په باب تیرولیکنوته په پاملرنه دده دخطي آثارو په مرسته دده په باب ځیني نکات وړاندې کړم:

(۱) دقاسم علی خان آثار:

هغه قدیمه تذکره چې دقاسم علی خان آثاراواحوال موږته وړاندې کوي هغه د پښتانه شعرا لومړی ټوک دی. په دې تذکره کې دشاعر یوازې دپښتو یودیوان یاد شوی دی (٦) وروسته په تذکرة الشعراکې یې ګردسره دده دآثارو یادونه نه ده کړې (٧) دپښتانه شعراءدتالیف په وخت کې زموږ مشرانوته نه وه معلومه، چې دپېښور په اسلامیه کالج کې دقاسم علی دکلیات یوه نسخه شته، چې مولوی عبدالرحیم یې په لباب المعارف العلمیه کې معرفي کړې ده(٨) اوله پښتو دیوانه سربیره دده نورآثاریې هم پکې معرفي کړي دي.

استاد رښتین چې دپښتوادب تاریخ لیکه، نویې دمولوی عبدالرحیم

لـه فهرسته هـم استفاده کـړې وه، اوقاسم علی یې له دیوانه سر بیره ددیرومولفاتوخبیتن وبنود(۹).

وروسته بیا په ډیروآثاروکي چې دده په باب څه لیکل شوي دی په زیاتروکـی د قاسم علی گـرده آثار بنوول شوي دي د قاسم علی خان دغه لاندې آثارموږته معلوم دي :

(۱) پښتودیـوان: قاسم علی خان اپریدي د پښتو اشعارویودیـوان لري، چې ده دادیوان په ۱۲۰۶ هق کال بشپړ کړی دی، ده ویلی دي:

خاتـمه شـودادیـوان پـه ذیقعده کې

نن پـه ورځ اول شنبه غروب هم نهردی

پـه تاریـخ دخلـورم رسید پـه ختمه

شکـراحسان دحـق تـعالـی بسیاراکثـردی

نه پوهیږې‌ته حساب په روغ کړه‌یاره

پـرهـزاردوصـدوشش تـم الـد فتـر دی

که څه هم قاسم علی خان خپل پښتودیـوان پـه ۱۲۰۶ ه ق کال بشپړ کړی دی، خوتردې وروسته یې هم زیاتونې پکی کړي دي.

پـه دې دیوان کی قصاید، غزلې، رباعیات، مخمسونه، چاربیتي او په پای کي یوه منظومه خاتمه راغلی ده.

دقاسم علی خان پښتودیوان تراوسه نه دی چاپ شوی. خوخطي نسخې‌یې دده د کلیات په نسخوکی‌هم‌خوندي‌دي، اومستقلی‌هم په کابل راءپور اولندن کي موندلې کیږي (۱۰).

دپښتوغزل مؤلف لیکلی دي: «داردواوپښتو دیوانونه یې چاپ دی» (۱۱) دلته باید داخبره توضیح شي چې دقاسم علي خان اپریدي اردودیوان چاپ دی . پښتو یې نه دی چاپ شوي .

دپښتوادبیاتو تاریخ اوسنۍ دوره نومی کتاب کی په دې باب لیکل شوي دي : «دنظم په برخه کي دقاسم علی اپریدی دیوان یادولای شو . ده خپل دیوان په ۱۸۱٤ کال کي ترتیب کړ، چې دغه دیوان په پښتواواردوژبو په ۱۹۷۱ ع کال په پیښور کی دخیال بخاری په سریزه اوزیارچاپ شوي دی . . .» (۱۲) .

په دې لوړوخبروکی ځینې ناسمی شته چې په لاندې ډول باید سمی شي:

الف ، قاسم علی خپل دیوان به۱۲۰٦ه ق کال بشپړکړی دی چی دځوبولیکی د تقویم له مخې (۱۳) دا کال په عیسوی حساب له ۱۷۹۱ ع کال سره سمون خوري نه له ۱۸۱٤ ع سره .

ب، په ۱۹۷۱ ع کال چی د پیښور پښتوا کیډیمی دقاسم علی خان اپریدی کوم دیوان دخیال بخاری په زیارچاپ کړی دی، هغه دقاسم علی خان پښتودیوان نه دی ، او نه له اردوسره ګډ پښتودیوان دی، بلکه دا دقاسم علی خان یوازې اردو دیوان دی، چی د خیال به زیار پښتو اکیډیمی چاپ کړي دی .

(۲) پښتوخوابنامه : دقاسم علی خان اپریدی بل پښتواړدده منظومه خوابنامه ده چی په پښتو مثنوی کی یې بشپړه کړې ده .

ددې خوابنامې خطي نسخې ډېرې دي : دده د کلیات او هم د پښتو دیوان کومې نسخې چې لیدل شوي دي، په هغو ټولو کې دقاسم علي پښتو خوابنامه شته . دقاسم علي د دیوان کومه خطي نسخه چې په کابل کې شته، ددې نسخې په پای کې هم خوابنامه راغلې ده(١٤)دده پښتو خوابنامه نه ده چاپ شوې ، ددې رسالې دمخونو شمیر ١٢ ته رسیږي (داسلامیه کالج نسخه) .

(٣) افریدي نامه : داکتاب چې ځینو ځایونو کې دفرهنګ افریدي په نامه هم یاد شوی دی، دادقاسم علي خان اپریدي بل اثر دی . تراوسه نه دی چاپ شوی، ځانګړې نسخه یې ماته نه ده معلومه، خو دقاسم علي خان د کلیات په دري سروخطي نسخو کې دا کتاب راغلی دی .

داسلامیه کالج په خطي نسخه کې دافرهنګ ٨٣ پاڼې دی او دبلې په نسخه کې ١٩ پاڼې .

داثر په اصل کې یو پنځه ژبیز فرهنګ دی چې مؤلف دخپل ذوق په اساس ، لغات، کلمات ، تراکیب او الفاظ سره یوځای کړي دي اول یې پارسي ترکیب، یا لفظ یا لغت راوړی دی بیا یې په څنګ کې ورسره دهماغه ترکیب پښتو ، کشمیري ، انګریزي او هندي مترادف کلمات راوړي دي . یو نیم ځای دهندي پرځای دعربي ژبې کلمات هم ور اچولي دي، که چیرې عربي هم ورسره شامله کړو ، نو په فرهنګ کې دشپږ ژبو الفاظ میندل کیږي .

(٤) رساله افریدی: دااثردقاسم علی اپریدی ترټولومهم اثردی چې ده لومړی په دوه‌و یشتوبابونوکې بشپړ کړی و، بیایې درویشتم باب وروسته هم ورپسې زیات کړی دی، ګوده اثر درویشت بابه لري. اومؤلف په پارسي نثرلیکلی دی. قاسم علي‌خان درسالهٔ افریدي دوه ویشت بابه په ۱۲۲۵ هـ ق کال بشپړ کړی دي، تریوویشتم بابه پوری یې کتاب په ۱۲۲۲ هـ ق کال اودوه ویشتم باب یې په ۱۲۲۵ هـ ق کال لیکلی دی، چې وروستی درویشتم باب یې وروسته پرې پسې زیات کړی دی.

وروستی تاریخ چې لـه دې درویشتم با به لاس تـه راځي، هغه د ۱۳۳۹ هـ ق کال دی.

دا اثریو تاریخي کتاب دی چې دقاسم علي خان اپریدی‌اوودده دکورنۍ له احوالوسربیره پـه هندکې دځینوپښتنو نوابانو احوال او دهند پوزمکودانګریزانوداقواجودلوټ اوتالان بیانونه هـم راوړی.

قاسم علي خان په دې اثرکې د خپل سپاهیګرئ داستانونه بیانوی اودهغو جنګونوقصې راوړی، چې ده هم پکې ګډون درلود.

ددغه اثرلوست په هندکې دپښتنوتاریخ مطالعینوته ځینې نوې نکات وراندې کولای شي، کتاب تراوسه نه‌دی چاپ شوی، اودقاسم علي د کلیات اومړی اثردی.

(٥) شفاعت نامه افریدی: دارساله قاسم‌علي‌خان د قادریه تصوفي طریقې د مشرانواوبزرګانو په‌توصیف کې په پارسي نظم ویلې‌ده. دنظم

کال یې ۱۲۱۰ هـ ق کال دی. د اسلامیه کالج په نسخه کې دا رساله (٤٠) پارسي نظمونه لري، خو قاسم خان افریدي د کلیات په مقدمه کې دې رسالې د نظمونو او قصیدو شمیر ٤١ ښوولی دی. د پېښنې په نسخه کې یې د بیتونو شمیر ۱۲ دی، او پیل یې په دې بیت شوی دی:

نیست در هیچ جـا مکان الله
همه جـا اوست باز آن الله

شفاعت نامه افریدي، د قاسم علي خان افریدي د کلیات دوهم اثر دی چې تر اوسه نه دی چاپ.

(٦) اردو دیوان: قاسم علي خان په اردو ژبه یو دیوان لري، چې د ده ځینې پارسي منظومات هم ورسره مله دي. د دې دیوان کومه خطي نسخه چې ما په اسلامیه کالج کې لیدلې ده، په هغه نسخه کې ۳۰۸ اردو غزلې ٥٤ اردو قطعات او رباعی، یو اردو مخمس، یوه اردو څلوربیته، ۳۲ پارسي غزلې او ١٤ پارسي رباعیات او قطعات راغلي دي.

دا دیوان قاسم علي خان افریدي په ۱۲۱٦ هـ ق کال بشپړ کړی دی. دا ـ دیوان له پارسي منظوماتو سره یو ځای د خیال بخاري په زیار په ۱۹۷۱ ع کال پښتو اکیډیمي چاپ کړی دی، چې ټول مخونه یې ۳۰٦ دي، او د بناغلي ـ خیال ۳۳ مخیزه مقدمه هم ورسره مله ده. اردو کلام یې په ۲٦۳ مخ کې پای ته رسیدلی دی. او په پاتې مخونو کې یې د قاسم علي خان پارسي کلام خوندي شوی دی. ښاغلي خیال دا دیوان دیوې خطي نسخې له مخې (اسلامیه نسخه) تهیه کړی دی (١٤) حال دا چې د اسلامیه کالج له نسخې پرته

ددې اردو دیوان دوې نورې خطي نسخې موجودې. د کلیات د پښتني او لاهور په نسخو کې دا دیوان راغلی دی، له دې سربیره دقاسم علي داردو او پارسي کلام ځانګړې نسخه دعلیګړه مسلم یو نیورسټي په مولانا ابوالکلام آزادلایبرېرۍ په خطي کتابونو کې هم شته.

(۷) دتصوف رساله: دقاسم علي خان اثریدی د کلیات له مطالعې ښکارې، چې دده درساله اثر یدی تر دو؛ ویشتم (چې یې لومړی ځل په ۱۲۲۵ ه ق کال کې بشپړ کړې دی) وروسته یوه بله رساله هم شته، چې دپېښور داسلامیه کالج په نسخه کې یې نوم دامې راغلی دی: «عقایدوایقان معاد اهل تصوف» دارساله چې په پارسي نثر کښلې شوې ده، دپارسي عباراتو په منځ کې یې داستشهاد لپاره عربي مقولې اوعبارات او احادیث هم راوړې، او پارسي، عربي ابیات هم قاسم علي خان دخپل قول دپیاوړتیا په منظور پکې اخیستي دي.

دارساله ښاغلي خیال بخارۍ هم لیدلې ده، اودرساله تصوف په په نامه یې یاده کړې ده (۱۵). دده دارساله هم نه ده چاپ شوې په فهرست نسخ خط پښتوی آرشیف ملي کې یې دقاسم علي خان په آثاروکې: «تاریخ زبان پارسی» (۱٦) هم یادکړې دی، چې سم نه دی. دقاسم علي ددغوآثارومطالعه موږته راښیي چې:

قاسم علي خان دپښتوژبې شاعرو، چې پښتو دیوان او یوه بله ځانګړې پښتورساله لرې، چې دخوبونوتعبیریې پکې کښلي دي، دا رساله هم منظومه ده.

له خپلې مورنۍ ژبې پښتو سربېره په پارسۍ کې هم نظم او نثر لیکوال او شاعر و. په اردو کې یې هم شاعري کوله.

انګریزي، کشمیري او عربي ژبې یې هم زده وې.

(۲) دقاسم علي خان اپریدي احوال: که څه هم ددې لیکنې په پیل کې مادده پراحوالو لږ خبرې وکړې، خواوس تیرو لیکنو ته په پاملرنه دده دشرح حال په باب لاندې خبرې کوم:

الف، رضاهمداني په ادبیات سرحد لومړي ټوک (۱۷) کې او بخاري دقاسم علي خان داردو دیوان په مقدمه (۱۸) کې داویلې دي چې دقاسم علي نیکونه په ۱۱۱۹ هـ ق کال هندوستان ته تللي دي؟ حال داچې خپله قاسم علي خان دانیته په خپل یو بیت کې ۱۱۱۸ هـ ق کال ښوولې ده.

ب، داخبره د شك نه وتلې ده، چې قاسم علي په هندوستان کې زوکړی دی، ده ویلي دي:

«زه پیدا په هندوستان پښتو مې څه زده»

ده ګرده عمر په همدې ملك کې تیر کړی دی، او هورې مړ دی: داچې په فهرست نسخ خطي پښتوی آرشیف ملي کې راغلي دي: «زنده ګي زیادش درهندسپری شده» سمه خبره نه ده، ګرده ژوندېې په هند کې تیر دی.

دزوکړې تاریخ یې دخپل صراحت له مخې ۱۱۸۳ هـ ق دی.

خوداچې په تذکرة الشعراء کې یې دده دژوند زمانه د ۱۱۵۰-۱۲۰۰ هـ ق

کلونوتر منځ شوولی ده، (۱۹) دا خبره هم سمه نه ده.

ج، هانری جارج راورتی (۱۸۲۵-۱۹۰۶ع) دخپل پښتو ګرامر په مقدمه کی کښلی دی چی: «قاسم علی خان په فرخ آباد کی زوکړی دی» (۲۰) داخبری نوروهم اخیستی دی، په پښتانه شعراء کی راغلی دی: «دقاسم علی پلاربرهان خان په فرخ آباد اوسیدئ ...» (۲۱) داخبره تریوه حده سمه ده، مګر دقاسم علی پلارګرده عمرپه فرخ آبادکی نه دی. اوسیدلی قاسم علی خان په رساله افریدی کی لیکلی دی دده پلاریووخت په فرخ آبادکی اوسیدلی دی، مګر بیاد لکهنو کولهارته تللی اوهوري وفات شوی دی، درساله افریدی دشپږم باب په عنوان کی راغلی دی: سرګذشت پدربزرګوار که درشهر فرخ آباد چند مدت زنده ګی نموده، درکولهارسکونت فرمودند ونیز وفات اینجایافتند ... »

له دې سربیره دادبیات سرحد په لومړی ټوك کی راغلی دی: دقاسم علی کورنی چی هندوستان ته ورسیدله، نو داکبرآباددمضا فاتو په دهولپورنومی ځای کی میشت شوه، بیامرشد آبادته ولاړل...اودده دپلاربرهان خان دعمرزیاته برخه په شاه جهان آبادکی تیره شوی ده».

دې بحث ته په پاملرنه باید ووایوچی قاسم علی خان په کولهار شمس آباد اودشمالی هندوستان په څینونوروښارونی کی هم ژوند کړی دی، خودعمرزیاته برخه اودسپاهیتوب نه وروسته ژوندیی ګرده په فرخ آبادکی تیرشوی دی.

د، دقاسم علی دمرگ تاریخ د پښتو په یوه تذکره کی هم نه دی راغلی، یوازی په فهرست مخطوطات شیرانی (۲۳) کی مادده دمړینی تاریخ لیدلی دی، خو دده دکلیات هغه خطی نسخه چی دخدابخش پبلک لایبریری په خطی ذخیره کی موجوده ده، ددی نسخی یو ځای چاپ کړی دی: «بتاریخ پانزدهم جمادی الاول سنه ۱۲٤۱ هجری یوم دوشنبه به وقت نماز صبح قاسم علی خان افریدی مصنف کتاب هذا از جهان فانی به عالم جاویدانی رحلت نمودند» (۲٤) کله چی ما څو کاله دمخه دا نسخه ولیدله نو می داسه تری یاداشت کړه او دهند کتابخانو پښتو خطی نسخی نومی اثر په تعلیقاتو کی می نشر کړه، او په دی توگه زموږ په ادبی څیړنو کی دقاسم علی خان دمرگ واقعی سنه ضبط شوه او داچی ښاغلی خیال بخاری دده ۱۲۲۵-۱۲۳۱ هق کلونو ترمنځ کلونو کی دده دمرگ سنه حتمی بللی ده (۲۵) دا خبره سمه نه ده.

(۳) دقاسم علی فکر او شعر: دقاسم علی خان اپریدی کوم منظوم پښتو کلام چی تر موږه رارسیدلی دی، په هغه کی قصیده، غزل، مثنوی رباعی، مخمس او نور پیدا کیږی. په دی دیوان کی دیوه ځای کی موجودیت موږ په دی باوری کوی، چی قاسم علی: به د پښتو شاعرانو له نامه او کلام سره آشنا و. دده هغه ځای کی دادی:

تیر شو وقت د رحمان او س دی زما

که دولت و، که خوشحال و، که میرزا

مهر علی، عبدالقادر که سکند روو

که اشرف، که ارزانی، مخلص جدا

که نواب محبت خان که کریم خان دی
اوکه بلی و، کاظم خان معرف شیدا

الله داد، کریمداد که درویزه وو
جان محمد، آدین، فاضل ووپه دنیا

که احمد دی، اولتاږ که مهرشاه دی
همګی زمادستر ګودی ضیا

په لوړوشاعرانو کی یوازې د مهرعلی اومهرشاه اشعارترموږه نه دی رسیدلی، نورګرده داسی شعراء دی، چی آثاراونومونه یی ښکاره اوزموږ په ادبی څیړنوکی بحثونه اوخبری بساندی شوی دی ځینویی په هندکی ژوندکړی دی او ځینونوروپی په پښتونخواکی.

قاسم علیخان په خپلی پښتوشاعری کی په لسان الغیب، سلطان الشعراء حضرت عبدالرحمن بابامومند(۱۰۴۲-۱۱۲۸هق) پسی اقتدا کړی ده.دده په دیوان کی دیرداسی پارکی شته، چی درحمان بابا دشاعرانه غزلواوپارکوپه پیروی ویل شوی دی، اودی په هغه د ول وینا کوی، چی ترده دمخه رحمان باباکړی وه.

ماپه خپل اثر (په هندکی د پښتو ادبیاتوایجاداوودی پراوونه) کی په هندوستان کی درحمان بابادسبک د پیروانو په دله کی پر قاسم علیخان اوزد بحث کړی دی (۲۵)، نوځکه زه هغه خبری بیادلی نه تکراروم، او د قاسم علی د څو هغو پارکو د سر بیتونه را اخلم، چی درحمان بابا د غزلوپه زمکه یې ویلی دي:

ښه مذهب دي ښه اسلام د درویشانو
لا بیان می کوت اکرام د درویشانو

* *

اي سلطان د محبوبانـه راشه راشه
مهربـان د مجرمانـه راشه ، راشه

* *

هغه کس چی د لـګیروی څه بـه خوب که
چی غمجن ، لکه اسیروی څه بـه خوب که

د مضمون له نظره که موږ د ده د دیوان جاج واخلو، نو ده پـه دیوان کی اخلاقی، عشقی، اجتماعی اوعرفانی مضامین پیداکیږي .

د ده اخلاقی، دینی اوعشقی خبري ګردي زړي، اوزیاتره بي هغه خبري کړي دي چې تر ده د مخه رحمان بابا په خورافصیحواوبلیغو الفاظوکی اداکړي وې .

اما څـه چي د ده پـه دیـوان کی د مـوضوعی ځانـګړنولـه مخی ارزښتمن دي ، دادي، چې دي یـومفکرشاعرهم دی. د ده د دیـوان د فکری ارزښتونو په څوولوکی موږ د ده په دیوان دوه دوله فکری جریانه لیدلای شو:

لومړی د ده ددیوان عرفانی افکاردي ، او دوهم د ده اجتماعی افکار. قاسم علی یوعارف شاعر دي، دی په تصوفی طریقوکی د قادریه طریقی پیرودی، اوپه دې طریقه کی یی مرشد هم حافظ غلام محمد

(۱۲۰۹ هق هر) دی. دده دخطي دیوان د ٤٧ می پاڼی په ب مخ کی راغلی دي: «بیان در ذکر شجرهٔ قادریه که مصنف در آن سلسله بیعت دارد» قاسم علی ترهمدي عنوان لاندي یوه اوږده پښتو قصیده ویلی ده، او د دي قادریه تصوفي طریقې مشران یي یادکړی دي، او دا سلسله یي په دي ډول ترخپله پیره پورې رسولی ده:

په حرمت به د حافظ غلام محمد

منتهي په زما نه دی حق رسا

قاسم علی گنهکار ستا بنده دی

مشرف په خپل دیدار کړه یا مولا

قاسم علی د دیوان د ځینو پارکوله مطالعی ښکاوی چی دی د تصوف له رموزو آگاه و، او دخدای پیژندنی په دې باریکه لاریی هم یون کړی دی.

دلته به زه د قاسم علی څو داسی بیتونه راوړم، چی د عرفانی افکارو بیانوونکی دی:

سود دعمر حقیقت او معرفت دی

طریقت او شریعت معد ود دعمر

څو عرفان ته حاصل نه کاندې په قطع

څه په کار نه دی حضوری شهود د عمر

عبادت بی معرفت واړه برباد دی

وی عارف لره ظاهر حدود د عمر

* *

قاسم علی ننداره دوجهه‌الله کړه
د محیط موجونه گوره په ځان دیر

* *

نحن اقرب الیه وایی پخپله
تر شهرگه لا نزدي دی دا هغه شوخ

* *

حقیقت د این وان به درخر گندشی
خفی ذکر که به تل کړي یی حساب

د قاسم علی په اجتماعی افکاروکی چی کوم توك برجسته‌گی لري هغه‌دده ضداستعماری روحیه‌ده،چی ځای ځای یي په خپل دیوان کی ځان څرگند کړی دی. د فرخ آباد په توصیف کی بي چي کومه پښتو قصیده ویلی ده، د دي قصیدی په ترڅ کی یي په‌دی‌سیمه کی دخپلی استوگی د مشکلاتوعلل په دی ډول بیان کړی دی .

اوس هیهات افسوس آلم وغم ماتم دی
شوه استوگه دموز گران فرخ آباد
دانگریز طنبور ، طرم دلته غزیزي
نصارا شوه حاکمان فرخ آباد

په غالب گمان داقصیده قاسم علی خان هغه وخت ویلی ده: چی په فرخ آبادکی د بنگښو پښتنو نوابانو حکومت ختم‌شوی‌و، او انگریزان

په دي سيمه قابض وو .

د دي قصيدي په پای کی قاسم علی و يلی دی :

مگر داچی دستم کښتی شوه دوبه
چی عادل شوفر نګيان فرخ آباد
ننگيالا ن د ننگيالي خبري څه کمه
وارخطا کړه نوابان فرخ آباد
بی جنگ ويزه يی خپل ملک په حوا له کړ
وايم څه په سرداران فرخ آباد
نامردی ترده سوا په بله څه وي
محکومان شو ساکنان فرخ آباد
داجنت ثانی باعث دغيرحکمه
شو اعراف په شان عيان فرخ آباد
قاسم علی هميشه له فرنګيانو
له حق تل غواړه امان فرخ آباد

قاسم علی که په دې قصيده کښی له يوې خوا په فرخ آباد کښی د پښتنو د حکومت په له منځه تللو ژړلی دي، نوله بلې خوا يي پر نوابانو او سردارانو هم انتقاد کړی دی ،چی له خپله ملکه يې دفاع نه ده کړې، بلکه هسی بې پروه ته پرېښی دی .

په يو بل ځای کی يی هم پر هندوستان د پرنګيانو حکومت غندلی دی، ده ويلی دي :

اوس پـه هند چې خدای پیدا کړ فرنګی

د افـرقـه د نـصارا وو ده جنګـی

نصارا په هندوستان حکومت کاند ي

چېرته لاړهغه ځوانان شمشیر ننګی

احمد شـاه د رانـی نشته دی یارا نو

چې پرسر کاندی افسر حبشی زنګـی

شاه‌عالم دقناعت په حجره کښېناست

که پیدا شی نور اولاد تیمورلنـګی

دقاسم‌علی په دیوان کی ددغسی‌ځوبیتونو موجودیت زموږ په فرهنګـی حلقو کی‌داسی‌نظریه‌پیدا کړي ده، چې‌دایادونی باید دپښتوادبیاتـو پـه تاریخ کی دعطف ټکی وګڼل‌شی ، اولـه دې وختـه پـه پـښتـو کـی دمعاصریت نخښی وپلټل‌شی اودپښتو دمعـاصرواد بیاتـودوره دې لـه همدې وخت پیل‌شی؟

زه به په دې برخه کی خپل معروضات په دې ډول وړاندې کړم :

۱ـ آیاپه هندوستان کی دیوه اوسیدلی پښتانه شاعرپه دیوان کـی ددغسی ځوضمنی یادونوله مخی‌موږ کولای‌شو، چی دپښتـو ادبیـاتـو معاصره دوره له دغه مهاله پیل کړو ؟

دلته‌باید موږ وګوروچی آیا دغسی افکار ددیارلسمی پېـړی لـه اوایلودنورو شاعرانو په دیوانونو کی هم پا لل شوی دی اوکـه یـه ؟

موږته ښکاري، چی پښتونخوااوافغانستان ته دانګریزانو په راتګ

سره ضد انګریزي افکار په پښتو ادب کې ځان ښکاروي، چې دا ډول ادبیات بیا په پښتوکې په عام ډول ددیارلسمې پیړۍ په دوهمه نیمایي کې ایجاد شوي دي، اوقاسم علي داخبره تر ۱۲۰۶ هـ ق کال دمخه کړي دي اوداځکه چې ده خپل دیوان په دغه کال بشپړ کړی دی. بنایي قاسم-علي دغه پاړکی د ۱۲۰۰ هـ ق په حدودوکی ویلی وي. نوله ۱۲۰۰نه تر ۱۲۵۳ یا ۱۲۵٤ هـ ق کلونوپورې داخلا به څنګه کوو ؟

که موږ داومنو چې دقاسم علي له دې بیتونو دې دپښتودمعاصرادب دوره پیل شي، نودلته څوفکري تسلسل کابو نیمه پیړۍ شلیدلی دی . اوداڅنګه کیدای شي چې یوه ادبي دوره دې پنځوس کاله یادمخه دیوه فکري حرکت له مخې پیل شي، اوبیادې پنځوس کاله تردې زیاتـه موده داډول افکارپه ادبیاتوکی نه وي بیان شوي اوددې پنځوسو کالو ادبیات دې هماغه خصایص ولري، چې ددمخنۍ دورې ادبیات یې لري.

۲ ـ د ادبیاتو تاریخ تذکره نه ده چې موږ دې په هر مملکت او هره فرهنګي ساحه کې راپیداشوي شاعران اولیکوال ګرد ده سره غاړه کړو. په کرونولوژیک او یا الفبایي سیستم دې په یو اثر کې سره مطالعه کړو.

ادبي تاریخ دزمان اومکان دشرایطوتراغیزلاندې لیکل کیږي، او موږ نه شو کولای چې دیوې ژبې شاعران چې په هرځای کې وي، اودخپل محیط اوزمان تراغیزلاندې دې یې آثارایجاد کړي وي، اوموږ دې دوی په یوه ادبي تاریخ کې سره مطالعه کړو؟

ددې خبرې ښکاره مثال د قاسم علی بیتونه دي، ده ویلی دي چې هندوستان نصاراوونیولی دی ، اوردده داوسیدنې په ځای (فرخ آباد) کې دانګریز حکم چلیږي، ده پښتونخوا اوافغانستان نه دی ښوولي. نو ځکه کولای شو، چې دهندوستان، پېښوته د پښتـو دادب په عمومي تاریخ کې دعطف دټکی په نظروګورو، او په دې ډول دې موږ دخپلومعاصرو ادبیاتوتاریخ په ډېرمنظم ډول له قاسم علی خان اپریدی نه پیل کړو.

۳/ددې ادبی دورې د بیلتون اړه ډېرعوامل موجودوي، خو عمده یې دادي، چې په ادبیاتـو کې شکل اوموضوعی بدلون رامنځ ته شي. قاسم علی په شعر کې داسې ادبی فورم نشته، چې تر ده دمخه دې زموږ په ادبیاتـو کې نـه وي راغلی، حتی زموږ دزړې شاعرۍ او یادشرقي شاعرۍ ګرده شعري اصناف هم دده په دیوان کې نشته.

له دې څومحدودو بیتونو پرتـه دده پـه کلام کې په فکري لحاظ داسې نوی څه نشته ، چې موږدې امتیازورتـه ورکړو ، هغه څـه چې ده بیان کړی دی ، تر ده دمخه اویاراوروسته په کراتو ترده ښه او په هنری انـدازکې بیان شوی دی . دی درحمان باباپیروشاعردی ، او دباباافکاراواصطلاحات اوترکیبونه یې ډېرخپل کړی دي . دقاسم علی په کلام کې دمعاصریت نخښې ماته نه ښکاري .

* *

سره له دې چې قاسم علی اپریدی په هندوستان کې زوکړی او هـوري لوی اومړشوی دی ، مګرداپریدولهجوی پښتویی زده وه ، اوکله کله یې خپلواشعارکې دغه لهجوی خصایص ساتلي دی لکه :

غویـږ دغوږ پـرځای ( دخطی دیـوان ۲۹ ورق الف مخ ، دملی آرشیف خطی نسخه ) .

ورچنه(۱۵ ورق الف مخ )

که هرڅوورنسکیر بزم وایـي لیرې (٤٧ورق )غـوبنده، د غوښی پرځای اونور...

(٤)دقاسم علی خان پارسي‌شاعري: دقاسم علی خان دارد ودیوان په ملتیادده ځینې پارسی منظومات هم تر موږ ره رسیدلي دي.

قاسم علی هم دپښتودزیاترو زړوشاعرانو په پله پل ایښی دی ، اودخپلې مورنی ژبی ترڅنګه یې دمنطقې په خورامشهوره فرهنګی ژبه (پارسی)هم‌شاعري کړې‌ده،اوپه دې ژبی یې موزته‌اشعارپریښی‌دي .

دده هغه اردود یـوان چې دپیښوو پښتوا کیډیمی داسلامیه کالج د خطی نسخې له مخې چاپ کړی دی ،دهغه پـه پای کی دقاسم علی پارسی کلام راغلی دی، چی دچاپی د یوان ٤٠ مخه یې نیولي دي .

دقاسم علی اېریدی پارسی کلام په دې بیت شروع شوی دی :

میکنم آغاز بسم الله خالق را ثنا
بستگـی دل راکشایش دادنام ربنا

پـه دې پارسی کلام کی ۳٦ غزلی ، ۲٤ رباعی یـو رثاییه قصیده دوله نظم اویوه مثنوی خوندی دي .

دویلوورخبره داده، چې زمادمطالعی له مخې دقـاسم علی خان پارسی کلام همدومره نه دی ، ځکه ماچې دپتنې په کلیات کی د ده

کوم پارسی منظومات لیدلی دي ، هغه ددهٔ دچاپي دیـوان دپارسی کلام په برخه کی اشته ، لکه داپارسی غزله :

افریدی راست است این مصرع ناصرعلی
میرسدآخر به کنه خویش ره پیمای عشق

دقاسم علی دغـی پارسی غزلی سړی په دې باورکوي ، چی ده په دسبک هنددمتقدمو پارسی ژبوشاعرانو دکلام دمزې مطالعه کـړی وي ،اودهغوی په پیروي به یې پارسی اشعارویلـی وي .

که چیرې څوک په ځانـګړی ډول دقاسم علی خان اپریـدی د پارسی کلام مرتبول غواړی ، نوورته پـه کـاردي چـی دخـدابخش لایبریری دکولکشن نسخه، اودمرحوم پروفیسورشیرانی دکولـکشن نسخه اوورسره په علیګړه مسلم یـونیورستی مولا نـاابوالـکلام آزاد لایبریری کی دده داردو دیـوان نسخه وګوري .

زه باورلوم کـه دغه د رې واړه نسخې وکتل شي نود قاسم علی بشپړاوځانګړی پارسي دیوان بـه ترې ترلاسه کړي . له دې سـربیره د ده شفاعت نامه افریدی په پارسی نظم کی لیکل شوی ده .

د ده په پارسی کلام کی اخلاقیات، رثائیه مضامین ،عرفانی افـکار اوعا شقا نـه رند ی لیدل کیـږي ، دایې هم یوه رنـد انه پـا رسـی غـز لـه ده :

سرفرازی تومرا کی به نگا هی گاهی
نه دهی ازیـدخودهـی بـه نگاهی گاهی

نالهٔ لیلی ونهارم زغم هجر توشد
منزلم دل نشده طی به نگاهی گاهی
من چه نالم که یکی عالم دیدم نالان
نوحه‌هر سوست که‌هی هی به‌نگاهی گاهی
افریدی زغم فصلت میرده‌ردم
بشنود تغطمط ازنی به نگاهی گاهی

دقاسم علی په‌پارسی اشعاروکی دپښتو‌هغو په څیر دده عرفانی افکار-وهم څپل اثر پریښی دی . د ده پر پارسی اشعار وکی موږ د عرفان جلوه هم مومو ، او دایی هم یوه عرفانی رباعی :

سرچشمهٔ فیض فال درویشان است
کانرا که به قال وحالش ایقان است
آنکس که نشد مطیع فقرا فریدی
بالله که جای او به نیران است

دقاسم علی خان افریدی پر پارسی شاعری سربری ډیر کارکولای شی ، ځکه نگړی مقالی پری لیکلای شی ، مایوازې د دې مقالی له شرایطو سره‌سم د ده پر پارسی شاعری څه ولیکل. د لته بایدداخبره هم له یاده ونه باسو ، چی قاسم علی خان له پارسی شعر ه سربیره په پارسی نثرهم آثارلیکلی دي ، چی سملاسی یې موږ په معلومو دغه ډول آثاروکی (رساله افریدی) او (رساله تصوف ) یادولای شو.

دده دوارې منثورې پارسی رسالی دکیفیت له مخی ډیرې عالی

ارزيابي کيداى شي . رساله افريدى يې ځينې مهم تاريخي نکات ، لري ، چې په هندوستان کې د پښتو د تاريخ ليکنې په عمومي بهير کې ښه استفاده ځينې کيداشي ، او تصوف رساله يې هم د خپلو فکري ارزښتونو له مخې دهير يدو نه ده.

ده د پارسي نثر يوه نمونه داده : «درصورتيکه ... از صحبت اشنايان و دوستان وقت انفراغ مى يابد، اکثر اوقات اشتغال کتب هاى فارسي و پښتو و هندي ميدارد ، و نيز در عمر شمارسي و نه سال شش قطعه کتاب تصنيف ساخته يکى ديوان افريدى ودوم خوابنامه بزبان افغاني يعني پشتو وسيوم ديوان افريدى بزبان هندي رواج ملک هندوستان وچهارم افريدى نامه که به پنج زبان مرتب (است)، پنجم شجاعت نامه افريدى که ماموربه قصايدات معهٔ غزليات به تعداد چهل ويک دراذکار سلسله قادريه وششم رساله افريدى ...».

ده پارسي نثر به ديار لسمه پيړۍ کې د هند په زمکو کې د ليکل شوو پارسي نثرونو کړه وړه لري او د هغې سيمې د پارسي نثر ليکنې د کړو وړو تابع دى..

(۵) دقاسم علي هندي شاعري : قاسم على خان افريدى په هندوستان کې ديوه اوسيدلي پښتانه شاعر په توګه د نورو هندوستانيو پښتنو شاعرانو غوندې په هندي ژبه هم شاعري کړې ده او يو پښه هندي ديوان يې له ځانه يادګار پرېښى دى، چې د تکميل کال يې ۱۲۱۶ ه ق دى . په دې ديوان کې غزلي، رباعي مخمس او يوه چاربيته هم خوندي شوې ده .

دهندوستان دځینوژبو په ادبیاتو کی که څاربیتی لیدل کیږي ،
داڅاربیتي پښتنو شاعرانو په دې ژبو کی ویلی دي، او یاد پښتنو داولسی
شاعری په دغه مقبول شعری ژانر کی که ځینو غیر، پښتنو هندی شاعرانو
هم شاعري کړې ده، دا کاريې د پښتنو په تقلید کړی دی .

دادبیات سرحد دریم جلد مؤلف، او دده دهندی دیوان مقدمه
لیکونکی دده دهندی شاعری په باب خپلی تبصرې ورانلدی کړې
دي، او دده هندی شاعريې هم دژبنیو او ادبی څیړ نو دوار ولپاره ارز-
ښتمنه بللې ده . دده پر هندی شاعری زیات بحث دلی مورد نه لری.

## ماخذونـه


(۱) افریدی، قاسم علی، دیوان افریدی (هندی) خطی، پتنه، ۳۱-
مه پاڼه، ب مخ .

(۲) افریدی، قاسم علی، رساله افریدی، (پارسی) خطی، پتنه .

(۳) حبیبی، پوهاند عبدالحی، پښتانه شعرا اومړی توک، پښتو-
تولنه، کابل، عمومی مطبعه، ۱۳۲۰ هـ ش، ۳۶۷ ــ ۳۶۸ مخونه.

(٤) افریدی، قاسم علی، دیوان افریدی (پښتو) خطی، دکابل ملی-
آرشیف، ۳٦ مه پاڼه، ب مخ .

(٥) ولی الله، مفتی، عهد بنگش، کراچی، جاوید پریس، ۱۹٦٥ ع
، ٤۹ ـ ۲۰٤ مخونه .

(٦) پښتانه شعرا، ج ۱، ۳۲۹ مخ .

(۷) سعیداوهوتک، تذکرة الشعرا. دخیر ندوی بختانی په زیار، هیواد، کابل، دولتی مطبعه، ۱۳۶٦ هـ ش، ۱۲٦ مخ.

(۸) عبدالرحیم (مولوی) لباب المعارف العلمیه، اگره، ۱۳۳٦ هـ ق، ۳٦۳ ـ ۳٦٤ مخونه

(۹) رښتین، پوهاند صدیق الله، دپښتو دادب تاریخ، پښتو ټولنه، کابل، عمومی مطبعه، ۱۳۳۳ هـ ش ۸٤۰ مخ.

(۱۰) هیواد مل، زلمی، دهند د کتابخانو پښتو خطی نسخی، پښتو ټولنه، کابل، دښوونی اوروزنی مطبعه، ۱۳٦۳ هش، ۲٤٦ـ۲۵۲ مخونه.

(۱۱) رضا، پروفیسور، افضل، دپښتو غزل، پښتو اکیډیمی، پیښور سپین زر، ۱۹۷۸ ع، ۱۹۳ مخ.

(۱۲) زیور، پوهنوال زیورالدین، دپښتو اد بیاتو تاریخ (اوسنی دوره) کابل پوهنتون، ۱۳٦۰ هـ ش، ۲ مخ.

(۱۳) ښوبولسکی، تاریخی تقویم، دشوروی دعلومو اکادمی، مسکو، ۱۹٦٤ ع، ۱٤۲ مخ.

(۱٤) مشتری، عبدالقدیر، فهرست نسخ خطی پشتوی آرشیف ملی، کابل، مطبعه دولتی ۱۳٦۵ هـ ش ٦٦ مخ.

(۱۵) بخاری، خیال، دیوان قاسم علی خان افریدی (مقدمه) پښتو اکیډیمی، پیښور، نظام پرنتنګ پریس، ۱۹۷۱ ع، ۷ مخ.

(۱٦) فهرست نسخ خطی آرشیف ملی، ٦۷ مخ.

(۱۷) همدانی، رضا، تاریخ ادبیات سرحد، اومړی ټوک، انشأ
پریس، لاهور. ۱۹۵۳ ع. ۳۵۹ مخ.

(۱۸) دیوان قاسم علی خان افریدی (مقدمه) ۱ مخ.

(۱۹) تذکرة الشعرأ، ۱۲٦ مخ.

(۲۰) راورټی، هانری جارج، دپښتو ګرامر (مقدمه) کلکته،
۱۸۵۵ ع، ٤٥ - ٤٦ مخونه.

(۲۱) پښتانه شعرأ، ج ۱، ۳٦۷ مخ.

(۲۲) محمد بشیرحسین (دکتر) فهرست مخطوطات شیرانی،
اومړی ټوک، لاهور ۱۹٦۸ ع. ۱٤۸ مخ، دوهم ټوک ۱۹٦۹ ع، ۳۱ مخ.

(۲۳) کلیات افریدی (خطی) خدا بخش پبلک لایبریری،
پټنه بهار.

(۲٤) دیوان قاسم علی خان افریدی (مقدمه) ۱٤ مخ.

(۲۵) هیواد مل، زلمی، په هند کی دپښتوژبی او ادبیاتو دایجاد او
ودی پړاوونه کابل، پښتوټولنه :

# مشاعره

# دتیرادلوړوغرونو باتور

دخیبردکـزلیچو مرد میـدان شي
دتیـراد تـوروتـړوقهـرمـان شـي
دشمشادخوکی یی سر کـیږدی پښو کـی
هغه سر چی په غیرت جګک پر آسمان شي
تـاتـره اوکړ په دواړه پـری نـازیږی
چی په توره یوایمل بل خوشحالخان شي
کچوی ددی شینکی آسمان سری خندی
پر ننګ جګ چی ددی غرونو باتوران شي
چاچی بد دی دغـوپرخـوتـه کتلـي
په دی بـدوکتـوزربیرته پښیمان شي
لـه ازلـه پـیـداداصیمـه خپـلواکـه
ښه خبردي په دی چاره بدخواهان شي
دآسمان سره هـم مینه د خیـبرشته
جوړېږی هره شپه د ستوروچراغان شي

سپوږمۍ هم د غې ښکلا سره پسخېږي
پرې راتیته له آسمانه څوچندان شي
چې دره پرې د خیبر شي معطره
د تیرا بوټی دی ټول مښک وزعفران شي
که خیبر مې خیبریانو ته جنت شي
اپریدی به په کې حوری اوغلمان شي
وایی ګوټ د کوځې پرې نه ږدی مغل ته
کور په کوردغه ناری د دریاخان شي
شاه زلمي به ولي تیر پرې له سرنه وی
چې په غوږی دخوشحال د خولې بیان شي
وازادی تر پاچاهیه لاتیری کا
چې د بل د حکم لاندې شي زندان شي»
« په جهان د ننګیالي دي دادوه کاره
یا به وخوري ککری یا به کامران شي»
خپلواکی د پښتون ژوندی څه پرواده
ملي اوزرېی که په دی لاره قربان شي
پر ښتی یې ښکلوي دوینو څاڅکی
چې په لاردخپلواکی څوک شهیدان شي
سل هوښیار بې صدقه شه له یو تاره
چې په عشق کې لیوني خیري ګریوان شي

تول خـو بونـه ئـى تعبيردآزادى و

چى يوسف غوندى دحسن بنديوان شي

چى ديارپه دركى ومري مـردهـغه دى

چى يى ياد پـه دنـيا نـوم جاويدان شي

پنډپـه شادزوزوښه دى چـى آزادوى

وركـړي ژوند په غلامى كى دانسان شي

اسارت كى ژوند ون څه دى مذلت دى

مرد هغه چى له دى ستونزى په آمان شي

هرنامرد نشي كـولاى د غـه چـارى

دا كارونه په كلك عزم تېنګ ايمان شي

دوطـن ادي له تـانـه قـر بـانـيزى

هغه څوك چى ستاريښتيني فرزندان شي

پښتنى پيغلـى يى ستايـى پـه سندرو

چى په زړه څوك دتورى عجب خان شي

پـه تاريخ كـى حـماسه شي ورنـه پاتـى

چى په څنګ دعجب خان كى شهزادخان شي

غيرتـونـه دپښتو چـى تـو پانـى شي

په لندن كـى ترى په ويره انګريزان شي

چى په غوزيى دپښتون دتورى شرنګ ى

كه لښكروي ترى په ويره ګريزان شي

پرې تاوده شي دملي تاريخ پـابونـه
دنړ توب آوازيې خپور په ټول جهان شي

زدې دستا په پاکه خـاوره خپل سرونـه
ګران وطنه! څوک چې ستا اصلـي بچيان شي

خپلواکۍ ليلا په سره دولي کـې راوړې
چې په دغه هوډ راپورته شازلميان شي

هيڅ مـيدان کې چابرې ترې وړې نه دی
پښتنه توره چـې چرتـه امتحـان شي

پښتانـه لـه خپله زوره خبـرنـه دی
که خبرشول دوی به هم ورته حيران شي

څه رنګينه افسانـه شوه ور نـه پاتـې
آفـرين دی پـه داهسې خانـدان شي

پام چـې وارد‌ی خـطانشي مساپره!
دا ميراده چـرته شين چرتـه باران شي

ددرخـود عشق پيغام ورسره يـوسئ
که ګوذرمو پـه ديـره دآدم خـان شي

پـه دره دآدم خيـلو کـې بـل اوردی
کور په کورناري سوری دي هی سوران شي

چې امېې دغيرت بلې شي پـه زره کـې
بې پرواې که لمبه بې خـان ومان شي

ورته زړي د ښو خوکي په پښو کسي
چي په کور د پښتنو کي څو ک مهمان شي
ورکوي ورته د زړه د تو تسي غوښي
چي د سر د ښمن يي ناست په دسترخوان شي
چي پري جوړد پښتنو بلبلو شوردي
اوي خيبر دي د سرو ګلو ګلستان شي
دی باور چي به رسيږي تر منزله
د خيبر په لاررو ان چي کوم کاروان شي
په دوه ګوتو بي څوک نشي پټولی
په آسمان کي چي د نمرغو ندی روښان شي
زلزله په اندرشير بانسد کړي ګډه
راپيدا به اپو بدو کسي بل ملتان شي
د باري او به څه خري غوندی ښکاري
خدايه اخير کړي بيا څه چاري «په ميدان» شي
د خپلوا کو خپلوا کي ته چي ګوا ښيږي
کله کله دا انسان څومره نادان شي
د وختونوغم بي ملا کړي ورته ماته
که پښتون جلا اخته په غم د ځان شي
د پلکونو ګوذارونه ورته هيڅ وي
چي په سينه کي څوک کلک لکه سندان شي

بیلـوی چی یو پښتون دبـل له خنګه
په غضب دخـدای دی هسی غمازان شي
پښتو ننګ پښتو غیرت پښتو همت دی
پـه پښتو ترسره هـرعهـد و پیمـان شي
داخو یو خیبر تر منځ دی پـه دی خـه شي
بیل یی مه کړی که یی زرغرونه ترمیان شي
او یه خدایه! لـو یه خـدایه! لتا ځـارشم
که می دغه عرض قبول ستا په احسان شي
دغـه لراو بر پـه یونغـري را تول کـړی
چی پوره ستـادبنده دزړه ارمـان شي
هـم توفیق داتفـاق ورسره ور کـړی
چی له مخې دوحدت پـه لار روان شي
خدایه! څه به دی له لویه دره کـم شي
پښتانه کـه تول دپوهی خـاونـدان شي
بیا به نه مري ترقیا مته بـه ژونـدي وی
که په خوله یی دوحدت آب حیوان شي
چی دخپل مرض علاج و کړي پـه خپله
دازما دزړه زخمونه بـه درمـان شي
چی په سم تدبیر قـدم په لاره واخلي
هر مشکل چی ورځي مخـی تـه اسان شي

بیاهم خدایه! لویه خدایه! ستا په در کې
چې څوپایم داخواستونه هر زمان شي
ته دې خپل رحم او کرم دوباندې وکړې
سو کالي چې په نصیب دلوی افغان شي
په پښتو که دز لمو مینه تودہ شوه
دابو داحافظ به سر دوباره ځوانشي

(حافـظ)

دزمری میاشت ، ۱۳۷۰ راډیو

## د تیـرا مندره

گـوره دوینوپـه رنګـک مستـې څپـې
آشنا داسره‌سیلـی تیراته درځی
داپه کچر و بار داپتې ختـې
آشنا لږ پام ، چـې ستا سو خواته درځی
تیرا ، تیرا ، دمیرنیو تیرا !
پښـه‌دې و نه‌ښوییـږي
ممداځیږي ځیږي ، اوچتې شملې
درسره‌ښایي
چې و نه غولیږي
تیرا بچیـانـدې بهرمـه وباسـه
د «قاف» پیریان ورتـه لاسونه مـرورې
تیراچې ژبه درنه هیره‌نـه شـي
چې ستاخوزه ژبه د توکی ددفاع آیت دی
تیرا «عجب» خپله‌نوده غیزه کې ښه وسا ته

تیراخیره د«شهزاده»چې درنه هیره نه شي

تیرابچیان دې دتاریخ له کوڅې

داساطیرو اسیری باغچوته لاره با سی

تیرا«شمشاد»دې د«زیتون» ابادی

تیرانظرچې نه شی

دستر گو تورمی د«کابل» په مجمر

په اورسیځم چې نظر ماتی دې شی

دقاف پیر یاندرته لاسونه مروري

گوره داسره سیلی تیراته دوځي

داپه کچرو باردا پتی ځتی

آشنالزپام! چې ستا سو خواته درځي

تاخو په مااو یا په بل لیدلی

ماغم لړلي په ځپل ځان لیدلي

ما په کابل لیدلي.

احمدالله تکل

۱۳۷۰/۵/۲٤

# عجب شمعې بلیدلې!

دسکنې ما بنام شیبه وه عجب شمعې بلیدلې
در بنادناوې شپه وه عجب شمعې بلیدلې

زیر و بم شپه خوره او نغمې جوتې خورلې
دخیبر په بام سوره وه عجب شمعې بلیدلې

خوزه مینه و رید له لکه عطر خوریدله
هره خوامسته وزمه وه عجب شمعې بلیدلې

دجزباتو دور یشمود دلبر په پښتو لیچو
دخوانۍ نشه پرته وه عجب شمعې بلیدلې

دشیدا بلبل سینه کې دیاقوتو پلوشې وې
لرو برېوه نغمه وه عجب شمعې بلیدلې

پتنګ شمعه باندې وسو نسیم یو ورو هرې خواته
آوازه دعشق خوره وه عجب شمعې بلیدلې

دجانان تیره باڼه‌هم لاندې باندی پښتا نه وو

انګو باندی پهره وه عجب شمعې بلېدلی

چې رقیب به خو مره تورشو اننګی به‌هو مره سره شوه

محب و بادو مره ښایسته وه عجب شمعې بلېدلی

حسن هم ورته پښتون و خولګی هم داسی درواخله

دیا رمینه پښتنه وه عجب شمعې بلېدلی

چې غزل دخیال د مینګو غوته پرانیستله ګرانه

خوشبو یې بې پوپه دوه وه عجب شمعې بلېدلی

د ۱۳۷۰ کال دچنګاښ نهه ویشتمه نیټه

اهدأ

دستر پښتون غازی عجب خان سیمینارته!

عبدالهادی هادی

# غـزا

غـزا غـزاده خلکـو

زموزه میندوپه لاسونـو

دغـزاد بری دعا کو له

چی دچاریاراو دتـکبیردنارو غیزه کی

عجب شو پیـدا

* * *

آها پـه مخ مو ښه

پـه لارموسره گلونـه

بـری دتاسو نصیب

زموزدښکلی جهادیانو

چی دخلکودخد مت په نوم

مـوملاتـړلی

اوزموزدپیغلودسندرواو

اتڼ لـه نغمو

زموزدکلی!

لـه هرباﻡ

اوهره کوره داناری شوی اوچت .

غـزا غـزاده خلـکـو

غـزا غـزا ده خلـکـو

* * *

زمـوزد کلی :

دزلمیـودیـرو یادونـه ښاد

چی آغازیانـودچلهو

دلوګبوبـه اتـڼ وه پکی

چی دعجب عجب شملو

دغـزا ګانـوبـه

آغازووتری

چی شهزاده بـه غزاګانوتـه

کـی مـلا تـړلـه

* * *

تـیرا تـیرا!

ګـوره چی یـوړه

دعلی ددربـارشگو

دعجب جنازه

عیسی عیسی!

عجب دی غیزکی یـوسه

دملته بې‌لگی

پـه شنه قبر

دپردیوقدم

هغه زوریزی اوری.

تـیرا تـیرا

عجب دی غیزتـه یـوسه

چی هـره لـویشته

اوهـر کابـی دی

تکبیر کری

دعجب پـه نـامـه

تـیرا تـیـرا

عجب دي غیزتـه یـوسه

اسد ۱۳۷۰ کابل

عبدالهادی هادی

نشتر احمد جان

دارو ا بادعجب خان
آفریدی په یاد کښې.

# دهوړ په ژبه

دصیاد په خوشی مینه | دپنجرې بسلسله ژاړي
رهائی ورته ښکاریږي | دغراق داوښکو نښه
ستاد سپین اورون محل نه | دازما زندان اوچت دی
اسیران چه ورداخل شي | بیا تری نه اوځی په خوښه

له آموتر ابا سینده | یوه سیمه غزیدلې
سیلا نیاتو ته محبوبه | اتلا نوته مرغوبه!
سرسبزی اوښادابی شی | فنکاری د طبیعت ده
اوزماسره رشته شی | همکاری د طبیعت ده

داقبال په خوله خبره | چه دداسې سیمې زرکې
انخستلی شی په مته | دبازونو نه خراج
په دې سیمه کښې ځلیزی | په دې سیمه کښې څرگند دی
دښایست او دمیرانې | بې مساله امتزاج

ددې دنګو دنګو غرونو    دښو نو ځنګلونو
دشینکی دمیدانونو    درنګ په رنګ ګلونو
درقم رقم مرغانو    سیند ونواوخوړونو
دونو او بادونو    درقص وآوازونو
ساحری دهیریدونه ده    په چادخبر شیدونه ده

حریفان ورباندې پوی دی    زه ددې سیمې جوهریم
زه بې روح زه بې روان یم    زه بې بیخ زه بې ثمریم
ددې سیمې په لړمون کښې    ناقراره سمند ریم
هریو نیک لره نیک تریم    هریوبد لره بد تریم

تندورنه هضموومه    طوفانونه جذ بوومه
پرګنې رالېږ زومه    تولې سیمې خوروزومه
هم بدل له خلکوا خلم    هم بدل ورګر ځومه
جراتونه زیږومه    عظمتونه دیروومه
په قدم قدم کښې دلته    اتلان پیداکومه
چه په یو طرف روان شم    تمدیرونه بدلومه

دپښتون پښتونیت یم    دافغان افغانیت یم
داسلام شان وشوکت یم    دانساندزیب وزینت یم
دمکان استقامت یم    ددوران معنویت یم
زه آواز دمعرفت یم    زه مفهوم دشهامت یم

زه د زړونـو ارادت يم — هـمتونو كښې طاقت يم
كله دلـته رااوچـت يم — كـله هلته رااوچت يـم
دامحفل دعجب خان دى — عجب خان كښې شجاعت يم
عجب خان كښې ديانت يم — دپښتون قومي غيرت يـم
لـه بها ره تپوس اوكـئ — لـه خـزا نـه تپوس اوكئ
لەدې زمكې تپوس اوكئ — له اسما نـه تپو س او كئ
لەدې سيمې تپوس اوكئ — له او لسه تـپو س ا و كـئ
له قـفسه تـپو س اوكئ — لـه ا يلـه تـپو س اوكئ
د صياد پـه خـوى ميـنه — د پـنـجـرې بـابـله ژاړي
رهائى ورتـه ښكاريـږي — دنـسـرا ق د اوښــكو نـښه
ستادسپين اورون محل نه — د ازما ز ندان او چت دى
اسيرا ن چه ورداخل شي — بيا ترې نه اوځي په خو ښه

(۱۳۷۰ هـ ش داسد۷مه)

تـاج محمد بـاري

۱۳۷۰/۵/۷

# هـسکه شـمله

نوردی هرڅه زغم کوی شی، غلامي قبلوی نه شي
پښتانه داسی هسک شوی هیڅ پردي قبلوی نه شي
که شي مړه له لوږې، تندې، ساتي خپله شمله هسکه
مال وسرپه شرف ښندي بې ننګـي قبلـوی نـه شي
لـه آمو ترا باسینده ټول دیو بابا بـچي دي
مړه ټول د ننګ په کار کې بې پتي قبلوی نه شي
د میرویس، احمد شاه چارې، د ایمل او دریا لارې
د خوشحال د توري شرنګ هم خاوشي قبلوی نه شي
اور پامیر دی که سپین غر هم، سلیمان، د شمشاد څوکه
هیڅ زورګیرمنلی نـه شي، تسلیمي قبلوی نه شي
هندوکش دی که خیبر دی. که بـولان که تاتره ده
ټول په خپلو بچو پام کړي بې غوري قبلوی نـه شي

ورته لولي تاريخ پاڼې ، ورته ښيي ورو سته وړاندې

داملت آزاد هست شوي ، کهتري قبلوی نه شي

چې دغه سیمه کې لوی شوي ، پښتنې خاوری روزلي

اکبرخان دی ، عجب خان دی دربانی قبلوی نه شي

یاآزاد ژو ندون یامرګ څخو تـل له پاکـه خدایه غـواړي

میړني د پښتونوالي بنده ګی قبلوی نـه شي

# سندره

شمشاده

یــه شمشاده !
غاره دې هسکـه کړه
اوو ګـوره چې !
سپیـن غـر
لـه هسکې مری
نن د تیرا سنـدره
ستـا تـورو کسانوتـه دالی در لیـږي
غږیې ته اورې که نه؟
پـه تـورو غـرو د راوري
ببره ږیره
سپیره مخ
توري جامې په غاړه
په پښو څپلی

په سرشمسله

پـو شال دزیتوپـک پـه لاس

اوملا بندیې له کارطوسو دك دی

چې په هرر گ کې یې ویدې دی دخیبر دعظمتونسوتېږي

بل خوایې پرې چې نـېز دې

ستا دغیرت اوزخندانښه ده

جورپـسرلی دی دښـایست پـرگلبڼ

دادتیراسـندره

دا دسپین غره ننیتـره

دادبې وسوجالو هلو چـینه

داد (الیس)

اوتاندولښتو

دحیالوپته

لعل پاچا الزمون

# A Collection of Papers Read At
# The Gathering Comemorating
## The Anniversary of Ajabkhan Apridi

Published

by

hl Khusa Cultural

Society

Kabul

1991

Download from:aghalibrary.cm